بسم الله الرحمن الرحیم

# د محمد انور خان

# اڅــــــکزی

# خــــــاطرات

کتونکی : ننګیال بخر کی

## د کتاب ځانګړتیاوي

د کتاب نوم :: د محمد انور خان اڅکزی خاطرات

بیا کتونکی :: ننګیال بخرکی

کمپوزر :: عبدالکریم هیوادمل

ډیزاین :: عبدالکریم هیوادمل

د چاپ کال :: ۱۳۸۹ هـ

د چاپ شمېر :: ۱۰۰۰ ټوکه

خپرونکی :: داحمدشاه ابدالي خپرندویه ټولنه–کابل افغانستان

Zuiderkruis ۹۷, ۳۹۰۲veenendaal Nederland

+۳۱۳۱۸۵۱۹۰۰۴, babacenter@hotmail.com

د چاپ ځای :: امیري خپرندویه ټولنه – کابل افغانستان

جوي شېر څلورمه کوڅه امیري خپرندویه ټولنه

۰۰۹۳(۰)۷۰۰۲۹۰۱۱۴ ، ۰۰۹۳(۰)۷۰۳۰۳۰۳۸۰


# لـــــــــــــړلیک


| شمېره | ســــــــــــــرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | څو خبرې | ۷ |
| ۲ | سرېزه | ۱۲ |
| ۳ | د پښتانه بهیر لنډه پېژندګلوی | ۱۸ |
| ۴ | اڅکزی | ۲۱ |
| ۵ | سقاوي په افغانستان کې | ۳۳ |
| | د دولـــــــــــــت سقوط | |
| ۶ | ډسمبر ۱۹۲۸ ع جنوری ۱۹۲۹ ع | ۴۶ |
| ۷ | شاه عنایت الله خان ۱۶ جنوری ۱۹۲۹ | ۵۱ |
| ۸ | د سقاو اعلامیه دده په ژبه | ۵۲ |
| | د ســــــــــــقاو پاچهي | |
| ۹ | د جنوری څخه تر اکتوبر ۱۹۲۹ ع پوری | ۵۴ |
| ۱۰ | محمد انور خان اڅکزی | ۶۳ |
| ۱۱ | حاجي محمد انور خان اڅکزی | ۶۷ |
| ۱۲ | د خانانو بې واکي | ۷۵ |
| ۱۳ | د ګلستان پر خشکاوه مځکو دسیګیو تیری | ۷۶ |
| ۱۴ | دجرګي قبولي | ۷۸ |
| ۱۵ | د روشنفکرانو محفل | ۸۰ |
| ۱۶ | په کندهار کي سقاوی او حاجي محمد انور خان اڅکزی | ۸۴ |
| ۱۷ | د محمدهاشم خان او حاجي محمدانورخان اړیکي | ۱۰۶ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۸ | په کابل کي د مکافاتو غونډه | ۱۰۶ |
| ۱۹ | د ژوند ستونځي او ټکرې | ۱۱۱ |
| ۲۰ | پښتونخوا او حاجي صاحب | ۱۱۳ |
| ۲۱ | دملک تاجو د کلي واقعه | ۱۱۴ |
| ۲۲ | د کابل ګذارشات | ۱۲۰ |
| ۲۳ | د افغانستان ژوند | ۱۴۲ |
| ۲۴ | ویښ ځلمیان | ۱۵۹ |
| ۲۵ | ویښ ځلمیانو او محمد انور خان بندي کیده | ۱۶۹ |
| ۲۶ | د حاجي کاکا افکار | ۱۷۷ |
| ۲۷ | دده منتخب اشعار | ۲۰۲ |
| ۲۸ | دده مقولات | ۲۰۷ |
| ۲۹ | عکسونه او اسنادونه | ۲۱۰ |
| ۳۰ | د حاجي صاحب د خوښي عکسونه . . . . | ۲۱۱ |
| ۳۱ | ماخذونه | ۲۱۶ |


# ((ډالی))

*نوموړی کتاب چې د حاجی محمد انورخان اڅکزی د ژوند بیلي، بیلي برخي دي او محمد علم بځرکی په خپل ژوند کی لیکلي دی ننګیالي بځرکی هغه مسله ایدیټه په خپل مالی لګښت خپور کړی دی. نوموړی کتاب و شهیدی ستارې اڅکزۍ ته ډالی کوم دا په دې چې هغه د مرحوم حاجی محمد انور خان اڅکزي تر ټولو کشره لور او دهغه د لاري سیاسي مبارزه، هیواد پاله او د ډموکراسۍ دلاری ادامه ورکونکی شهیده ده. د ستارې اڅکزۍ روح دي ښاد وي.*

ننګیالی بځرکی

۲۰۱۰-۰۶-۲۹

# څوخبرې

ارواښاد محمد علم بڅر کی دی خدای و بخښني یو پر هېواد مین شخصیت، صادق سیاستمدار، روڼ فکره لیکوال او دملي فکر خاوند ؤ. دی په ځوانۍ کی د ((ویښ زلمیان)) د ملي نهضت غړی شو، ددې ګوند له تګلارې سره سم یې عملي مبارزه وکړه چې په دې لاره کی د زندان تر تورو کوټو پورې هم ورسېد خو په خپله مبارزه کی ټکنی او غړندنه شو او په مېړانه پرمخ ولاړ.

کله چې د ارواښاد شهید محمد هاشم میوندوال په مشرۍ په ۱۳۴۵ کال مترقی دیموکرات ګوند (مساوات) جوړ شو او ګڼ شمېر ویښ زلمیان پکی داخل شول، دی هم ددې ګوند غړی شو او خپله عملی مبارزه یې را ژوندۍ کړه. لږ وروسته شهید میوند وال د حکومت مغضوب شو او یو زیات شمېر ورځچاري چې دې ګوند ته ددنیا په مال او متاع پسې ورغلي وو، په شا شول خو ده د عملي مبارزې په میدان کی کار او قربانۍ ته ملا وتړله، میوندوال شهید شو



خو بڅر کي صاحب د ګوند ډېوه ژوندۍ و ساتله تر دې چې دخلقیانو په یوه ګوندیز دیکتاتوري رژیم کی هم ده ((مساوات)) غږ پورته کړ او خلقي زندان خوله ورته خلاصه کړه خوده خپله لاره و پالله او څو چې ژوندی ؤ د همدې لارې لاروی ؤ.

ده د عملي سیاست ترڅنګ د افغانستان پرسیاسي ژوند او د خپل سیاسي ژوند پر سوابقو لیکنې او څېړنې هم کولې، په دې اړه یې پاخه او لومړی لاس مواد راغونډول او مهم او ګټور آثار یې افغاني ټولنې او په ځانګړې توګه افغاني ځوانانو ته وړاندې کول.

ارواښاد بڅر کي د هېواد د معاصر سیاست پېښې چې هر چا یې د لیکلو جرئت نه درلود، په تارتاریز ډول اوبې له وېرې او ډاره لیکلې، خصوصاً دویښ زلمیانو پرغور ځنګ یې چې دی پکی فعال غړی ؤ یوځانګړی کتاب لیکلي او دغورځنګ پرغړویې دواقیعت له مخې قضاوت او لیکل کړي او زړور او ډارن کسان یې سره بېل کړي دي. ده ملي مترقي فکر درلود او د ښي او کيڼ افراط دواړونه یې کر که کوله او دواړه یې هېواد ته مضر ګڼل او ددوی د افشاکولو په لاره کی یې آثار او مقالې لیکلې.

ستاسو په لاس کی اثر ((محمد انور خان اڅکزی)) ظاهراً دده دیوه مبارز ملګري ژوند لیک دی خو دا ژوند لیک یې هم په مجرده توګه نه دی لیکلی بلکی د ملي تاریخ د یوه څپر کی بڼه یې ور کړې ده. ده په خپل دې اثر کی د پښتانه پر بهیر لنډې څو ګټورې خبرې کړې،

بیا د اڅکزیو د پښتني خېل پېژندنه ده او دآزادۍ په بهیر کی یې ددوی د پلونو نخښې روښانه کړې، بیا پر هغه پېر چې محمد انور اڅکزي ژوند پکی کاوه غبرېدلی او سقوي دوره یې چې اماني نهضت د انګریزي ښکېلاک په لمسون پکی سقوط وکړ، څېړلې او له سقویانو سره شوې مبارزې یې په تارتاریز ډول راوړې او داسې پېښې یې چې په حافظو او روایاتو کی وې پکی خوندې کړې دي.

د مرحوم محمد انور خان اڅکزي پېژندنې ته چې رسېږي بیانو له ماشومتوب نه دده پېژند کلوي کوي او دوخت په تېرېدو دده د اجتماعی او سیاسي شعور دودې پړاوونه او د نړۍ لید د تدریجی و سعتونو کړۍ شمېري او دده پر مصروفیتونو ، ماموریتونو او مبارزو مستند معلومات وړاندې کوي.

اروابناد بځرکي د اروابناد محمد انور اڅکزي د ژوند تکاملي پړاوونه په ډېره خوږه ژبه او په ډېر صراحت او پرېکړي قضاوت څېړلی چې یوه برخه یې د کتاب تر لوستلو وړاندې سره لولو:

((...... دی هغه وخت چې په ګلستان کی ؤ او د ژوند ابتدایي مراحل یې تېرول د محیط او ماحول تر تاثیر لاندې ؤ او د ګلستان یو شریف خان ؤ خو کله یې چې تعلیم او تربیه وشوه نو تریوې اندازې ده ته خپل خاندانی حیثیت او دریځ په ټولنه کی معلوم شو او د خانۍ دلیډر شیپ جذبه پکی ځلېږي خصوصاً د سیګیو تر معاملې وروسته ده ته په ټولنیزو کمزوریو کی فکر



پیدا شو چې د هغه په وجه د ټولنیز کرېډټ د پیدا کیدو په خاطر جرګې ته ورځي او له کلیوالي لیډرشپ څخه پښه غځوی او قوی لیډر شیپ ته ور داخلېږي، په دې وخت کی دی یو مطلق اڅکزي خان دی چې ټوله مبارزه یې د اڅکزو دپاره ده خو هغه وخت چې امان الله خان د سقاو دلاسه شکست خوري او پر افغانستان سقاو قبضه کوي نو دلته دی درانی کیږي او ټولنیزه جذبه یې نوره پراخېږي خوکله چې په مبارزه پیل کوي او سقاو د کندهار څخه پسې اخلي او دی کندهار ته دیوه موفق مبارز په حیث ورځي په دې مرحله کی دی د پښتونوالي په یوه وسیعتره حلقه کی ور داخلېږي ..... په دې توګه موږ ویلای شو چې دی لومړی ټینګ خان، بیا تکړه اڅکزی، بیا کلک درانی، بیا غښتلی پښتون او متقی مسلمان ؤ ....))

ما د کتاب دا څو کرښې د کتاب ترلوستو وړاندې ځکه ستاسو حضور ته وړاندې کړې چې دروښیم چې دا کتاب تشه سوانح او تاریخي پېښې نه دي بلکی یو خوږ کتاب دی چې له سوانح نګارۍ سره —سره دا روا پېژندنې، سیاست او ټولنپوهنې ژور موضوعات او په زړه پورې واقعات او روایات هم لري او نویو ځوانانو ته چې د هېواد په بحراني حالاتو کی ژوند کوي؛ د ژوند دلارې ډېوې او څراغونه بلوي.

زه په داسې حال کی چې د بخرکي صاحب اروابناده غواړم تاسو ته بلنه درکوم چې دا کتاب چې زموږ د معاصر سیاسی او ټولنیز تاریخ یو هیښووونکی او ویښووونکی باب دی په مینه او علاقه ولولئ او خوند او پند ترې واخلئ!

په درنښت

څېړندوی حبیب الله رفیع

د افغانستان د علومو اکاډمۍ مشاور

۷–۴–۱۳۸۹

زنبق څلور لارې، کابل، افغانستان



# سریزه

څوک چې په خپل قومی تاریخ او د خپلو مشرانو په ژوند نه وی خبر، و هغه مریض ته ورته دی چې حافظه ئې دلاسه ورکړی وی. نه پوهیږی، چې څه وکی – تیرېې هیروی حال ئې ورک وی. او آینده ورته مجهوله وی. ژوندی قوم باید د خپل پلار و نیکه کړه. چې عبارت د تاریخ څخه دی؛ په نظر کی ولری او ځان په خبر کی.

هر که نیا موخت از گزشت روز گار
هیچ نیا موزد زهیچ آمـــــوز گار _

((بی تاریخه خلک او هغه څوک چې تاریخ ئې هیر کړی وی، ژوندی خو وی مگر ارزش نه لری))[1] ځکه نو تاریخ زموږ د افتخاراتو او مذموماتو دواړه میراث دی. په ښو به افتخار کوو او هم به سیالی ور سره کوو او دمذموماتو څخه به عبرت اخلو او منع به راوړو څو په دوران کی د زمانی قوم سو چه سی.

[1]–دا وراشه د ښاغلی میر غلام محمد غبار ده.

تاریخ باید په نا قدانه نظر ولوستل سی. د رد او یا قبول په سترګه ورته ونه کتل سی. دهم دغه ډول په ویلو موږ کولای سو چې د تاریخ څخه درس واخلو.

د تاریخ مطالعه کونکی دوه ډوله دی. یوه ډله په دی نیت تاریخ ګوری چې د پخوانیو خلګو تقلید یا پیښنه وکی. بله ډله خلګ داسی دی، چې د پخوانیو خلګو کردار څیړی او هغه کړه (عمل) پر حال او آینده سموی او تطبیقوی.

هغه کسان چې غواړی خپل اوسنی ژوند د پخوانیو پر نقش قدم برابر او پر هغه پله ولاړسی، دا ډله قدامت پسنده، مرتجع او Conservative بلل کیږی خو ددی ډلی په مقابل کی هغه کسان چې د تاریخ لوستل په دی نیت کوی چې اوسنی نسل، تر دی موجوده حال څنګه راغلی دی. اوسنی حال تحلیل او تجزیه کوی — پخوانی ښیګڼی، چې د اوسنی مهال (عصر) سره سمون خوری قبلوی او بدګڼی یې مسترد کوی او په آخیر کی خپل اوسنی حال او آینده ژوند سموی. دی ډلی ته مترقی یا Progressive او یا تکاملی ډله وایی.

لکه څرنګه چې د تاریخ لوستونکی دوه ډوله دی هم دغه ډول د تاریخ لیکونکی یا مؤرخین هم دوه ډوله دی. یو مترقی بل محافظه کار. کوم مؤرخان چې محافظه کار دی هغه د سره څخه لا بد واقعات او پیښنی نه لیکی — یواځی هغه څه لیکی — چې د وخت او زمان په



عینکو کی ښه ښکاره کیږی. په استبدا دی رژیمو کی عموماً دا سبک رواج لری. په دی سبک کی شاګرد ته دانه معلومیږی، چې زموږ مشرانو کومی غلطی کړی دی، کومی کمزوری ئې درلودلی دی او موږ په کومو شرایطو کی تر دا اوسنی مهال را رسیدلی یو. او زموږ د اوسنی بدحالی یاخوشحالی اسباب څه دی؟ د افغانستان رسمی تاریخونه عموماً پر دغه سبک لیکل سوی دی. کله چې موږ تاریخ ګورو، د یو جهان افتخاراتو ډک افغانستان وینو او کله چې حال ته فکر وکوو — نو په عملی، اقتصادی، و غیره اوصافو کی تر ټوله جهان پاته یو — په دی طریقه تاریخ لیکل د لوستونکی خطا ایستل دی — وقوم ته فریب ور کول دی — او یو ناقابل تلافی جرم دی.

خو دویمه ډله چې مترقی مؤرخان دی کوشش کوی چې تاریخ د ښو او بدو دواړو په اوصافو ولیکی که څه هم دا ډول تاریخ ولوستونکو ته تریخ وی او خلګ دا ډول مؤرخان د متعصبه قوم دښمنه وغیره په نوموستایي — خو حقیقت دادی — چې تر محافظه کارو سلو مؤرخانو، مترقی یو مؤرخ وقوم ته ډېر خدمت کوی او د ستاینی وړوی.

په انفرادی ژوند کی هم هغه څوک چې همیشه د چا ثنا وصفت کوی نسبت و هغه چاته چې رښتیا ورته وایي، محافظه کار خلک ئې خوښوی. دا ډول خلګ د ((بانجڼ[۲] مزدوران نه وی دخان

[۲]- وایي یو وخت یوه خان پر دسترخان باندی د بانجڼو غندنه وکړه - مزدور دستی د خان خبره تائید کړه چې هو بانجڼ ډیر بد دی - خان دستی وویل بانجڼ ډیر ښه شی دی - مزدور وویل هو بانجڼ خورا ښه نعمت دی - خان مزدور ته وویل دمخه چې ما بانجڼ بد وبلل تا بد وبلل

مزدوران وی)) چې مصنوعی صفت سړی غافله کوی. او که څوک د چا نواقص ورته په ګوته کی او دی ځانته متوجه کی دا سړی واقعی او رښتینی دوست وي او دی کولای سی چې خپله اصلاح وکی. د پښتو متل دی چې ((دوست به دی وژړوی دښمن به دی وخندوی))

دخود ستایی یا ((ځان ستاینی)) تر ټولو اوږده دوره په تاریخ کی د مصر د فرعونانو دوره وه چې تقریباً څلور پنځه زره کاله ئې دوام و درلودی چې یوه محافظه کارانه دوره وه. حقایق د فرعونانو تر جبر لاندی پټ وه. په دغو زرها و کلوکی یو هم عملی اثر موجود نه سو– خو د یونان د دری یا څلورو سوو کالو په موده کی چې یوه مترقی دوره وه– انتقاد آزاد وو– دی خلګو و نړی ته هغه بنیادی اصول د علم او پوهی ورکړه چې تر اوسه لا یعنی ۲۳۰۰ کاله راهسته بشری ټولنه د هغو اصولو څخه کار اخلي او پر هغه اساس علم پرمخ بیایي. دا ځکه چې په هغه وخت کی د فکر آزادی او رشتیا ویل رواج وو. په هم دغه وخت کی پر پخوانی عقاید و تبصری وسوی –پر شخصیتو څیړنی وسوی د هغه وخت پر خود ساخته خدایانو اعتراضونه وسول. طبیعي څیړني وشوې– څو دوی موفق سول چې د علم بنیادی ټکی تر یوی اندازی کشف او نړیوالو ته معرفی کی او وورسته

اوس ئې بیا چې زه ښه بولم –ته یې هم ښه بولې –مزدور ورته وویل هو صاحب زه خو د بانجڼ مزدور نه یم– ستا مزدور یم څه چې ته وایې هغه زه وایم.



بیایه نړی کی چیری چې به استبدادی نظام وو هلته به ټولنه پر شا ولاړه– او چیری چې به جمهوریت وو هغه ټولنه به پر مخ ولاړه.

سوانح نګاری یا Biography بیوګرافی هم د تاریخ لیکلو یوه څنډه ((شعبه)) ده. زه د بابا سوانح په دی نیت نه لیکم چې زموږ قوم یا کورنی دی دده پر نقش قدم ولاړه سی– بلکه غرض مي دادی چې د پښتنانه بهیر ( دي سیاسي اوباز ،محمد انورخان) د شلمي پیړۍ په دې او څپرڅپانده بحر بېکران کې، څه لوړی ژوری لیدلی –او څه ښه اوبد ئې کړی دی– چې بهیر او کورنی ته ئې عبرت او یا د ستاینی وړ وګرزی. او دا ور معلومه سی– چې زموږ دا موجوده حال د کومو اعمالو پس منظر دی– چې تخم ئې پخوا کرل سوی وو– لکه څرنګه چې د آینده تخم اوس کرل کیږي.

د بابا په دی سوانح لیکلو کی تر ټولو لوی ګواښ (چیلنج) سره چې مخامخ وم هغه زما او دده نسبتی قرابت دی چې دا قرابت زما پر احساساتو تاثیر لری– او دا تاثیر طبعاً دده پر ښو باندی اضافه توب راولی– او پر بدو باندی ئې پرده غوړوی– او هغه حقایق چې لوستونکی توقع لری په لاس نه ورځی– خو دنېک مرغه زه و خپل دی ګواښ ته دهغه وخته څخه لا متوجه وم چې دده د سوانح لیکلو اراده می کوله. ما ډیر کوشش کړی دی چې دیوه بیطرف سړی په حیث دده سوانح په داسی مشکل ولیکم چې د عام اولس د استفادی موجب سی او مستند وی. دا چې زه په دی مقصد کی تر څه اندازی

موفقه یم قضاوت ئې پر لوستونکو دی. په سوانح نګاری کی تر ټولو مشکل اړخ هم دغه دی.

د افغانستان مؤرخانو د سقاوی د اړود وړ په باره کی ښه کافی معلومات وړاندی کړی دی. خو په کندهار کی د سقاوی په باب ډیر لږ معلومات لیکل سوی دی او اصلی حقایق پټ دي. په ډیره بیا د اڅکزو په باب اکثره تاریخونه ګونګ دی. نو ددې دپاره چې د اڅکزو نقش په سقاوی کی د کندهار او د نادر خان په کامیابی کی تثبیت سی، د ښاغلی محمد انور خان د سترګو لیدلو حال ضروری وو چې ولیکل سی، او د تاریخ دا ورکه څنډه روښانه سی — په دی لحاظ ما په افغانستان کی د سقاوی په عمومی ډول هم یوه مختصره تذکره را وړیده چې د سقاوی اهمیت او دهغه څرنګوالی ولوستونکی ته څرګند سی.



# د پښتانه بهیر لنډه پېژندګلوي

که پښتانه څوک د ارین پر ښه څیړی، نو تاریخ ئې عین درو او څلورو زرو کلو ته رسیږی — خو کې پر پښتنی ریښه را واخلو او غواړو چې پر خپله مځکه ئې بنګه معلومه کړو، نو تر ۱۷۶۰ع کاله وړاندی نه سو تلای — او هغه داسی:

تر ټولو د مخه د افغان کلمه په ((نقش رستم)) کی ویل سوی ده. د نقش رستم د کتیبې یا شنختنی زمانه د شاه پور اول ۲۴۰ع کال کیږی. په دی شنخته کی لیکل سوی دی ((ګونډ یفر اپګان رسماند)) Govndifer Algan Rismand وروسته بیا د Sprengling سپر نګلنګ په قول د اباګان لقب د ساسانی پاچا دریم شاپور ځانته غوره کی چې دی پاچا ۷۰ کاله حکومت وکی ((۳۷۹ تر ۳۰۹ع)) مؤرخین وایي چې افغان — ابګان او اپاکان یو توری دی. تر پورته لرغون والی او قدامت وروسته[۳] بیا په کال ۱۳۳۳ع کی یو مراکشی سیاح ((ابن بطوطه)) چې د غزنی څخه تیریږی او د ((کسی)) دغره یعنی د سلیمان دغره په ذکر کې یې د پښتنو یا افغانانو ذکر هم کړی دی. د پښتنو ذکر پر خپله مځکه هم دغه ترټولو لرغونی ذکر وو چې ابن

۳- د پټهان کتاب- د پروفیسر کیرو- صفحه ۱۲۳.

بطوطه کړی دی. خو په هندوستان کی ئې پخوا لا نوم خپور وو. تر اوسه چې موږ ته د لومړی بابا څه درک معلوم سوی دی، هغه کیس عبدالرشید دی. چې په حدودو کی د ۸۴۶ع – ۹۱۲ع یې ژوند کاوه. دده دری زامن وه. غرغښت – بیټ او سړبن، چې شجرهٔ ئې په لاندی توګه ده.




د ابدال یا Aptal ریښه ډېر تر اسلام دمخه لا پلټل کیږی او ددی نامه ذکر په ۴۰۰ میلادی کی لاسته او ارتباط ئې نیغ (په مستقیم ډول) د ارین قوم سره مؤرخین ښکاره کوی. و ابدال ته اروپائیان white huns هم وایي.



په اسلامی تاریخ کی لومړی څوک چې مشهوره دی، هغه ابدال دی چې د ترین زوی او د سیلمان د غرو په لمن کې اوسیدی. دا نوم په پخوانی پښتو ادبیاتو کی ذکر سوی دی. ابدال په حدودو کی د ۱۰۴۸ع پښتنانه قبایل پر ځان را ټول کړی وه، خو دده زوی زیرک خپل بهیر د سلیمان دغره څخه را کوچ کی او په کندهار کی ئې واړول. تر ده وروسته ملک پوپل د زیرک زوی خپل نفوذ او اثر تر شال (کوټه) را ورساوه چې د ۸۹ کلو په عمر وفات سو – بیا څه مده وروسته ملک بامی د قبایلو پر سرحداتو مقرر وو. شاید دی د بامیزو نیکه وی او بیا ډېر وروسته ملک سدو چې د سدوزو نیکه وو، د سرحداتو د حفاظت وظیفه ور وسپارل سوه چې تقریباً ۱۵۵۹ع کال تخمینېږی. ده خپل ټاټوبی (ځای) ارغسان وګرزاوه او حاجی زله خان چې دده سخت رقیب وو، دی ئې دمنځه یو وی.

محمد د بارګزو رئیس د محمد زو نیکه وو چې د سدونیکه ژوندی وو، یعنی معاصر دسدو نیکه وو. مرکز د سدوزو عموماً ښاری صفا وو، چې د کندهار د ښار څخه په زمانه کی تر ۳۰ میله وه ختیځ ته پروت دی.

داوه دسړبن دلوېدیز ښاخ لنډه پیژند ګلوی او د هغو شجره.

حاجی محمد انور خان د سړبن په دی پښه کی حمیدزی دی او دده کورنی شجره یعنی ((زنځی))په کی کتلی سی.

# اڅـــــــکزی

دا قوم د موجودیت په لحاظ چې د بارکزو په پښنه و ترل سی لږو ډیر په ۱۵۵۰ع کی ژوند کاوه. په دی وخت کی محمد د بارکزو رئیس ؤ بیا وروسته ددغه محمد څخه د بارکزو یوه پښنه جلا سوه چې محمدزي وبلل سول او بله پښنه د بارکزو اڅکزی دی.

اڅکزی د ډیر پخوا څخه په بیدیاؤ کی ژوند کوی. ځینی په ریګستان کی ژوند لری چې ټوله چول دی او یو شمېر خلګ بیا په توبه کی دی چې دا علاقه هم د مدنیت څخه هغومره لری ده لکه د ریګستان چول خو یو لږ شمېر د پښنین په آبادو سیمو کی اوسیږی.

څرنګه چې دوی د ډیر پخوا څخه لا د مدنیت څخه لری راغلی دی نو په دی لحاظ نه د مدنیت د رزالتو څخه خبر دی او نه د مدنیت د ښېګڼو څخه– یا په بله توګه دا خلګ ساده پټانان دی– پر خپل طبیعی انسانیت ژوند کوی. نه په خبرو کی تصنع لری. او نه په عمل کی نمایش. څه چې پر زړه ورسی او یائې په ستر ګو ووینی، د هغه ذکر په عین شکل کوی. د دوی دغه طبیعی فطرت د احمدشاه بابا (۱۷۴۸ع) ډیر خوښ وو. کله چې به پر لوی احمدشاه بابا د کندهار



تودوخی وغمیده نو به د توبې ویخو سیمو ته لکه مرغه او نورو ته ولاړی او هلته به یې د اڅکزو ددغو ساده او په زړه پوري خبرو خوند اخیستی– پر احمد شاه بابا اڅکزی خورا ګران وه– یو خو په دی وجه چې په خبرو کی ئې طبیعی سادګی موجوده وه او بل په تصمیم او عمل کی د یوی وراشې خلګ وه. څه چې بی نظر وو هم هغه بی عمل وو. د هم دغه ګرانښت په وجه احمدشاه بابا په کندهار کی د نورو قومو پر څنګ د اڅکزو په نامه هم یوه کوڅه و نوموله او هغه وخت چې اڅکزی لا دیوه بشپړ قوم په ډول نه وه پیژندل سوی او د بارکزی په نامه نومیده خو احمد شاه بابا د یوه ټاکلی قوم په توګه و پیژندل. د احمد شاه بابا دغه ګرانښت وو، چې د خپل ژوندون آخیری سولګی یې هم ددغه قوم په غیږ کی وه یعنی مړ هم د اڅکزو په غېږ کی سو. ((سراولف کیرو))په خپل کتاب پټان صفحه ۳۶۲ کی لیکی چې احمد شاه بابا د اڅکزو توبه د دوبی دپاره خوښه کړی وه او د اڅکزو د ساده خبرو څخه ئې خوند اخیستی ،، دغه رنګه کله چې تیمور شاه په ۱۷۷۳ع کی پایتخت د کندهار څخه و کابل ته الیش کی. نو په کابل کی هم تیمورشاه د اڅکزو پر نامه یوه کوڅه و ټاکله. لوی استاد خدای بخښلی عبدالحی ((حبیبی))صاحب په خپل کتاب پیښلیک کی ددی خبری تائید کوی.

خو کله چی د شاه شجاع دوره سوه. نو ګلستان خان اڅکزی په ۱۸۰۳ع کی و شاه شجاع ته د ملګری لاس ور کی او د زمان خان او

شاه شجاع په ملګری کی مړ هم سو. د ګلستان خان په باره کی ښاغلی کیرو په خپل کتاب پټان په صفحه ۳۷۸ کی لیکی: ((ګلستان خان چې پر نامه ئې د خواجه عمران دغره په لمن کی یو کلی هم سته د زمان خان او شاه شجاع په ملګری مړسو. دی اڅکزی وو او په ځوانمردی او وفاداری کی ئې ساری نه درلودی او یو وخت په پېښور کی د شاه شجاع ګورنر یعنی والی وو چې د پېښور خلګ ئې تر اوسه په ښه نامه یاد وی.))

دا د ګلستان موجوده کلی د ګلستان خان په نامه دی، لکه د عبدالله خان کلی، عنایت الله کلی دغه رنګه د ګلستان کلی. د ګلستان خان اڅکزیت هم ثابت دی. خو د ګلستان د اوسنی حمیدزو په زړې ((شجره)) کی د ګلستان خان نوم نشته. دا موضوع د آینده تحقیق موضوع ده. خو هغه وخت چې د شاه شجاع زوی (پر ۱۷ د اګست ۱۸۳۹ع) –شاهزاده تیمورشاه د پېښور څخه د خیبر پر لار د جلال آباد پرلوری کابل ونیوی او پخپله شاه شجاع د انګریزانو په مرسته د کندهار څخه و کابل ته ځان ورساوه، نو امیر دوست محمد خان د کابل څخه فرار سو و بخارا ته ولاړی او هلته د بخارا آمیر دی بندی کی. دغه وخت چې امیر دوست محمد خان ځی او هیواد د دښمنانو په لاس کښیوزی نو افغان ملت د انګریزانو سره د غزا اعلان کوی. په دغه غزا کی غازی عبدالله خان اڅکزی او نور افغانی سر تیری ګډون کوی.



په ۱۸۴۱ع کی غازی عبدالله خان د انګریزانو او شاه شجاع پر ضد په کابل کی را پورته کیږی. مکناټن او الګزانډر برنس چې د انګریزانو خاص استازی وه؛ په قتل رسوی او وروسته تر دی پخپله شاه شجاع هم د غازیانو په لاس په قتل رسیږی. (په دریمه د اپریل ۱۸۴۲ع) په دی توګه انګریزانو په افغانستان کی سخته ماته وخوړه. کوم انګریزی لښکر چې د کابل څخه و پېښور ته تلل هغه ټوله د مجاهدینو په لاس د جلال آباد پر لار په قتل ورسیدل– په دی غزا کی د انګریزانو دیرش زره نفر ووژل سو. خو فقط یو نفر ډاکټر ولیم بریډون Dr. William Brydon ژوندی پاته سو او پخپله لوی مجاهد غازی عبدالله خان اڅکزی د روژی پر ۲۷ د انګریزانو په لمسون په شهادت ورسیدی.

داسی معلومیږی او یا ګمان کیږی چې دا قوم یواځی د توری مړونه نه وه بلکه په علم او ادب کی هم بی ذوق ندی پاته سوی خو دا چې تاریخ ندی قید کړی دا عذر ټوله پښتانه بهیر ته وړاندی دی، د محمد هوتک په ((پټه خزانه)) کتاب کی د حافظ عبدالطیف اڅکزی ذکر سوی دی، چې اغلباً په حدودو کی د ۱۷۲۹ ئې ژوند کاوه. دی د پښتونخوا په بوستان کی اوسیدی دده په باره کی پټه خزانه داسی لیکلی:

دا شاعر د فضلاو سر آمد دی. په طبع کی ظرافت لری. او اوسی په بوستان کی. د پلار نوم ئې غلام محمد دی کندهار ته چې

راغی په ((ماشور)) کی اوسیدی. عبدالطیف اڅکزی د قران شریف حافظ وو. علمی معلومات ئې درلودل. څرنګه چې ئې په طبع کی لطافت موجود وو نو ډیر خواږه اشعار ئې ویلی دی. ده قصی او حکایتونه نظم کول، چې اورېدونکو به عبرت ځنی اخیستی او خوند به یې ورکاوه.

دغه رنګه په ۱۹۰۹ کی چې د افغانستان منورینو او روشنفکرانو د سیاسی اقتدار د حاصلولو دپاره هڅی کولی او د مشروطیت دپاره تحریک شروع وو نو ښاغلی محمد حسن راقم اڅکزی پکښې فعاله برخه واخیستله – دا تحریک را ژوندی سو، ددی تحریک مطالبات د انګریزی حکومت پرضد وه چې د افغانستان په داخلی امورو کی ئې مداخله کوله – او هم دغه رنګه د امیر حبیب الله خان د دکتاتوری مخه نیول وه – چې هیواد ته یو قانونی او مشروطه نظام راسی. خو د وخت دیکتاتورانو دغه تحریک و نه زغملای سو – او ددی تحریک زعیمان ئې یا بندیان کړه – او یائې و توپ ته وتړل مړه ئې کړل او یائې په بندیخانو کی و وژل.

ښاغلی محمد حسن راقم اڅکزی هم دمشروطه خواهانو د هغو بندیانو څخه وو چې په ۱۹۱۶ع کی یې په بندیخانه کی خپل ژوند د لاسه ورکي او وفات سو. دده په باره کی استاد حبیبی صاحب په خپل کتاب ((پیښلیک)) صفحه ۲۲۸ کی داسی لیکی: محمد حسن راقم اڅکزی شاعر او محاسب او مؤلف چې په ۱۳۲۷



ق کی د مشروطیت په حرکت کی بندی سوی وو، په محبس کی وفات شو. دغه رنګه زموږ معاصر شخصیت ښاغلی عبدالسلام اشیزی اڅکزی چې نیم قرن ئې د انګریزی سلطې پرضد د پښتنو د آزادی دپاره مبارزه وکړه – او انګریزان ئې دی ته اړ کړه، چې دده کتابونه مصادره او ده ته ډول ډول زجرونه ورکی. خوده د پښتنی هوډ په اساس خپلی اتش بیانی ته دوام ورکی او هر ډول خواری ئې قبولی کړی. ښاغلی عبدالسلام اشیزی د پښتونخوا د چمن اوسیدونکی وو. ده ته د کوږک ستوری هم ویل کیږی – پښتانه په ډیره بیا د پښتانه منورین دده و مبارزه ته د پښتنو په تاریخ کی خاص ځای ورکوی. ده په خپله شاعری ددی سیمی په پښتنو کی نوی روح و کلی ؤ چې د سیمی خلګ ئې په خورا ښه نامه یادوی.

د ګلستان د حمیدزو اڅکزو پاخون: دګندمک د معاهدې را وروسته (کله چې امیر شیر علی خان د پاچاهی څخه ایسته سو او زوی ئې محمد یعقوب خان په ۱۸۷۹ع کی د انګریزانو سره د ګندمک معاهده وکړه) ددی معاهدی له مخی افغانستان خیبر، کرم، کوټه، پښین، سیوی، لورلایي چې بوری هم ورته وابي و انګریزانو ته ور پریښودل. په دی توګه انګریزان د کوږک وغره ته ورسیدل او چمن ئې تصرف کی او تقریباً دننه په لسوکالو کی ئې د ګاډی لاین ترچمنه را و رساوه.

دی پیښې ټوله پښتون سره وښوروی، او هر چا د خپله وسه سره سم په فکرو عمل پیل وکی – په دی وخت کی د ګلستان حمیدزی د انګریزی حکومت تر زور وري پام لرنی او مراقبت لاندی وو، ځکه دوی ته د غازی عبدالله خان اڅګزی او ګلستان خان مبارزوی قدرت معلوم وو. نو ځکه دوی پر عبدالله خان کاریز او ګلستان باندی ټاکلی توجه درلوده– څو هغه وو په ۱۹۲۹ع کی د ((انجمن وطن)) تحریک د ګلستان د خوا نینوله خوا د نورو پښتنو په ملګری پیل سو– په دی تحریک کی بلوڅانو هم ګډون درلودی. د دی تحریک اغراض و مقاصد د بلوچستان حقوقی حیثیت تثبیتول وو او هم د هندوستان د کانګریس حزب سره اوږه پر اوږه کار کول وو.

د انجمن وطن د تحریک د موسسه څخه جناب عبدالصمد خان اڅکزی – عبدالسلام خان اڅکزی او محمد ایوب خان اڅکزی وو– دوی ددغه تحریک په چلولو کی په وارو د بندیخانو و تورو کوټو ته ورغلی دی بهوک هړ تال (دلوږی روژو) ئې ۲۱ ورځی کړی دی او نور ربړونه ئې لیدلی دی. خو دقوم د مفاداتو په مقابل کی ئې شپوه نده راوړی.

تر هغه وخته چې انګریزان وه، ددوی مبارزې د متحد هند د پاره د کانګریس په ملګری دوام درلودی– او غوښتل ئې چې بلوچیستان سم د هندوستان د نورو صوبو سره حقوقی حیثیت ولری– خو کله چې انګریزان ولاړه، هندوستان پردوو حصو وویشل سو چې



یوه برخه ئې بهارت او بله برخه ئې پاکستان سو– په دی وخت کی پاکستانی پښتانه یا ښه جمله به دا وی چې پښتانه منورین په دی نه وه خوښ چې په پاکستان کی دی ضم سی. نو په پیښور کی خان عبدالغفار خان او په بلوچستان کی عبدالصمد خان اڅکزی او محمد ایوب خان اڅکزی د پښتونستان د پاره تحریک شروع کی. د پښتونستان ددی تحریک سره د افغانستان د حکومت همنوایي هم موجوده وه چې په سلهاو اڅکزی او نور اقوام د تحریک د چلولو دپاره افغانستان ته مهاجر سول او افغانستان هغو ته د قدر په ستر ګه وکتل. د مهاجرو په دی جمله کی د اڅکزو په ارتباط محمد ایوب خان اڅکزی د ذکر وړ دی چې د پښتونستان دپاره ئې (تقریباً ۲۷ کاله) په هجرت کې تېر کړه او په ۱۹۷۶ع کی په کابل کی په انتهائې بینوایي کی وفات سو. او خانصاحب عبدالصمد خان اڅکزی خپل تحریک د پښتونستان په بلوچستان کی وچلاوه او دوام ئې ورکی او بیا پر ده باندې د دښمنانو په لمسون په کوټه کې یو بم و غورځول سو چې په هغه کی دی شهید سو. د خانصاحب عبدالصمد خان اڅکزی وروسته دا ګدی ښاغلی محمود خان اڅکزی اشغال کړه او د پښتونخوا د تحریک مشر سو. د پښتونخوا پارټی د پاکستان د حکومت اپوزیشن راغلی ده او هم ئې د سهیلی پښتونخوا ((بلوچستان)) د پښتنو ډیره حقوقی مدافعه کړی ده. دوی د یوه طرفه د پاکستان د حکومت اپوزیشن دی چې پښتنی حقوق ورځنی په لاس راوړی،د بل طرفه د

بلوڅو ایوزیشن دی، چې د پښتني حقوقو دفاع وکی. دی پارټۍ د پاکستان د پښتنو دپاره ډیری ستری قربانی د سرو مال ورکړی دی او هم ئې ورکوی. خو د حکومت په اپوزیشن او مخالفت کی تر دی حده غرق دی چې کله کله داسی تیروتنی هم کوی چې د هغه سمول بیا ناممکن وی.

وایي چې د هر عمل او هری غلطی جبران او تلافی ممکن دی چې وسی خو اجتماعی غلطی هیڅ جبران او تلاقی نه منی — باید و جزاته ئې څوک ځان اماده کی. مثلاً که په اقتصادیاتو کی څوک په تجارت کی تاوان وکی ممکن بله پلا بیا ګټه وکی او ددی تاوان تلافی په وسی. که په لمانځه کی سړی خطا وزی په سجده سهوه به هغه خطا را وګرزوی — خو اجتماعی خطا وتلی بیله دی چې د هغه ثمر ووینی بله بدله نه لری. نو پر دې اساس د پښتونخوا دا خطا چې لاندی ئې ذکر کوم هیڅ تلافی نه لری او ثمر ئې باید وڅکی.

هغه وخت چې خانصاحب عبدالصمد خان اڅکزی او خان عبدالغفار خان د پښتونستان غوښتنه وکړه، نو د افغان حکومت او اولس و دی نعری او مطالبه ته لبیک ووایه. او د پاکستان برخلاف ډیر پاکستانی پښتانه افغانستان ته مهاجر سول. او افغان حکومت او اولس دوی په زړه پوری ونیول او خپل ورونه ئې وبلل. خپله نیمه ډوډی ئې په شریکه کړه — خو کوم وخت چې د افغانستان پر پښتنو روسی یرغل وسو او د یوه لوی مصیبت سره مخامخ سول — ولس



ددی یرغل په مقابل کی قیام وکی، هره ورځ به یې د خپلو سرو قربانی ورکوله. ځینو و پاکستان ته هجرت را وکی. ځینی چې د جنګ وه هم هلته ورته سنګری سول. خو دپښتونخوا پارټۍ چې د پښتنو نمایندګی کوی؛ د افغانستان د مهاجرو پښتنو پرضد یې په پاکستان کی مخالفت پیل کی — پښتانه ئې تهدید کړه. د روس یرغل ئې پر افغانستان جائز وباله او د روسی نظام د کاسه څټو (لکه پرچم او خلقیان) سره یار غار سوه — او د بلوچستان په کوڅو او بازارو کی د پښتونخوا دا شعار چې ((بهګوړو واپس جاو)) یعنی را تښتیدلو بیرته واپس ولاړ سی، ولیکل سوه. خو د پاکستان نورو قومو لکه پنجابی او سندهی ورته ښه راغلی ووایه.

دا یوه داسی غلطی وه چې پښتونخوا ئې د تاریخ په دوران کی نه سی پاکولی.

دوی دپاره ددی چې د پاکستان د حکومت په مخالفت کی وی؛ د خپل ځان تر تاوان هم تیر دی او پر دغه پله تر اوسه لا د طالبانو په وخت کی هم روان دی.

داسی معلومیږی چې د پښتونخوا د پارټۍ پالیسی جوړونکی مشران داسی فکر کوی چې سیاسی پارټۍ باید د قوم رهبری وکی — په داسی حال کی چې د رهبری کار د عالمانو او فضلاؤ دی.

سیاسی پارټی باید د قوم نمایندګی وکی چې قوم څه غواړی، نه رهبری. ګرد عمر هغه سیاسی پارټی کامیابه وی چې د قوم نمایندګی کوی – دا دمدرسی او یونیورسټی کار دی، چې د عصر و زمان سره قوم رهبری کی.

ښه اوس به نو تر دی موضوع را تیر سو. بیرته به د اڅګزو و مشایخوته راسو.

د اڅکزو بل لوی شخصیت حاجی غریب شاه وو چې په ((مغاش)) ئې شهرت درلودی. ده د روسی یرغل په وختو کی د روسیانو سره خورا درانه جنګونه و سر ته ورسول او د پښتنود ازادی دلاری یو لوی قوماندان وو– او په روسی جهاد کی دده ونډه ډیره ستره وه. ده په دی جنګ کی اسلحه په خپلو پیسو رانیوله او جهاد یې په کاوه. دی د ملی محاذ قوماندان وو او د روسیانو په وخت کی په بیلو بیلو وارو کی دری واره زندانی سوی وو – دی د ظاهرشاه د طرفدارانو څخه وو او غوښتله ئې چې په افغانستان کی ټولنیزه روغه راسی. خو په ۱۹۹۰ع کی د زړه د عارض په وجه وفات سو. په مخه ئې ښه.

په عمومی ډول داسی معلومیږی چې په بلوچستان کی پښتانه یو داسی قوم دی، چې سترګه وراوړی او د دښمن په مقابل کی د خپل حق دپاره مبارزه کولای سی اوپه دی پښتنو کی بیا اڅکزی یو خاص دریځ او مقام لری. سراولف کیرو په خپل کتاب پټان کی په صفحه ۵۱۸ کی راوړی دی – چې:



((په بلوچستان کی یواځی پښتانه د اهمیت وړ دی، خو په شمیر کی دا خلک (هغه وخت ۱۹۵۰ع) لږدی یعنی پنځه لکه دی. که اڅکزی ځنی وباسی دا نورو خلګو ته موږ غښتلی نه سو ویلای)) دا چې په سقاوی کی د اڅکزو رول څنګه وو؟ د حاجی محمد انور خان په سوانح کی یې په مفصل ډول لوستلی سی.

# سقاوي په افغانستان کې

تر لومړی نړیوال جنګ وروسته په اسلامی جهان کی په ډیره بیا ترکیه او افغانستان کی د تجدد روحیه پیدا سوه— په ترکیه کی ددی نهضت مخ کښ مصطفیٰ کمال اتاترک وو، خو په افغانستان کی دا جنډی غازی امان الله خان پر لیڅه واخیسته. او روښنفکران ئې ونمانځل. هغه روشنـــفکران چـې دده پـــلار د (مشروطه Constitutionalism )په تور بندیان کړی وه— هغه ئې ټوله ایله کړه او امان الله خان ددوی څخه په دولتی چارو کی مشوری هم اخیستلی— آن تردی چې پر رسمی کارو باندی ئې هم دوی وګمارل. که څه هم په دغه وخت کی احزاب جوړولو قانونی بڼه نه درلوده خو بیا هم په غیر رسمی ډول د روښنفکرانو دوی ډلی جوړی سوی وی— چې یوه ډله په ((افغانی ځوانانو)) پیژندو (مشهوره) کیده چې دا ډله نسبت کیڼ خوا Leftwing یا چپی وه— چې ددی ډلی ډیر غړی د نادر خان په وخت کی یا په بندیخانو کی مړه سوه یا و توپ ته وتړل سول. لکه عبدالرحمن خان لودین،تاج محمد خان پغمانی او داسي نور. بله ډله که څه هم اوسنی دود ((اصطلاح)) ((کیڼ لاسی)) نه وه خو ښی لاسی ((راست)) هم نه وه. په دی ډله کی عبدالهادی خان



داوی په ۱۹۳۳ کی د نادرخان په وخت کی ۱۳ کاله بندی سو— فقیر احمد خان تر بند وروسته اعدام سو، داسی نور.

د امان الله خان په دوره کی دی روښنفکرانو د قدر وړ ملی خدمتونه کول. ملی کتابخانه ددوی په توجه په کابل کی جوړه سوه یوه انتقادی جریده د ((ستاره افغان)) هم ددوی په ذریعه را وتله. دی کسانو تر ډیری اندازی اولسی ګرانښت (محبوبیت) هم تر لاسه کړی وو.

په دی وخت کی (مارچ ۱۹۲۴) د خوست څخه یو بیرته پاته (ارتجاعی) پاځون را وپاڅیدی چې عبدالکریم نامی ئې مشری درلوده. عبدالکریم خپل ځان د امیر محمد یعقوب خان زوی باله—او د انګریزی هندوستان څخه را شوه سو— څرنګه چې د علاقی خلګ د مامورینو دلاسه په عذاب وه— نو ده عبدالکریم دا تبلیغ چې په افغانستان کی قانون چلیږی او قانون د مذهب کوټه کونکی، ناچله کونکی او ناسخ دی. ملایانو ګډون ور سره وکی. او ښوربښ ته ئې وده ور کړه او دلوګر پر لور ئې مخه را وکړه. دی اړودوړ د هیواد و اصلاحی رفورمو ته ډیر تاوان ورساوه.

خو کله چې په ۱۹۲۷ع کی امان الله خان د ایټالیې په دعوت اروپا ته ولاړی او په ۱۹۲۸ع کی بیرته کور ته را ورسیدی نو د هیواد اصلاحات ئې بیرته د سره شروع کړه— او په خورا شدت ئې شروع کړه— لومړی ترهر څه ئې په ۱۹۲۸ع کی د ((ښځو د حمایت

انجمن)) جوړ کی او د ۱۲ تنو نماینده ښځو په ذریعه چې د کابل څخه دی، ددی انجمن زیرمه ئې په لاس کی واخیستله — دغه رنګه د ((ښځو د تدبیر منزل)) ښونځی د جرمنی او ترکی معلمانو په ذریعه شروع سو — د پغمان په لو دولتی جرګه کی چې په ۱۹۲۸ع کی جوړه سوی وه، دا لاندی اصلاحات تصویب سوه. علاوه پر اداری اصلاحاتو، د صغیرانو واده چې سن ئې د ۱۸ تر ۲۲ پوری نه وی رسیدلی ممنوع سو. د پردی په حق کی آزادی راغله، د هر چا خوښه چې حجاب کوی که نه او پر ملایي باندی شرط د شهادتنامی کښیښنودل سو، مالیه زیاته سوه، یعنی د هر سړی پر سر ۵ افغانی کښیښنودل سوی چې په دی به توپک او نور جنګی لوازمات رانیسی — دغه رنګه امان الله خان د ملکی او نظامی مامورینو مجلس جوړ کی چې د خپل آینده لس کلن پروګرام اعلان ئې هلته وکی چې په آئنده کې به د مملکت چاری و صدر اعظم ته سپارل کیږی — په دی مجلس کې یې یو شمیر نجونو ته چې تر کیې ته د تحصیل دپاره لیږل کېدې خدای په امانی وویل چې لڅ مخ وی. په عسکری کی ئې مریدی او د پیری سلسله ختمه کړه — دغه رنګه مامورین د ډیرو ماندینو کولو څخه منع سول. ابتدایي تحصیل د نجونو او هلو کانو ئې په مکتب کې جاری کې او دا ئې اعلان کی چې د ښځو تعلیم به په ټولو ولایاتو کی د افغانستان جاری کیږی — او وې ویل چې د ښځو شفاخانی ته وسعت ور کول د دولت د لومړنی پروګرامو څخه دی —



او هم ئې د خارجی ښځو سره د عسکری او ملکی مامورینو واده ممنوع اعلان کی — ص ۱۲۵۶

دا ډول اصلاحات په لومړی سر کی ښه و نمانځل سووه، خو څرنګه چې د خان، پیر او ملا د طبقاتی مفاداتو سره یې ټکر درلودی، نو دوی هغه پخوانی قرون وسلطائی ژوندون ته مخ ور وګرزوی او د مذهب د سیوری لاندی ئې پناه واخیسته — ځای ځای بغاوتونه هم کیده مثلاً په زمیندارو کی دامین جان بغاوت چې د عبدالعزیز خان والی په ذریعه د منځه ولاړی او په دی بغاوت کې هغه اوه تنه چې برخه ئې پکښې اخیستی وه دشاه په حکم اعدام سول — د افغانستان د اصلاحاتو پرضد نه یواځی داخلی ارتجاع تحریک کاوه، بلکه خارجی سیاست د انګریزی هند هم دی تحریک ته پیک وهی، یوه پلا خو نژدې وه چې افغانستان د روس سره هم د بخارا پر سر ونښلی، خو دا موضوع د مصلحت دلاری پر صلح تمام سوه —

دا اختلافات ورو ورو ډیریده څو د کابینی او دربار تر منځ اختلافاتو ریښه ونیوله. یوه دسته خلګ دشاه د سریع اوچټک اصلاحاتو طرفدار وه — خو بلې ډله خلګو نسبتاً ارتجاعی ښه درلوده.

عبدالقدوس خان صدر اعظم په ښکاره یو لیک په ۱۹۲۰ کې و شمس المشایخ مجددی ته ولیکی چې د شریعت له مخی باید مشروطه خواهان ټوله قتل کړه سی او د مشروطې طوق لعنت د

افغانستان د اولس د غاړی څخه ایسته سی او په دی باره کی ئې د کندهار د علماؤ څخه هم نظر اخیستی وو– خو د کندهار علماؤ مشروطه خواهان د قتل وړ نه وه بللی، البته مشروطه نظام ئې غندلی وو– دا اختلاف و عسکری او فوجی قشلو او چوڼیو ته هم و رسیدی. رشوت خوری پیدا سوه– دولت تر دغه وخته کومه استخباراتی یا د سی آی ډی کومه اداره او مؤسسه نه درلوده چې د حالاتو څخه باخبره وی– د هیواد ذمه واره شخصیتونه دلوی لوی بانډو سره همکاره سول–

**په پکتیا کې**: په ۱۹۲۴ع کی تر ټولو لوړی اغتشاش کې د پکتیا په ولایت کې پېښ سو– په دی کی په مستقیم ډول انګریزانو لاس درلود– ځکه د ډیر پخوا څخه لا انګریزانو نه غوښتل چې د هندوستان په دروازه کې دی یوقوی اسلامی افغانستان وی. انګریزانو په ۱۹۲۱ع کی افغانستان ته یو یاداشت ور کړی وو– چې د شوروی کونسل خانی دی په افغانستان کی وتړل سی او دشوروی سره دی مناسبات قطع سی– او په عوض کی دی په هرات او غزنی کی و انګریزی کونسل خانو ته ځای ور کړه سی– او که داسی و نه سی نو د انګریزانو او افغانستان مناسبات او علایق به سره قطع سی– ددی غوښتنی په سبب یو لوی مجلس په شاهی ارګ کی جوړ سو او پر



مسئله غور وسو– خو ټوله مجلس په اکثریت سره د انګریزانو دا غوښتنه د افغانستان د استقلال منافی و بلله او رد ئې کړه.

کله چې انګریزانو ولیدل ددی لاری کار نه کیږی، نوئې د افغانستان په داخل کی د اغتشاش د پیداکولو هڅی وکړی. څو په ۱۹۲۳ع کی دوه تنه ملایان د پکتیا ملا عبدالرشید او ملا عبدالله ګردیزی د منګل او ځدراڼو په ملګرتیا یاداشت ترتیب کی چې په هغه کی غوښتنه سوې وه چې قانون دی اصلاح سی او پر شریعت دی برابر سي خو شاه ورته ولیکل چې دا قانون د شرعی علماؤ تر نظر لاندی جوړ سوی او پخوا دا تصویب سوی دی. تاسی راسی ددغو شرعی علماؤ سره مباحثه وکی. خو ملایان نه راغله او د شریعت د پاسداری په عنوان ئې قیام وکی او ځینی خانان ورسره شریک سو– دغه رنګه د کاپیسا او پروان په ولایاتو کی هم د حکومت پرضد پروپاګنډونه شروع سوه– ننګرهار هم ددغه پروپاګنډ تر اثر لاندی راغی.

په ۱۹۲۴ع کی دغو اغتشاشیونو ګردیز محاصره کی– او انګریزانو هغه اسلحه چې په خارج کې افغانستان رانیولې وه په هندوستان کی معطل کړه– دا اغتشاش تقریباً یو کال دوام وکی او تقریباً د ټوله افغانستان د یوه کال مالی مصرف ور باندی وسو– انګریزانو په دی وخت کی عبدالکریم نامی چې دمخه ئې ذکر وسو، و محاذ ته را شوه کی او ده خپل ځان امیر عبدالکریم وباله.

په دغه وخت کی هر چیری بد امنی غوړیدلی وی. په خوګیانو کی د دوو خانانو ترمنځ خود به خانه جنګ شروع سو. په کابل کی نعمت الله قادیانی د استعمار په ګټه تبلیغات کول. په دغه وخت کی یو بل چې ځان یې سید سعدی افندی باله او مشهوره وه چې د عبدالقادر جیلانی اولاده ده؛ افغانستان ته راغی او امان الله خان دا سړی ښه استقبال کی او ډیری تحفې ئې ورکړی. په دغه وخت کی امان الله خان پر (نور المشایخ مجددی حضرت فضل عمر) مشتبه سو– خو شمس المشایخ مجددی حضرت فضل محمد چې د استعمار پرضد ئې ډیر اجرآت کړی وه او د امان الله خان ملګری وو د حضرت فضل عمر د خلاصون سبب سو نو دی د افغانستان څخه و ایستل سو او په ډیره اسماعیل خان او کوټه کی ئې سکونت اختیار کی– خود افغانستان حکومت د هند د حکومت څخه وغوښتل چې دی دی د افغانی سرحد څخه لیری وی. چنانچه بیا وروسته دی و بمبیی ته ولیږل سو.

کله چې عبدالکریم خان امیر باله سو نو د افغانستان حکومت د هغه اعلان داسی وکی چې آمیریت اوس افغانستان ته د هندوستان څخه واردیږی– په دی سره افغانی خواص و عوام ډیر خوابدی سول او فکر ئې وکا چې د پکتیا دا مداخله مذهبی نه بلکه سیاسی ده او هغه هم د انګریزانو په مرسته. ګرد اولس د خپل حکومت په تقویه کولو پیل وکی او یو موټی سو. د هیواد په هر ګوټ کی چې بې نظمی



راغلی وی، هغه د اولس په مرسته د بیخه وختلی– د پکتیا شورش شکست وخوړی او ۸۰ کنډکه عسکر په پکتیا کی ځای پر ځای سول. او عبدالکریم هندوستاني فراره سو، هندوستان ته ئې ځان ورساوه– د ځدراڼو خلګو ملا عبدالله او ملا عبدالرشید دستګیره کړل او دولت ته ئې وسپارل. دوی او ۲۵ نفره نور تر نظامی محکمې وروسته په ۱۹۲۵ع کی چارماری یا ګلوله باران سول. که څه هم دولت پر اغتشاشیونو باندی په جنګ کی لاس بری سو. خو په اصلاحاتو کی او په ریفورم کی (چې د یغمان د ۱۹۲۴ع په لویه جرګه کی یې تصویب کړی وو) پاته راغی. ۱۲۷۳

هغه تصویب ئې پر دغو ۱۹ فقه و داسی وکی او شاه هم مجبور وو چې امضاء ئې کی.

د مال په صورت دی جرمانه لغوه او د ښځو تحصیل دی په مدرسو کی بند سی. د کوچنی نجلی نکاح دی جائز وبلل سی– د قاضی صلاحیت دی په تعزیراتو کی سالم وی. هغه غل چې غلا تکرار وکی نو دی وژل واجبی سی– او که اثار د توبې پر ښکاره وی نو دی په جزا کی تخفیف راسی. په مامورینو کی د قاضی شرکت ضروري و بلل سو. په مدرسه کی د عقایدو لوستل لازم و کڼل سوه او د خلګو د احتساب دپاره د محتسبینو لیږل ضروری و بلل سوه. تنظیم د ملا او مسجد د دولت پر غاړه پریښودل سو. فردی آزادی شخصی ازادی وبلل سوه نه سیاسی– په عقیدوی امورو کی او په شرعی امورو کی–

تذکره (شناختی کارډ) لغوه سو— هر سړی کولای سی چې تر څلورو ښځو پوری په نکاح کی او تر ملی بیرغ لاندي عسکری خدمت پر هر ځوان لازم سو او یا د خدمت په عوض معین مقدار پیسې خزانې ته ور کی. یو عربی دارالعلوم جوړول حتمی وګڼل سو— دغه رنګه د قران حافظان او د هغو مکتبونه سفارش سوه.

دا پورته تصویب د شاه په امضاء په جرایدو کی نشر سو— او هم په پغمان کی د لویي جرګې په اِمضاء و رسیدی.

**د امان الله خان تګ و ایټالیا ته**: (دسمبر ۱۹۲۷ جون ۱۹۲۸)

اعلیحضرت د ایټالیا په دعوت د اروپا د سفر عزم وکی. چې د اروپایي ممالکو سره سیاسی، اقتصادی او کلتوری مناسبات ټینګې کی— شاه د هندوستان څخه مصر بیاو ایټالیې ته ورغی او د هغه ځایه فرانسه—بلجیم، جرمنی، انګلستان او شوروی ته ولاړی او بیا تر کیې او ایران ته راستون سو. څو ددغه ځای څخه خپل کور افغانستان ته را ورسیدی. په ټولو اروپایي هیوادو کی دده ښه استقبال وسو.

کله چې شاه و خپل هیواد ته را ورسیدی، هغه پخوانی شاه نه وو— کالر، نکټائی او نور فیشن معمول سوی وو. وطنی کالو خپل ځای و اروپایي فیشن ته ور خالی کړی وو. مفید اصلاحات د منځه ولاړه— او بچه ګانه حرکات شروع سوه. چې خلګ ئې بې موجبه



وتخنول. مثلاً د رخصتی ورځ ئې بیله کوم ضرورته د جمعی د ورځی څخه را واړوله د پنجشنبه ورځ ته. په داسی حال کی چې د جمعی ورځ تقریباً د زرو کلو څخه زموږ عنعنه او رواج وو. دغه رنګه لویي لوبی تختې ئې په ښار کی وځړولی چې هیڅ ښځه نه سی کولای په برقع کی پر دی ځای تیره سی— دغه رنګه د کابل و ټولو خلګو ته امر وسو چې دریشی او هیټ پر سر کی. دغه رنګه په لاس سلام کول منع وو، باید د غربیانو په شان خولی یا هیټ د سره (د سلام په خاطر) پورته سی. د پغمان د ۱۹۲۸ع کال لویي جرګې هم ونه کولای سوای چې د مامورینو د رشوت خوری او نورو فسادو مخه ونیسی. د یوه طرفه په هیواد کی بد عملی ډیریدلی د بل طرفه په حکومت کی مطلق العنانی. په دی توګه د هیواد د خرابی زمینه هره ورځ تر دمخنی ورځی ډیریدله— د بل طرف خارجی استعمار هم د دویم عامل په توګه د هیواد په تخریب کی کار کاوه— چې روحانیونو د هم دغه دویم عامل تر تاثیر لاندی تبلیغات او پروپاګنډه کوله.

**یوه لویه دسیسه**: وروسته تر هغه چې هیواد د ارتجاعی (قدامت پرستی) له مخالفت سره مخامخ سو. په خارج کی انګریزی مخالفت وو، په داخل کی اقتصادی وضع د خلګو خرابه وه او مامورین د رشوت خوړلو په مرض اخته سوی وه او شیرازه د مملکت مخ پر ړنګیدو وه.

په دی وخت کی د افغانستان پرضد دیوې لویي دسیسی طرح ریزی و سره – د دوو طرفو څخه پر کابل حملې شروع سوی – لومړی د کابل له شرقی خوا څخه وروسته د کوه دامن له خوا– په دی دواړو جبهو کی متعرضین د دښمنانو تنخواه خواره وه او یو شمیر عالی رتبه مامورینو ددوی مرسته کوله – لکه والی علی احمد خان شاه غاسی او داسی نورو– د میر غلام حسن خان په قول: والی علی احمد خان حبیب الله ته هدایت ورکی چې د افغانستان څخه و انګریزی هند ته فرار سي. هلته د ((خواجه بابوخان)) سره واوسیږی، کله چې موقع د کار راغله نو به بېرغ ور باندی وسی. خواجه بابوخان د سی آی ډی یو سړی وو. او هم والی علی احمد خان سیدحسین چې د سقاو ملګری وو؛ و میمنې ته ولیږی، چې پر موقع به بیا بېرغ ورباندی کوی.

په پکتیا کی د روحانیونو غونډه وسوه حضرات ((مجددی))او ځینی سرداران (په منی کی د ۱۹۲۸ع) لکه حضرت محمد صادق مجددی د حضرت شمس المشایخ کشر ورور، قاضی عبدالرحمن پغمانی او داسی نور کسان پکتیا ته ولاړل او هلته ئې د عزیز جاجی په کور کی غونډه وکړه او وی ویل چې د شاه کړه او عملیات د شریعت مخالف دی، د افغانستان په ضرر دی خو دا کسان دست ګیره او اعدام سول. ۱۲۸۴



**په ننګرهار کې:** ((۱۴ د نومبر ۱۹۲۸)) په دی وخت کی ټوله حکومت د خپلو خلګو په لاس کی وو. خود غرض خاوندانو او مشتبه خلګو د حکومت په کارو کی او وظایفو کی کار شکنی کولی. د شنواری قوم د عرض ؤ داد د نه اوریدو په وجه د حکومت مخالف سو. عسکر ناراضه وه. په دی وخت کی د شنواری قوم مشر ((محمد افضل خان شنواری))وو چې د شنوارو پر حکومت ((اچین))باندی حمله وکړه – او هغه ئې سره د عسکری مهماتو په تصرف کی را وستل. په ننګرهار ((جلال آباد)) کی دا وخت د روحانیونو څخه حضرت نقیب، حضرت د چار باغ، او د چکنور ملا صاحب موجود وه. خو دوی د دولت په ګټه کوم مؤثر قدم وانه خیستی. خو اولس ډله ډله د شورشیانو سره ګډیدی. په جلال آباد کی د شورشیانو رهبر ((محمد علم خان شنواری))وو او د شنوارو په مرکز کی محمد افضل خان شنواری وو.

د حکومت مشران لکه سردار شیر احمد خان والی، علی احمد خان او احمد علی خان په ننګرهار او کاپیسا کی د شورشیانو سره په مذاکرو بخت وو. په مذاکرو کی چې کوم وخت او فرصت حکومت دلاسه ورکوی هغه د شورشیانو په ګټه وو، حتی د طیارو استعمال ئې لا ونه کی، په دی وخت کی دولت یولس طیاری درلودی.

شنوارو په دی وخت کی د صلح دپاره یو پیشنهاد و کابل ته ولیږی چې یوویشت ((۲۱))فقری وو. چې په هغه کی د شاه ایسته

کیده، د ولیعهد ایسته کیده، حکام او کابینه سره د محمود طرزی د افغانستان څخه فراره کیده شامل وو خو حملو د جلال آباد پر ښار دوام پیدا کی. په دی وخت کی غلام صدیق خان څرخی وزیر خارجه په طیاره کی و جلال آباد ته راغی او د محمد افضل خان سره ئې مستقیمی خبری وکړی. او محمد افضل خان له شورش څخه لاس واخیستی، وعده ئې د حکومت د ملګری ورسره وکړه، هغه وخت چې کابل تقریباً د هری خوا تر تهدید لاندی وو، د عبدالوکیل خان نائب سالار نورستانی په ذریعه یو نور شمیر عسکرو ننګرهار ته ولیږل سوه– چې په دی ډول په مرکز کی ډیر لږ عسکر پاته سوه، او دا هم د مصلحت کار نه وو. ددغو خبرو په روڼا کی ننګرهار اوس هم د حکومت په کنټرول کی وو. خو اغتشاش غوښتونکو خلګو داسی طرح وکړه، چې د کابل دنژدی څخه شورش و پاروی، د بچه سقاو قواؤ په ټوله پروان او کاپیسا کی فعالیت کاوه.



# د دولت سقوط

## ډسمبر ۱۹۲۸ع جنوری ۱۹۲۹ع

وروسته تر هغه چې سقاو په انګریزی هند کی په پاړه چنار کی پر غلا ونیول سو او یوولس میاشتی د حبس او بند امر پر وسو، نابو بره په یوه مرموز ډول د بند څخه را ایله او افغانستان ته راغی، په کاپیسا او پروان کې یې د غلو ډلی تشکیل کړی. لاری ئې نیولی، غلاوی ئې کولی خو د ورځی به غرو ته ختی. د علاقی ځینو مشرانو ئې په پټه ملګری هم کوله. لکه ملک محسن کلکانی و غیره. دده شا وخوا دونی وغوړیده چې د سر کاری خزانو په وهلو یې هم باک نه کاوه.

هغه وخت چې حکومت و شرقی ولایاتو ته لکه ننګرهار وغیره متوجه وو، بچه سقا د شمالی لارو په خرابیدو پیل کړی وو.

حکومت د سقاو ځینی طرفداران نیولی او بندیان کړی وه، خو کله چې احمد علی خان و کاپیسا او پروان ته ورغی؛ وی غوښتل

چې ددغو غلو سره مفاهمه او صلح وکی. خو بچه سقا د حکومت کمزوری محسوسه کړه، و صلح ته اماده نه سو– او په دغه وخت کی ئې څوتنه عسکر چې کابل ته تله ووژل– احمد علی خان تلیفونی د قضیې څخه مرکز خبر کی، خو د مرکز څخه د مفاهمې پر ضرورت راشد تاکید او تاکید وسو. څو د بچه سقا او سید حسین سره یوه معاهده په ((باغ عارق)) کی وسوه، چې د قران شریف پر حاشیه باندی سقاو او سید حسین امضاوی ور باندی وکړی. په دی معاهده کی سقاو ومنله، چې د دولت له مخالفت او شرارت څخه به لاس اخلی او دولت ومنله چې د سقاو او د هغه د ملګرو د ګناهو څخه به تیریږی. احمد علی خان ددی معاهدی په اساس کله چې و((سرای خواجه)) ته را ورسیدی نو ئې وزیر حربیه ته خبر ورکی چې ۸۲ توپکه او کارتوس سره د غنډ مشری د رتبی و بچه سقا او سید حسین ته دی ورکړه سی.

څرنګه چې پخپله شاه وزیر حربیه هم وو، نو د هغه معاهدی له مخی ۸۲ توپکه جاغوری د ۱۶۴۰ کارتوس سره د ۳۰۰۰ افغانی سالانه معاش و هر یوه غله ته مقرر سوه او بیا وروسته احمد علی خان، سقاو او دهغه ملګری د غلو د نیولو د یوی دستې یا (ټولګی) په توګه مقرر کړه. او هم ئې په علاقه کی دی د عسکری وړ ځوانان په راټولولو مقرر کړ. احمد علی خان ډیری هلی ځلی وکړی چې خلک د صلح له لاری و امنیت ته راوبولی.



په دی اثناء کی یوه ډله خانان او غله په کلا کی د ملاویس الدین ((کلکانی)) سره را ټول سوه او بچه سقاو ئې د افغانستان د پاچا په ډول ومانه او دوپټه ئې تر ملا ور وتړله– په دی ډول ددی لوی فاجعې پیل وسو.

په دی سهار چې د قوس یویشتمه سی سقا د ((سرای خواجه)) پر حکومت حمله وکړه، حکومت ئې وران محافظین ئې خلع سلاح کړه او پخپله د پایتخت پر لور را رهی سو. سید حسین د چاریکار او جبل السراج د نیولو په غرض وآخوا ته روان سو. په جبل السراج کی یو غند عسکر ۹۰۰ نفره حاضر او موجود وه چې د احمد علی خان امر ئې غوښتی. سید حسین په هغه ورځ چاریکار ونیوی او جبل السراج ئې هم پر ۱۰ تاریخ د ډسمبر بی له جنګه ونیوی. سقا د ۳۰۰ نفرو سره پر کابل باندی حمله وکړه. د دفاع وزارت پر ۲۲ د قوس د هغه ورځی په ماپښین خبر سو چی سقاو پر کابل باندی د حملی کولو دپاره راغی. څرنګه چې کابل دمخه لا د منظمو عسکرو څخه د جلال آباد په خاطر خالی سوی وو، نو د یوی کوچنی ډلی سره معین د وزارت حربیه حبیب الله د سقاو و مخی ته ور ووتی. خو سقاو و ښار ته را داخل سو او و برج ((شهرارا)) ته را ورسیدی. ددغه ځایه څخه ئې شاهی ارګ د ګولیو تر زد لاندی وو، خو په دی ځای کی ۱۸ تنو شاګردانو چې د عسکری سواری تعلیم ګاه نفر وو، زور وره مقابله ور سره وکړه– وروسته بیا څه

نوری قواوی هم را ورسیدی چې مجموعی شمیر ئې تر ۸۰ نفرو نه ډیریدی. سقاو پر شا سو. په دی سبا ۲۳ د قوس و سقاو ته نور کومک را ورسیدی او دوباره ئې حمله پیل کړه. ددی دویمی ورځی حمله د شاهی ګارد نفرو پس پاکړه، خو سقاو د شهرارا د برج په دریم پوړ کی سره د خپلو ملګرو ځای ونیوی چې د هغه ځایه څخه یې ارګ ښه نښا نولی سو - خو دولتی توپو حمله پر وکړه او برج ئې ښورانده کی، سقاو په تلوار تلوار و تښتیدی - په دغه اثناء کی د حکومت یوه طیاره د درختی سره و جنګیده او وسوځل سوه.

سقاو د کوه کافر - د باغ بالا نوبرجه - او د خیر خانی په شاوخوا کی سنګر نیولی وو او وار په وار تقویه کیدی - خو حکومت هر ځای دفاع کوله. په دی اثناء کی میر غوث الدین خان احمدزی د دولت په پیسو او اسلحه په محاذ کی موجود وو خو نا بوبره سره د خپلی قطعی پکتیا ته وتښتیدی. ۱۲۹۳

پر سقاویانو د طیارو او توپو بمباری کیدلی بچه سقا هم په دی حمله کی زخمی سو خو و یوه نامعلوم ځای ته یووړل سو او هلته ئې ژر علاج وسو.

د قوس پر ۲۷ یوې انګریزی طیارې بیله د افغانستان د اجازت اخیستلو د کابل پر سر پرواز وکی او داسی اعلامیه ئې د هوا د لاری وپاشله:



زما دوستو او متدینو افغانانو!

تاسو پوهیږی چې برطانیه د پخوا څخه د افغان ملت دوست او خیر غوښتونکی ده. او د افغانستان ترقی ته ئې تل په ښه سترګه کتلی دی او هیڅ اراده نه لری، تر هغه وخته چې په کابل کی د برطانیه سفارتخانه او په کندهار او جلال آباد کی د برطانیه کونسلخانی مصئون او مامون وی؛ د افغانستان په داخلی شورش کی دی مداخله وکی. خو که د سفارتخانو و مامورینو ته کوم تاوان او ضرر ورسیدی، نو هغه وخت به د برطانیه حکومت د خپل هر ډول تاوان انتقام واخلی.

او هم دغه رنګه په څو آینده ورځو کی د انګریزی طیارو په ذریعه انګریزی او هندی تبعه هندوستان ته بوتله سوه.

عین په دغه وخت کی سقاو هم ماته وکړه او د حکومت ۱۲ زره عسکر په جبهه کی داخل سوه. چې دا امکانات پیدا سوه چې حکومت دی کاپیسا او پروان ولایتونه ونیسی. خو د کار شکنو خلګو په واسطه دا کار و نه سو - په دغو شپو کی د کندهار د علماؤ له خوا یو پیشنهاد را ورسیدی چې د اصلاحاتو مخالفت ئې کړی وو - په تعقیب ددی شاه د ۱۸ فقرو یو ریفورم نشر کی. چې د هغه د رویه متعلمین د ترکیې څخه بیر ته راوغوښتل سوه - د دیوبند و ملایانو ته په افغانستان کی د داخلی اجازه ورکړه سوه - ښځه به خپل مخ اولاسونه پټوی او ویښتان به نه لنډوی - د ملایانو څخه به شهادتنامه نه غوښتل کیږی.

او خلګو ته به تذکره یا شناختی کارډ نه ورکړه کېږی– شراب خورو ته به جزا ورکړه کېږی. په هر حکومت کی به یو محتسب ملا مقرېږی– د رخصتی ورځ به جمعه وی. ښځی به اروپایي لباس نه اغوندی او برقع به کوی– عسکری خلګ کولای سی چې مریدان سی– پور هر څوک اخستلای سی– په لباس کی هیڅ قید نسته خو سره له دی بیا هم خلګ آرام نه سول او دیوی خوا او بلی خوا تحریکیدل– څو پر :

۱۴ د جنوری د ۱۹۲۹ ع کال کی امان الله خان سره د ځینو فامیلی غړو د موټر په ذریعه د کندهار پر لور حرکت وکی، په داسی حال کی چې هیڅوک دده په حرکت خبر نه وو– وروسته بیا سردار عنایت الله خان معین د سلطنت او د شاه ورور د دلکشا په ماڼی کی د امان الله خان دا اعلان قرآئت کی چی :

د هیواد خیر په دی کی معلومیږی چې زه باید د کار څخه لاس واخلم– ځکه ټوله خون ریزی او انقلابونه په هیواد کی زما د برخلافی په وجه دی– ده خپل ولیعهد سردار عنایت الله خان ټاکلی وو، او خلګو هم ده ته بیعت ورکی.

**شاه عنایت الله خان ۱۶ جنوری ۱۹۲۹**:دی پاچا دری ورځی پاچهی وکړه– په لومړی ورځ ئې سردار محمد عثمان خان او



محمد صادق المجددی او څو نور کسان و بچه سقا ته ور ولیږل، د امان الله خان استعفاء او د ځان حکومت ئې اعلان کی او دجنګ د قطع کیدو خواهش ئې وکی خو کله چې دا خبر تیت سو– خلګ ټوله راغله و بچه سقا ته ئې بیعت ورکی او دی ئې ((امیر غازی حبیب الله خادم دین رسول الله))و باله.

څرنګه چې سقاو سواد نه درلودی، نو ئې زبانی و خلګو ته وویل: ما چې د حکومت بیدینی او پای لوچی ولیده، نومی د خدمت کولو ملا وتړله چې ددین خدمت وکم اینده به د بیت المال پیسه په تعمیراتو او مکتبو نه ضایع کیږی، بلکه و ملایان و او عسکرو ته به ورکړه کیږی چې دعاوی وکی– زه د خلګو څخه مالیات نه اخلم د بلديي څخه پیسی نه ټولوم. تاسو زما رعیت یاستی. خوشحالی کوی.

خو په خپله دده په ژبه دا اعلامیه خورا دلچسپه وه. چې نجیب مایل هروی په خپل کتاب ((تاریخ و زبان افغانستان)) ۲۷ مخ کی راوړی ده.

**د سقاو اعلامیه دده په ژبه**: مه (من)اوضای (اوضاع) کفر و بی دینی ولاتی ګری حکومت سابقه ره (را) دیده، و برای خدمت دین رسول الله کمر جهاده (جهاد را) بسته کدم (کردم) تا شما بیادرها

(برادرها)از کفر و لاتیگري نجات بتم (بدهم)مه باد ازی (بعد ازین) پیسه (پول) بیت الماله به تعمیر و متب (مکتب) خرج نخات کدم (نخواهیم کرد) بل همه ره (را) به عسکر خود میتم (میدهم) که چای وقند وپلو بخورن وبه ملاها میتم که عبادت کنن. مه مالیه، سفایي و ماسول(محصول) گمرک نمیگیرم، و همه را بخشیدم و دگه (دیگر) مه پاچای (پادشاه) شما ستم– و شما رعیت مه می باشین بروین (بروید) باد ازی همیشه سات خوده تیر کنین، سات خود را خوش بگزارنید. مرغ بازی، بودنه بازی کنین و ترنگ تانه خوش بگزارنید. (امیر حبیب الله کلکانی خادم دین رسول الله).

د جنوری پر ١٦ تاریخ د محمد صادق المجددی او د سردار عثمان خان معاهده د سقاو سره پر قران شریف وسوه– ددی قرارداد درویه دارگ دروازی و بچه سقا ته خلاصی سوی او سقاو د شاهی فامیل د عام و عسکرو او دارگ د اوسیدونکو د سر تضمین وکی او د جنوری پر ١٧ تاریخ د دو انگریزی طیارو په ذریعه سردار عنایت الله خان او نوره کورنی ئي و پیښنور ته را ورسول سوه او ارگ ته سقاو داخل سو.



# د سقاو پاچهی

## د جنوری څخه تر اکتوبر ۱۹۲۹ع پوری

یوځوورځی وروسته حبیب الله(بچه سقا)خپله کابینه اعلان کړه.
نایب د سلطنت او د جنگ وزیر سید حسین وو.
معین د سلطنت حمیدالله د حبیب الله ورور سو.
داخله وزیر عبدالغفور خان تگاوی وو، چې بیا وروسته یې د بدگمانی په وجه وواژه.
خارجه وزیر – صاحبزاده عطا الحق خان.
د دربار وزیر – صاحبزاده شیر جان خان.
د مالیی وزیر – مرزا غلام مجتبی خان.
او مشاورین ئې دا خلگ وه: ملک محسن کلکانی د کابل والی – عبدالغنی خان قلعه بیگی د ارگ او داسی نور – لکه خلیل الله خلیلی و غیره.

په دی وخت کی امان الله خان په کندهار کی وو او د حکومت صلاحیت دارو خلگو دده موجودیت په کندهار کی خطر ناک باله نو

ئې د ۱۹ فقرو یوه اعلامیه چې د فتوا شکل ئې درلودی، نشر کړه چې امان الله خان ئې په هغه کی کافر بللی وو.

خو سره له دی د هیواد دوستو پوهانو دا اټکل وو، چې دا غل نه سی کولای چې اولس او هیواد دی و یوه مترقی پړاو ته ورسوی – تر ټولو لومړی د سقاو پرضد دوو متعلمینو حبیب الله خان او عبدالرسول خان د سقا د وژلو اراده وکړه. خو دا توطئه کشف او دواړه اعدام سو. دغه رنګه یوه بله ډله خلګ لکه عبدالمجید خان توخی – سردار عبدالمجید خان، سردار حیات الله خان، د امیر حبیب الله خان زامن، سردار محمد عثمان خان، قاضی محمد اکبر خان او حبیب الله معین د پخوانی حربیه وزارت وو، دا ټوله کسان دستګیر او اعدام سول. دغه ډول نور ډیر ناوړه مرګونه ئې وکړه.

سقاو لومړی وکولای سوای چې د قطغنی، بلخ، میمنې او د هرات ولایتونه په سهولت ونیسی خو ډیر ژر په کندهار، هزاره جات، وردک، پکتیا او ننګرهار کی مخالفتونه پیل سوه. په دی وخت کی روشنفکران یا اصلاح طلبان د هیواد په اینده ژوند کی فکرجن وه – نو ئې سردار احمدشاه خان چې بیا وروسته وزیر دربار وو محمد نادر خان ته (چې په فرانسه کی وو) ور وه لیږی چې عسکری واک خوندی کی. دغه رنګه محمد معصوم المجددی ئې و بمبیی ته حضرت نور المشایخ ته ورولیږی چې هیواد په خطر کی دی – راسه.



**د ننګرهار په ولایت کی**: امان الله خان د جنوری پر څورلسم نیټه د سلطنت څخه استعفا وکړه او وکندهار ته ئې ځان ورساوه. خو والی علی احمد خان چې یو غښتلی سړی وو پخپله ئې د سلطنت اعلان وکی. خو دده ملګرو ملک محمد جان او ملک محمد شاه خان جګړه سره وکړه.

څو دا دوه تنه هم په خود په خانه جنګ کی مړه سول او دخوګیاڼیو عسکری قوت سره تیت وپرک سو. بیا علی احمد خان هم مجبور سو چې لومړی لغمان ته ولاړ سی بیا کنړوته او بیا وروسته پیښور ته ولاړی. په دی توګه سقاو ددی جبهی څخه بیغمه سو.

**په وردګو کی**: وردګو د سقاو حکومت د لومړی سر څخه لانه وو منلی، حاکم ئې بیرته ور جواب کړی وو، د سقاو قواوی پخ خورا زور پر وردګ را شوه سوی خو کریم خان وردګی او عبدالله خان کرنیل ((ماهیار))د ټوپ په دښت کی د دښمن سره وجنګیدل. په دی جنګ کی ئې ۷۰۰ تنه د دښمن څخه بندیان ونیول او دوی ئې پر شا پوری وهل. خو وروسته بیا د سقاو لویه قوه راغله او وردګ ئې ونیوی. کریم خان یې چې د امان الله خان د طرفدارانو څخه وو؛ وواژه. کور ئې چور او کورنی ئې کابل ته بندی بوتله سوه.

**په هزاره جات کې**: هزاره قوم اصلاً د غازی امان الله خان د طرفدارنو څخه وو او هیڅ وخت ئې د سقاو حکومت و نه مانی. سردار محمد امین د امان الله خان ورور ته هم دوی پناه ورکړی وه، که څه هم د هزارجات یوی برخی سقاو ته بیعت ورکړی وو، خو هغه هم په دل ناخواسته خو وروسته د میر فتح محمد خان (فرقه مشر) او دسید احمد خان (د شاه نور زوی) په مشری ۲۰۰۰ نفره و جنګ ته اماده کړه سوه– خلګو و دغه لښکر ته ډوډی او اسلحه ورکوله او هم د بهسود خزانی د امان الله خان په فرمان ۴۸ زره روپی د جنګ دپاره حواله کړی. دی لښکرو ٦ میاشتی د سقاو د لښکرو مخه ونیوله– کله چې امان الله خان د کندهار څخه بیرته مخ د غزنی پر لور راوکی نو یو شمیر هزاره ؤ د امان الله خان و کومک ته را و دانګل– هزاره ګانو محمد امین خان د امان الله خان ورور تر هغه وخته په بهسود کی د ځان سره پناه ورکړی وه چې د سقاوی حکومت د منځه تی.

**په شمالی ولایاتو کی**: قطغن او بدخشان بیله کوم مقاومت تسلیم سول. عبدالرحیم خان نائب سالار د رئیس تنظیمه پر ډول ول بلخ ته ولیږل سو– عبدالعزیز خان څرخی د بلخ والی ځینی داسی اشتهارات تیت کړی وه چې د هغه په وجه دولتی عسکرو د خپلو



منصبدارانو د امره څخه سر غړونه کړی وه. په ۱۳۰۷ هـ ش ۱۹۲۸ع کال کی نائب سالار عبدالرحیم خان د مزار شریف ښار ونیوی. او بیا وروسته د کابل څخه خواجه عطامحمد خان کوهستانی د بلخ د والی په ډول راغی. په هرات کی هم وضع نا ارامه وه خو د عسکرو په ذریعه ددی ځای امنیت تامین سو. محمد ابراهیم خان والی او عبدالرحمن خان نظامی قوماندان مقرر سو. او هم په دغه وخت کی محمود طرزی و کولای سوای چې خارج ته فراره سی– په هرات کی امنیت قایم سو– خو کله چې شجاع الدوله په لندن کی مختار وزیر و هرات ته را ورسیدی، دوی د امان الله خان پرضد تبلیغات شروع کړه– د هرات روحانیون ئې لکه مجددی حضرات و دی کار ته وګمارل– په دی سره عسکر ناخوښه سوه. او شجاع الدوله مجبور سو چې و بست ته د ګازرګاه پناه ور وړی. په دی وخت کی عبدالرحیم خان را ورسیدی، د حکومت چاری ئې خوندی کړی. او هم په دغه وخت کی د څو سوو هزاره او ترکمن لښکرو سره غلام نبی خان څرخی حمله وکړه او تر دولت آباد پوری را وړاندی سو. د مزار شریفی سقاوی عسکر ئې و مدافعی کولو ته راغله او په ۱۳۰۸ هـ ش ۱۹۲۹ع کال کی د خواجه ولی پر مقام جنګ وسو، خو سقاویانو شکست وخوړی او بیا وروسته څرخی مزار شریف هم ونیوی. څو بیا سقاو ۲۰۰۰ تنه دده و مقابلی ته راولیږل او مزار شریف ئې ونیوی خو څو واره د غلام نبی خان او سقاویانو تر منځ

سختي نبنتي وسوې. په دغه وخت کی امان الله خان د کندهار څخه بیرته د غزنی پر لور را رهی سوی وو چې په غزنی کی مغلوب سو نو څرخی هم په داسی حال کی چې فاتح وو افغانستان پریښودی– ځکه څرخی افغانستان د امان الله خان دپاره غوښتی.

**په پکتیا کی**: کوم وخت چی په کاپیسا او ننګرهار کی اغتشاشات کیده– نو د پکتیا نظامی قوماندان جنرال محمد صدیق خان صاحب زاده وو. دی یو مقتدر قوماندان وو– وروسته تر هغه چې امان الله خان په کابل کی د سلطنت څخه استعفا وکړه. نو محمد صدیق خان د سقاو سره بیعت وکی. دغه رنګه میر غوث الدین خان احمدزی هم د سقاویانو طرفداره سو– دغه رنګه د سلیمانخیلو قوم هم د سقاویانو په طرفداری بیرغ پورته کی. خو د ګردیز خلک د سقاو په مقابل کی و دریدل. د غه رنګه ځاځیو او د چمکنیو خلګو هم د سقاوی مخالفت کاوه– چې په دی طریقه ددوی د خود په خانه جنګ سبب سو.

د ۱۳۰۷ هـ ش– ۸ د مارچ ۱۹۲۹ نادر خان سپه سالار او په پاریس کی پخوانی وزیر مختار د هندوستان د لاری و پکتیا ته را ورسیدی. د پکتیا اعلیٰ حاکم عبدالحکیم خان– او هم نظامی قوماندان محمد صدیق خان د محمد نادر خان ملګری قبوله کړه–



په دغه وخت کی حضرت نورالمشایخ مجددی هم د هندوستان څخه و پکتیا ته راورسیدی چې په بمبیی کی اوسیدی. دده په استقبال کی څو زرو سلیمانخیلو شرکت کړی وو.

**په کندهار کی**: امان الله خان د جنوری پر ۱۴– ۱۹۲۹ع د کابل څخه کندهار ته روان او پر ١٦ د جنوری هلته ورسیدی. د کندهار خلګو ده ته بیعت ور کی. او یو موقت حکومت ئې جوړ کی. عبدالعزیز خان چې د حرب وزیر وو د عبدالحکیم خان په عوض کی د کندهار والی سو. هغه افسران چې په خارج کی ئې عسکری تحصیل کړی وو ټوله د امان الله خان طرفداره وه. شاه اراده وکړه چې بیا پر کابل ورسی، خود غرض خاوندانو ده ته دا مشوره نه ورکوله څوشاه تصمیم ونیوی چې د هرات له لاری دی پر بلخ بیا پر کابل حمله وکی. مګر پر دی تصمیم باندی کندهاریان نا خوښه وه، چې شاه دی د کندهار څخه نا امیده پر بله خوا ولاړسی. نو د سرتېرو د لښکر په جوړېدو پیل وسو،– چې په ډیر لږ وخت کی تر ۸ زرو تنو پوری خلګ حاضر سول چې د امان الله خان په طرفداری و جنګ ته و دانګی. دا ټوله خلګ مسلح شول– په دغه وخت کی منظم عسکر هم په چوڼی کی موجود وه.

پاچا د حمل پر ٦– ۱۳۰۸ برابر د ۲٦ مارچ ۱۹۲۹ع د ۱۴ زرو لښکرو سره چې عسکری او ایله جاری وو د کندهار څخه د

کابل پر لور حرکت وکی چې قوماندان ئې ښاغلی عبدالاحد خان وردگی ((ماهیار))وزیر داخله وو— دا لښکر په شلو ورځو کی غزنی ته ورسیدی. په غزنی کی دا لښکر د سقاوی د ۲ زرو عسکرو سره مخامخ سو— د دښمن مخالفی پروپیګنډی اوس هم روانی وی. په دی وخت کی یوه منصبدار عسکرو ته د شاه په مقابل کی د دریدو امر وکی، خو هغه ګرفتار سو او د شاه په امر اعدام سو. او هم یو ملا چې نوی د هند څخه راغلی وو د خارجی جاسوسی په جرم اعدام سو. دغه رنګه یو بل جاسوس، چې په خپله جاسوسی ئې اعتراف وکی. په هغه دم اعدام سو. په د اپریل ۱۹۲۹ع کی د سقاویانو یوه ټولی عسکر تسلیم سوه. او هم په دغه اثناء کی د هزارو یو شمیر خلګ د شاه په طرفداری را ورسیدل. او هم څه سقاوی عسکر ګرفتار کړه سوه چې منصبداران ئې اعدام او عسکر ئې ایله سوه.

په اپریل ۱۹۲۹ کی دری زره نور هزاره لښکر د شاه په طرفداری را ورسیدل— چې د لښکر حوصلی په لوړی سوی. شاه پر غزنی حمله وکړه— د سقاویانو دوی طیاری راغلې خو پر لښکر یې بمباری ونه کړه او لیری ئې ګولی وه اورولی او د لښکر سلامی ئې وکړه او بیر ته ولاړی. دغه رنګه په دغه وخت کی یو ملا د غلجی او درانی په تعصب د شاه په خېمه ور ننوتی او په تبرزین ئې پر شاه حمله وکړه. مګر ونیول سو. خو د پلټنی څخه ښکاره سوه چې یوه انګریزی تصدیق نامه ئې درلوده، خو په هغه تبرزین دی اعدام



سو. دغه رنګه د محمد امین خان او خواجه هدایت الله خان په مشری دوه زره مسلح هزاره د شاه پر لښکر اضافه سول— خو دی مشرانو د محمد یعقوب خان وزیر دربار په بدنیتی ونه کولای سو چې شاه ووینی، دغه ډول مخرب لاسونه د شاه په مخ کی غځیدلی وه او شاه ئې دلی سره د د دونی عسکری قدرت په غزنی کی اړ کړی وو— او د کابل د نیولو هڅی ته ئې نه پریښودی، په دی وخت کی ۵ زره مسلح سلیمانخیل د پکتیا څخه د سقاؤ په ملګری را ورسیدل او د شاه قواوی ئې سره وپاشلی، په دویمه ورځ هم زورور جنګ وو. کندهاریانو سخت مقاومت وکی.

خو نابوبره شاه امر وکی چې مخ پر لور د کندهار حرکت دی شاه خیل تصمیم اړولی وو.

کله چې شاه د کندهار د مهمندو رباط ته ورسیدی نو ئې والی علی احمدخان والی وټاکی او پخپله د کندهار پر لور را رهی سو. په کندهار کی ئې امر وکی چې ملکه ثریا او کورنی دی دسپین بولدک د لاری د هند پر لور ولاړه سی. او په خپله بادشاه نیمه شپه ۲۳ دمی ۱۹۲۹ په انګلیسي علاقه کی داخل سو او بیا و ایتالیې ته ولاړی. د سقاو د حکومت نړیده تقریباً د امان الله خان د حکومت د نړیدو سره په یوه وخت کی دی.

# محمد انور خان اڅکزی

تر څه اندازی پوری چې د محمد انور خان اڅکزی په خصوصیاتو اړه لری؛ دی د هغه وخت چې په ګلستان کی وو او د ژوند ابتدایي مراحل یې تیرول. د محیط او ماحول تر تاثیر لاندی وو او د ګلستان یو شریف خان وو، خو کله چې تعلیم او تربیه ئې وسوه نو تر یوی اندازی ده ته خپل خاندانی حیثیت او دریځ په ټولنه کی معلوم سو او د خانی دلیډر شپ جذبه پکښی ځلیږی – خصوصاً د سیګیو تر معاملی وروسته ده ته په ټولنیزو کمزوریو کی فکر پیدا سو چې د هغه په وجه د ټولنیز کریډټ د پیدا کیدو په خاطر و جرګی ته ورځی او د کلیوالی لیډر شپ څخه پښنه غځوی و قومی لیډر شپ ته ور داخلیږی.
په دی وخت کی دی یو مطلق اڅکزی خان دی چې ټوله مبارزه ئې د اڅکزو دپاره ده خو کوم هغه وخت چې امان الله خان د سقاو د لاسه شکست خوری او پر افغانستان سقاو قبضه کوی نو دلته دی درانی کیږی – او ټولنیزه جذبه ئې نوره پراخیږی یعنی د اڅکزیت د دوری څخه و درانیت ته ور داخلیږی – خو کله چی په مبارزه پیل کوی او سقاو د کندهار څخه پسی اخلی او دی کندهار ته د یوه موفق او فاتح



مبارز په حیث ورځی – په دی مرحله کی دی د پښتنوالی په وسیع تره حلقه کی ور داخلیږی.

خو دا خبره ددقت ده. و هری نوی مرحلی ته چې دی ور داخلیږی، د خپلی پیشقدمی مرحلې خصوصیات د ځان سره راوړی او په نوی مرحله ئې ورګډوی څو ترپایه د زړو خصوصیاتو د درلودلو سره سره ئې نوی مرحلې قبولی کړی دی – څرنګه چې دی د یوه روشنفکر او تعلیم یافته شخصیت په ډول په کندهاری ژوند کی ګډون کوی؛ اکثره به د کندهاری مذهبی علماؤ سره ده په تاکید و مخالفت بحثونه کول. کله به دا بحثونه تر مشاجری هم ورسیده – په مذهبی لحاظ هغه وخت چې دی نوی کندهار ته راغی نو دی یو آزاد منشه مذهبی نقاد وو او پر مروجه رواجی مسلمانی باندی به ئې انتقادونه کول – او مذهبی علماؤ دده انتقادونه ور ردول – چې په دی بحث و مشاجره کی دده مذهبی افکار هم ورځ په ورځ پخیدل. کله چې د افغانستان د ویښ ځلمیانو په مشهور تحریک کی ئې شمولیت وکی نو د حزبی ډسپلین په خاطر ده د مذهبی انتقادو څخه لاس واخیستی او ورو ورو د محیط رواجی مسلمان سو او په بندیخانه کی دده په قول، ((ده او خدای سره پیدا کړه)).

په دی توګه موږ ویلای سو چې دی لومړی ټینګ خان، بیا تکړه اڅکزی، بیا کلک درانی، بیا غښتلی پښتون او متقی مسلمان وو – او هم دده دژوند دوری دغه دی. پر دغو زینو له خانې څخه

شروع تر پښتنولی رسیدلی دی. البته د مسلمانی صبغه د ابتداء څخه کله ډیره کله لږ ور سره وه خو تر بندیخانی وروسته یو متقی او پرهیز ګاری مسلمان سو.








**حاجی محمد انور خان اڅکزی**: د حاجی سعادت ملوک خان زوی، د سر بلند خان لمسی، د یارمحمد خان کړوسی او د روشندل خان کوسی دی. دا چی ((کودی)) د چا او ((پره دی)) د چا دی نده معلومه– دی د ګلستان په کلی کی چې د پښتونخوا سیمه وه په ۱۸۷٦ کی زیږلی دی. او په ۱۹۷۱ کال کی د کندهار په ده خوجه کی وه حق ته ورسیدی. (۷۱–۵–۲۹) دا ۹۵ کاله په پښتنی تاریخ کی ځانته ټاکلی ځای لري. دغسی خود پښتنو ټوله تاریخ، په وینو لړلی تاریخ دی، جنګ و جدل دی. کله آزادی حاصلوی– کله آزادی خوندی کوی او کله بیا آزادی ژغوری. دا پر آزادی مین کام، چې خوند او فایده ئې د ازادی څخه تر اوسه نده لیدلی او د کمبلۍ (بورا) په شان ئې د ازله څخه بیا تر اوسه ځان پر هم دغه ډیوه ستی کړی دی، یو بی ساری قوم دی. خلګو په غلامی کی میلی وکړی، تکامل سیرئې پی کی خو پښتون قوم د آزادی په حاصلولو او ژغورلو کی پیړی پیړی تیری کړی. خو هم پر هغه ځای ولاړ دی، د کوم ځای څخه چې ئې په سوو کلو دمخه حرکت پیل کړی وو.

پښتانه په دغه څپڅپانده دوران کی حاجی محمد انور خان زیږی، ځوانیږی، زړیږی. دا چی پښتون قام د آزادی په مبارزه کی په مدنی لحاظ تر شا پاته کیږی، نور خلګ په غلامی کی وده کوی، پخپله یوه د تفکر موضوع ده چې و ټوله پښتانه ته دیوه سوال



په ډول وړاندی. ده دهم دغه سوال په سپنیدو کی، حاجی صاحب سر ګردان کله دیوه دره کله د بل دره سر وهی.

په تاریخي لحاظ د اڅکزو مخکښی پښه، د غازی عبدالله خان ۱۸۴۰ع را وروسته حمیدزی راغلی دی د حمیدزو په پښه کی نامی سیاسی شخصیتونه لکه ګلستان خان، عبدالصمد خان د عنایت الله کاریز. محمد ایوب خان اڅکزی د ګلستان کاریز و غیره ډیر کسان دی چې د پښتانه په ننګه تر خپلو خپلو سرو تیر سوی دی چې په دغه جمله کی یو هم جناب محمد انور خان اڅکزی دی.

د قرائینو او نخښو څخه داسی ښکاره کیږی چې اڅکزی قوم په دی آواخیرو کی د بارکزی قوم څخه را جلاسوی دی. په نولسمه پیړه کی لا ځینی قبالې او اسناد د اڅکزو خانانو د بارکزو په نامه لیکل سوی دی– خو تر سقاوی وروسته چې اڅکزی د کندهار په نیولو موفق سول ځان ته یې بیل تشخص پیدا کی او ګوداره سوه.

په سیاسی لحاظ د اڅکزو مشری چې په پښتونخوا کی د ګلستان د خانانو، د عنایت الله کاریز د خانانو او د عبدالله خان د کاریز د خانانو په لاس کی وه او د احمد شا بابا راهسته چې روشندل خان د هغه عرض بیګی وو؛ دا مشری ئې درلوده. تر هغه وروسته غازی عبدالله خان، ګلستان خان، حاجی محمد انور خان، عبدالصمد خان، محمد ایوب خان او داسی نورو د قومی چوپړ بیرغ را پورته کړی دی او د پښتانه قوم د هری بدبختی سره یې ځانونه

شریک کړی دی او ځانونه ئې ندی ژغورلی. په ۱۸۳۹ کی چې انګریزانو د پښتنو پر حریم باندی تیری وکی، نو غازی عبدالله خان اڅکزی ئې و مخ ته سپر سو او برش پرنګی ئې د ۱۸۴۱ کال پر ۲۴ د نومبر و واژه او بیا ئې د انګریزانو سیاسی مشر مکناټن په کابل کی مړ کی. څو د روژی پر ۲۷ پخپله غازی عبدالله خان د انګریزانو په لمسون شهید کړه سو. او هم دا دده قربانی وه چې انګریزان مجبور سول چې د افغانستان سره روغه وکی. دغه رنګه ګلستان خان د شاه شجاع په وخت کی د زمانی سالار وو او د افغانی پاچهانو سره ئې ځانی او مالی مرستی کولی. عبدالحکیم خان د حاجی محمد انور خان مشر ورور (د ۱۹۱۹ د انګریزانو په دریم جنګ کی) حاجی محمد انور خان کابل، کندهار او توبې ته ولیږی، چې د افغانی حاکمانو په مشوره داخل د جهاد سی. خو دانګریزانو او افغانی امیرانو روغه وسوه، او د جنګ نوبت نه راغی– دغه رنګه پخپله حاجی صاحب محمد انور خان اڅکزی په داخل کی د پښنین، بیا په سقاوی کی د افغانستان د کندهار په محاذ کی فاتحانه جنګیدلی دی– او هم ئې د افغانستان په سیاسی تحریک ویښ ځلمیانو کی فعاله برخه درلودلی ده. عبدالصمد خان د ټوله هند په مبارزه کی داخل د مبارزی وو– چې تقریباً ۲۴ کاله بندیې په دی مبارزه کی ګاللی دی. دغه رنګه محمد ایوب خان اڅکزی د انګریزانو سره او بیا د پښتونستان دپاره مبارزه کړی ده– څو تقریباً د ۲۷ کالو جلا



وطنی وروسته په کابل کی وفات او د کابل په شهدای صالحین کی و خاورو ته وسپارل سو. مطلب دا چې ددی کورنی هر یوه غړی په خپل وار د قوم په دردو ور ګډ سوی دی، ربړونه ئې ګاللی دی او ځانونه ئې تر قومی خدمت قربان کړی دی.

د حاجی محمد انور خان پلار حاجی سعادت ملوک خان نومیدي. حاجی سعادت ملوک خان په کال ۱۸۷۹ع کال په حج کی د وبا په ناروغی وفات سو. په دی وخت کی محمد انور خان فقط د درو کالو وو او یتیم پاته سو– دده اکا غلام نبی خان دده مور په نکاح کړه. او سم دلاسه دده پر جایداد یې هم قبضه وکړه چې پردی بنا په کورنی کی یوه لوتنازعه پیدا سوه. د محمد انور خان په وروڼو کی عبدالحلیم خان مشر ورور وو. او هم یوائی ده واده کړی وو. محمد انور خان دری کلن وو، نو ځکه د مور سره سو. د کورنی دی تنازعی ورځ په ورځ ریښې کولی، کار خوابدی او بدی پوری رسیدلی وو، انګریزی حکومت په موضوع کی مداخله وکړه او د محمد انور خان جایداد ئې پخپله قبضه کی واخیستی او ورثی ته ئې خرڅ ور مقرر کی[۴] او پخپله د محمد انور خان روزنه او پالنه دده مشر ورور عبدالحلیم خان قبوله کړه او تعلیم او تربیه ئې هم ده

[۴]– دا خبره د یادونی ده: په انګریزی وخت کی به چې کله په کورنی او پهبهر کی تنازعه پیدا سوه، نو پرنګیانو هغه په صلح او روغه حلول. او نی غوښتل چې نزاع دی پیدا سی. مګر د پاکستانی مسلمانانو حکومت، که یو فامیل خوشحاله او اسوده ولیدی، په لوی لاس په هغه کی بی اتفاق پیدا کوی. وګوری دا فاصله ((ببین تفاوت راه از کجااست تابه کجا)) انګریزانو د خلګو په اسایش کی خپل حکومت کاوه خو پاکستان د خلګو په بی اتفاقی کی خپله بقا وینی.

کوله. دغه وخت چې محمد انور د عبدالحلیم خان وکورته د مور څخه را جلا کیږی په دی وخت کی لا د ګلستان تحصیل سکول نه لری او دا هغه وخت دی چې انګریزان پرپښنین، سیوی او ړوب باندی قبضه کوی چی په ۱۸۸٦ع کال کی یې د بولان په دره کی دریلوی لین را تیر کی. داسی معلومیږی چې د ګلستان سکول د انګریزانو د راتلو سره سم یعنی په ۱۸۸۵ع کال کی یا په ۱۸۸۳ع کال کی جوړ سوی دی. ځکه نو ښاغلی عبدالحلیم خان خپل درې وروڼه: محمد یعقوب، محمد انور او محمد هاشم فوراً ور داخل کړه. ددې کورنۍ فضیلت هم ددې څخه ښکاره کیږی چې برابر سل کاله دمخه دوی د تعلیم او تربیې په اهمیت پوه وه. په داسی حال کی چې اوس په ۱۹۹۷ع کی لاهم پښتنانه و دی ځای ته ندی رسیدلی او د سکول تعلیم حاصلول ورته یوه سوالیه ده.

په ۱۸۹٦ع کال کی محمد انور خان د ګلستان ابتديي مکتب ولوستی او فارغ سو. مکتب د ګلستان لومړی پرائیمری یعنی ابتدای وو. تر دغه ابتدائیه مکتب وروسته دوی په مسجد کی عربی او فارسی درسونه وویل، په ۱۹۰۵ع کال کی د ګلستان پرایمری مکتب مډل یعنی منځنی دوری ته اوچت سو. کله چې په ګلستان کی مډل جوړ سو، نو محمد انور خان بیا شمولیت پکښی وکی. که څه هم په دی وخت کی ده واده کړی وو، خو سره له دی ئې د تعلیم لمن ایله نه کړه.



په دغو کلو کی پښنین، د افغانستان دنورو سیمو څخه را جلا سوی وو، او د ا نګریزانو په مستقیمه اداره کی وو، چې د ګلستان خانان، په دی ډیر خوابدی دوه او هر چیری به په دیرو او باڼډو کی دغه ویر کیدی چې دې به د خپل وخت ځوانان تحریکول. طبعاً هم محمد انور خان په سائیکلو جیکی او نفسانی ډول انقلابی روحیه درلوده. په ۱۸۹۱ع کال کی چې دکوږک ټونل (ټنډمل) جوړیدی، نو انګریزانو وغوښتل چې دا لاین د ګلستان او عنایت الله کاریز ترمنځ تیر کی او چمن ته ئې ورسوی. خو دګلستان خانانو او ځوانانو ددی لاری ممانعت وکی. او بیا انګریزان مجبور سول چې لاین د عبدالله خان پر لور ورکوږ کی. په ګلستان کی د لاین د تیریدو اثار اوس هم سته چې د هغه وخت دیادګار په توګه ئې د سیمی خلګ ګوری. کله چې محمد انور خان د ګلستان و منځنی اسکول ته ور داخل سو؛ څه مده نه وه تیره سوی چې دا سکول د هیډ ماسټر یعنی سر معلم سره یې شخړه وکړه او دا سکول څخه ئې خارج کی چې ښه ډیر وخت بیکاره پاته سو څو د مشرانو په شفاعت او واسطی دی بیرته قبول او داخل د مکتب سو. په ۱۹۱۰ کی د ګلستان د مډل سکول څخه فارغ سو– دا وه دده تعلیمی دوره چې په لنډه توګه ذکر سوه– تر تعلیمی دوری وروسته دده د ملازمت دوره شروع کیږی. داسی معلومیږی چې تر تعلیم کولو وروسته ۳ څلور کاله بیکاره پاته سوی دی. دده لومړی نوکری په ((کولو

بارکم)) کی وه، چې د بندوبست په چارو مقرر سو دا نوکری یا ملازمت ئې یو کال او دوی میاشتی وکی. کله چې د بندوبست په چارو پوه، پیمایش کول ئې زده کړه او په د فتری چارو پوه سو نوئې د بندوبست امتحان ورکی، او شهادتنامه ئې لاس ته راوړله. دویمه نوکری ئې د پښین په ((برښور)) کی وه چې دلته دقانون ګوی په صفت مقرر سو. خو دلته بیا د ای، اې، سی سره مخالف سو او ای اې سی دده د لاسه وپولیټکل ایجنټ ته شکایت وکی. هغه ددی ځایه تبدیل کی د کوټې د ((بلیلی)) په حلقه کی مقرر کی. دده د بلیلی مقرری په حدودو کی د ۱۹۱۷ تخمین کیږی. دلته تر څه مدی وروسته د ښه کار په وجه ترقی کوی او د نائب تحصیلدار په صفت په توبه کی مقرر کیږی خو په دی وخت کی دوی مهمی فامیلی پیښی وسوی. یو د عبدالحلیم خان مشر زوی چې تعلیم یافته او متهرک ئې په هغه وخت کی ویلی وو؛ وفات سو — او بل دده عیالداری د محمد افضل خان دوی مور وفات سوه — دا دواړه کسان د ټوخک په ناروغی وفات سوی دی. ټوخک شاید د سل ناروغی وی. هغه وخت دغه کال ګرد سره د ټوخک په کال مشهوره سو. بله پیښه چې خارجی پیښه ئې بللی سو د غازی امان الله خان د غزا اعلان دی د انګریزانو سره ((مئ ۱۹۱۹)) چې د ګلستان خانان په ډیره بیا (خصوصاً) ځوانان د خانانو په ښور راغله. حاجی صاحب وایې: ((د غزا په دی وخت کی د انګریزانو په



نوکری کی اوسیدل، د کفر خدمت کول د اسلام مخالفت وو. نو ځکه ماونه کولای سوای چې نوکری ته دوام ورکم. نومی استعفاء وکړه)). تر استعفا کولو وروسته دی برابر د افغانستان پر لور د جهاد کولو په نیت روان سو — په دی وخت کی د کندهار رئیس تنظیمه سردار عبدالقدوس خان وو. د هغه سره ئې ولیدل د ګلستان د خانانو اراده او د خپل خدمت پیشکش یې ورته وکی.

سردار عبدالقدوس خان ورته وویل: زه دمخه د ګلستان دخانانو په غونډه خبری سوی یم او د دوی صمیمت د پښتنولی رامعلوم دی. څرنګه چې اوس سردار محمد نادر خان د انګریزانو سره په خبرو اترو لګیا دی، پر موضوع باندی د افغانستان او انګریزانو هیتونه غور کوی، که دا خبری کامیابه سوی خو ښه تر ښه. او که افغانستان و جنګ ته اړ سو، نو تاسی هلته په توبه کی اغتشاش پیل کی، چې انګریزان ونه کولای سی چې پر کندهار برید وکی. قدوس خان اضافه کړه، چې اوس تر وخت دمخه باید ځانونه نه کی ښکاره چې انګریز ډیر کینه کښ قوم دی چیری چې تاوان درونه رسوی. هغه وو چې د نادر خان خبری کامیابه سوی او د ګلستان خانان هم خاموشه پاته سول.

حاجی صاحب تر دغو واقعاتو وروسته تقریباً دوه کاله په کور کی بیکاره کښیناستی. او تقریباً په ۱۹۲۰ کی ئې د عبدالواحد خان درانی لور په ((کوټه)) کی وغوښته — کله چې ده واده کاوه په دی

وخت کی دده ورور محمد هاشم خان وفات کړی وو، او دوی دری ورونړه پاته وه. عبدالحلیم خان محمد یعقوب خان، او محمد انور خان .په هم دغه وخت کی حاجی صاحب د خپلو ورونړو څخه د جایداد دویش غوښتنه کړی ده او ددی ویش شپی او ورځی خورا ترخی پر تیری سوی دی او ترخه خاطرات ئې ده کله کله ذکر کول. دی وایې :

((په دی ویش کی چې څونی ما خپل حق باله، د هغه نیمی را ورسیدی. ځکه چې عبدالحلیم خان او محمد یعقوب خان دواړه راته په سلا سوی وه.))

**د خانانو بی واکی**: لکه څرنګه چې د نړی هر شی او هر خصلت پیدایش، ځوانی او زړوالی لری، دغه رنګه د ګلستان عنایت الله کاریز او د عبدالله خان د خانانو اشرافیت هم مخ پر زوال وو— دا زمانه په حدودو کی د ۱۹۲۴— ۱۹۲۵ تخمینوم. په دی وخت کی پر خانانو باندی هر ځای د همسایګانو تیری شروع وو، خو دوی د خپل لړوالی په وجه او اشرافی خصلت په وجه د همسایه ګانو توان نه درلودی— قومی خانی او اعتبار ئې دلاسه ورکړی وو، د جرګی شمولیت ئې ځانته عار باله— که څه هم په جرګه کی خانانو خپل سهم درلودی او شریک وه، خو دوی نه ورتله— په مقابل کی



همسایه قومونه با اعتباره خلګ وه. هم ئې په حکومت کی لاس غځیدی او هم ئې دمړو او پیسو توان درلودی. په ډیره بیا د پښین د اقوامو اعتبار خورا ډیر وو— په دی وخت کی د خانانو مشران ښاغلی عبدالحلیم خان او ښاغلی صدرالدین خان وه چې د ښه اعتبار خاوندان وه. د بد مرغه په هم دغه نزولی سیر کی د خانانو ښاغلی صدرالدین خان د ((وباء)) په ناروغی وفات سو او پر میدان یوائې عبدالحلیم خان پاته سو.

**د ګلستان پرخشکاوه مځکو دسیګیوتیری**: د خانانو ددی کمزوری څخه د سیګیو خلګو ته دا جرئت پیدا سو چې د ګلستان د کاریز پرخشکاوه مځکو خپل تصرفات قایم کی— لومړی ئې د خانانو یوی بندی کړی، وروسته دوی پخپله د مځکو په کرلو پیل وکی— د شمیر په لحاظ د سیګیو خلګ تر خانانو په وارو وارو ډیر وه او مخامخ د دوی سره جنګ مصلحت نه وو ځکه ددی وخت جنګ د سوټی او ډبری وو.

په داسی صورت حال کی خانان خود په خانه سره غونډ سول. وروسته تر صلاح و مشوری ئې عبدالستار خان او حفیظ الله خان د خواجه عمران و اڅګزو ته واستول او د سیګیو په تیری ئې خبر او کومک ئې ځنی وغوښتی چې ژر راسی.

څرنګه چې خواجه عمران غر و ګلستان ته خورا نژدی ربوت دی نو په دی سبا د خلګو پیل وسو. لښکر جوړ سو او و موقع ته ورغلل. خو سیګی ددی دونی لوی جمعیت په مخ کی ټنک نه سوه او شکست ئې ومانه. په دی معرکه کی د اڅکزو لښکر ۳۵۰ تنه حاضر سوی وه. کله چې سیګیو ولیدل چې په زور کار نه کیږی، نو ئې په حکومت کی دعوه دایره کړه – حکومت خانان ور وغوښتل او خانانو ددی مقدمی د پیروی دپاره محمد انور خان وکیل وټاکی – ده په عدالت کی تر ټولو لومړی دا اعتراض وکی څرنګه چې سیګیو د دعوی پوره محصول چې ۴۰۰۰ کلداری سی ندی تحویل کړی، نو ځکه دا دعوه حقوقی ارزښ نه لری او زه تر هغه وخته د دوی جواب نه وایم چې د دعوی پوره محصول ئې نه وی تحویل کړی. پر دی موضوع باندی هیئت مقرر سو چې د قانون له مخي پر موضوع غور وکی. څوهیئت فیصله وکړه چې څلور زره کلداري باید سیګي د دعوي محصول تحویل کړي.په هغه وخت کې څلور زرو کلدارو د اوس وخت تر څلور لکو کلدارو زیات ارزښ درلودی. خو په هر صورت سیګیو پیسې تحویل کړی او تر هغو چې دوی پیسی تحویلولی یو کافی میعاد تیر سو. خو کله چې محمد انور خان د دعوی و اقامی ته و عدالت حاضر سو، ده و عدالت ته وویل، چې د سیګیو دا دعوه تر میعاد تیره او زاید المعاد سوی ده، قانوناً د سماعت حق نه لری.



دده پر دی لنډ جواب باندی عدالتی ډیری جرګی وسوی، خو آخیراً دا تثبیت سوه، چې دعوه واقعاً زاید المعاد ده او مځکه د خانانو حق دی.

تر دی واقعی وروسته خانان و ځانو ته ملتفت سول – او پر خپلو کمزوریو ئې د سره غور وکی او په فامیلی مشوره سره دا فیصله وسوه، چې د اولسی رسوخ او اعتبار سره سره باید حکومتی قدرت هم موجود وی، چې لږ تر لږ ځانونه د نورو څخه خوندی کی نو فیصله وسوه، هغه فامیلی استحقاق د جرګی چې موجود دی و محمد انور خان ته دی ور کړه سی. ده هم ددی قبولی وکړه.

**دجرگی قبولی**: کوم وخت چې حاجی صاحب د جرګی قبولی کوی اغلباً د ۱۹۲۵ع کال په دی وخت کی د جرګی نور پښتانه ممبران کله حاجی محمد ایوب بادیزی. او نور وه جرګی ته نه راتلل او استعفاوی ئې کړی وی. خو دی د نوموړو خلګو وکورو ته ورغی او دا قومی مجبوریت ئې په دوی ومانه. او دوی ئې سره را ټول کړه څو په جرګه کی د پښتنو قدرت وځلیدی. لومړی حاجی محمد ایوب بادیزی د جرګی ممبر شپ قبول کی. بیا محمد ایوب پیر علی زی راغی او وروسته بیا ملک ولات په جرګه کی شامل سو. دوی څلورو تنو یوه اتحادیه جوړه کړه – په پښنین کی په یو ځای کی

اوسیدل او په اتفاق ئې ژوند کاوه– د دوی اتفاق پر قوم دونی اثر واچاوی چې د ټوله قوم ستر ګی ور واوښتلی.

په دی وخت کی محمد انور خان په قوم پر وری دونی مشهور سو چې د بلوچستان د سرحدی قبایلو دعوی به ده ور فیصله کولی او د قبایلی خلګو هم دی معتمد سو. په سرحد کی دشمشوزو (د کریم کهول) چې کومه شخړه د حکومت سره موجوده وه او د کریم کهول د علاقی څخه منع وو، حکومت ور باندی پا بندی ایښی وی، ده ئې د مقدمی پیروی وکړه او د دوی دعوه ئې د دوی د خوښی سره سمه ور فیصله کړه– دمخه تر دی فیصلی دا کهول تیت او پاشان وو، په علاقه کی د بدامنی سبب وو، دغه رنګه نوری قومی فیصلې دده په ذریعه کیدلی چې یو شهره افاق کریدېټ ئې په قوم کی ګټلی وو. چې په خپل وخت کی ئې نظیر نه وو. محمد افضل ادوزی چې د خپل قوم سره ئې بدی درلوده، و ده ته په ګلستان کی پناه راوړه ده د ادوزو دپاره سر پور (دیت یا خونبها) ورټول او دوی ئې دابد دپاره د کورنی بدمرغی څخه خلاص کړه دې او داسی نورو خیرخواهانه هڅو چې د قوم دپاره ئې کولی، په قوم کی د کافی رسوخ او اعتبار خاوند کړ، نه یواځی ده بلکه کورنی خپل وقار او اهمیت بیرته ولاس ته راوړی هغو رقیبو اقوامو او خلګو خوبونه یې چې به ئې ددی فامیل د منځه وړل په خوب لیدل.



**د روشنفکرانو محفل**: تقریباً په حدودو کی د ۱۹۲۵ع په کوټه کی د روشنفکرانو یو محفل جوړ وو، چې مشری ئې عبدالعلی اخواند زاده درلوده– عبدالعلی اخوند زاده په دی وخت کی د طبابت یو دوکان د کوټی په کندهاری بازار کی درلودی، چې دی دوکان ته به د ښار او شاوخوا پښتانه راتله او د ګړ محفل څخه به خوندور کیده. دی محفل ته محمد انور خان هم راتی او زه چې ډیر کوچنی وم یعنی ددوو ((۳)) کالو وم دی دوکان ته به بابا راوستلم چې اوس هم هغه دوکان زما داسی د خوب د حاله پیاد دی.

عبدالعلی اخوند زاده خورا یوه او په اجتماعی مسایلو کی د خپل وخت د علماؤ څخه شمیرل کیدی– حافظه ئې دونی قوی وه چې لږ تر لږه زه خوورته حیران یم هغه داسی:

یو وخت چې زیات و کم ۱۹۴۳ یا ۱۹۴۲ع سنه وه. زه د کوټی پر ریلوی استیشن ولاړ وم او هڅه می کول چې د ګلستان دپاره تکټ واخلم. رش ډیر وو. په دی اثناء کی می ستر ګی پر یوه پښتانه سپین بږیری ولګیدی چې د رش په سبب و یوه اړخ ته ولاړ دی. تکټ نه سی اخیستلای ما ځان د ټکټ فروشی د قطاره را وه ایستی ده ته راغلم ورته ومی ویل بابا تکټ اخلی– را که زه به تکټ درته واخلم. ده پیسی د جیبه را وه ایستی– ما په ټیله وټنبه دوه

ټکټه یو و ده ته او بل ځان ته وکړه — کله چې مې ټکټ ورکاوه — ده راته وه ویل څوانه ته چیری ځی؟

ما ورته وویل: زه ګلستان ته ځم — ده وه ویل په ګلستان کی د چا زوی یې؟ ما ورته وویل د محمد انور خان اڅکزی. دی داسی راته ځیر سو او وی ویل، ښه محمد علم یې. اضافه ئې کړه، رشتیا چې د ښو غوښو ښه ښوروا وی.

زه ورته حیران سوم چې دا سپین ږیری څوک دی چې ما په نامه پیژنی او ما هیڅ لیدلی ندی. نومی پوښتنه ځنی وکړه چې بابا اوس نو ته هم خپل ځان راته معرفی که. ده وویل زما نوم عبدالعلی اخوند زاده دی، کله چې نوم ئې را وښووی، نو می دوباره دده لاسونه ونیول او مچ می کړه — چې ستاسو ذکر زموږ بابا اکثره کاوه. دا وه دده حافظه: چې پس له ۲۵ کاله یو دری کلن هلک په خپل اصلی نوم بولی او چهره یې پیادوی.

په هر صورت د عبدالعلی اخوند زاده په مشری په کوټه کی د شاوخوا پښتنی روشنفکران سره راټولید او پر پښتنی مسایلو به سره ږغیدل، دا هغه شپې دی چې غازی امان الله خان و اروپا ته تګ کوی (۱۹۲۷) او انګریزان د افغانستان په داخلی چارو کی فارورډ پالیسی تعقیبوی او مداخلی کوی. د پښتنو هغه علاقی چې تر انګریزی سلطی لاندی دی، سخت فشار ور باندی پروت دی — هغه وخت چې امان الله خان د اروپا په سفرتی — نو د روشنفکرانو یو شمیر خلک



ئې هم مخی ته راغلی وه. چې په دی جمله کی محمد انور خان هم حضور درلودی. د امان الله خان په لیدو د سیمی پښتنانه د حد د پاسه خوشحاله سول— آن تردی چې ځینو د خوشحالی څخه ژړل او پښتنی احساساتو ئې طغیان کړی وو.

د پښتنین پښتانه پوهیدل چې انګریزان د افغانستان و کورنی شخړی ته پیک وهی. دا مجلسونه او موضوعات به اکثره د عبدالعلی اخوند زاده په دکان کی مطرح کیدل. حاجی محمد انور خان وایي چې د افغانستان په داخلی چارو کی لاس وهنه و لارنس ته ورسپارل سویوه، په افغانستان کی دا سړی کرنیل لارنس په پیر کرم شاه مشهور وو. حاجی صاحب وایي د لارنس عکس ما پخپله د عبدالعلی اخوند زاده سره ولیدی چې نقیب صاحب سید حسن ئې یوه لاس ته ناست وو او حضرت شور بازار ئې بل لاس ته ناست وو— او مجلس ئې سره کاوه. علاوه پردی چې د افغانستان په کورنیو چارو کی انګریزانو مداخلې کولې؛ د افغانستان داخلی خلګو هم د حکومت د نسکوره کولو هڅی کولی. حاجی صاحب په خپله یوه بیانیه کی وایي چې د سقاوی اړودوړ (انقلاب) په سر کی د سلطنت واګی ټوله د بارکزو په لاس کی وی. امان الله خان پر دوی باندی اعتماد درلودی، او دوی ئې ماما خیل بلل. مګر ماما خیلو فکر کاوه، چې څرنګه چې محمدزو د سدوزو څخه پاچهی وه نیوله، موږ ئې بیا د محمد زو څخه د لاسه کوو. ځکه نو بارګزو هم د

انقلاب ولمبو ته پیک وهی او دا دا اور ئې تازه کوی – چنانچه علی احمد خان بارگزی دوه واره ((سقاو)) ونیوی، بیر ته بی سره د انعام ور کولو ایله کی. او ده دوه واره د پاچهی اعلان هم کړی وو – مگر کامیاب نه سو.

په هر صورت دا د افغانستان حالات وه، په دی حالاتو کی د بلوچستان روشنفکران او متحدیدین د عبدالعلی اخوند زاده پر نغری سره را ټولیدل.



# په کندهار کی سقاوی او حاجی محمد انور خان اڅکزی

تقریباً د ۱۹۲۹ په سر کی حاجی محمد انور خان د جرگی ممبر دی. اڅکزی کوشش کوی چې دی د شاهی جرگی غړی سی. د قوم (اڅکزی) او حکومت تر مابین پر دی موضوع چې اڅکزی قوم سردار نه لری او نور قومونه سرداران لری، اختلاف نظر موجود دی – د حاجی صاحب د شاهی جرگی سیټ تقریباً په شرف کی د قبول دی او قوم هم ور سره متفق دی.

عین په دغه وخت کی امان الله خان د سقاو دزویه څخه شکست خوری، د کابل څخه کندهار ته و خپلو ماماخیلو ته راځی. خو ماما خیل یعنی بارکزی ئې پخپله و سلطنت ته غله دی. علاوه پر دغه علت د انگریزانو په لمسون په کندهار کی قومی اختلاف ته هم پیک وهل کیدی. او امان الله خان د درانیت په سبب غندل کیدی او مخالفت ور سره کیدی. سره له دغو ټولو مشکلاتو د کندهار څخه یو لبنکر تیار سو چې تر غزنی ئې د امان الله خان سره ملگری و کړه، تر کابل ونه رسیدل او په غزنی کی ئې شکست وخوړی. بیر ته کندهار ته راغلل او د کندهار

د بدنامی او بیغیرتی سبب سول. امان الله خان سره د فامیله فرار اختیار کړ او د چمن د لاری اروپا ته ولاړی – سقاو حبیب اله د ټول افغانستان پاچا او ننګ د پښتانه سو.

حاجی صاحب وايي – د غازی امان الله خان په دی ډول د افغانستان څخه وتنه د پښتونخوا پښتانه ټوله خورا خواشیني کړی وه. په دغو شپو کی به اکثره د عبدالعلی اخوند زاده پر دوکان دغه موضوع مطرحه وه. او ددی سیمی منورین ډیر په خوابدی وه. یو خو د پښتنو د لاسه پاچهی وتلی وه، بل د کندهار عزت په خاورو لړل سوی وو.

حاجی صاحب وايي: زه پخپله یوه ورځ په موټر کی د مخ په سیټ کی ناست وم. د بازارګی څخه کوټی ته تلم، تر شا په موټر کی نور مختلف خلګ ناست وه. یو هندو و دا نورو خلګو ته ګډ وو او هغه نورو خلګو ور باندی خندل، زه چې ورته ځیر سوم هندو ویل:

((چې یو خو د درانو عورته څه او څه کوم تر کابل پوری، او بل دا خبار والاو عورته څه او څه کوم تر لندن پوری)) خلګو ورته وویل ولی؟ هندو وویل: په دی سبب چې د درانو څخه پاچهی ولاړه د یوه نامرده پزه نه سوه سره نه یو مړ سو. او اخبار والا خوتش درواغ را بار کړی دی. حاجی صاحب وايي: ما د خجالته ځان ناګمان واچوی، خو تکانی ئې ډیر کړم. د سقاوی په وخت کی دغه او دغه ډول نور پیغورونه و پښتنو او د پښتنو و مشرانو ته متوجه وه.



نو ځکه حاجی صاحب تصمیم ونیوی چې د پښتني لمن څخه دا تور داغ پاک کی او د کندهار د ورېندار ګانو پړونی ور پر سر کی.

ده ددی تصمیم د سرته رسیدو دپاره لومړی یوه سرحدی دوره وکړه چې یوه تفریحی دوره وه او په ضمن کی ئې د خلګو د افکارو معلومول وه. بیله دی چې د خپل تصمیم اظهار وکی. دی لومړی توبې ته ولاړی – د چمن د خلګو سره ئې ولیدل – بیا د خواجه مران (خواجه عمران) په غره کی چې کوم اڅکزی وه هغو ته ولاړی د هغو افکار ئې ځان ته معلوم کړه. په دغو دورو کی ده ته معلومه سوه – چې قوم ټوله د سقاوی حکومت په راتلو خواشینی دی. خو د سر سړی غواړی چې بسم الله کی او بیرغ را واخي.

ده د خپل کار پیل داسی وکی: څرنګه چې ملک ایوب حاجی ایوب او ملک ولات چې دمخه ئې ذکر سوی دی؛ دده ټینګ ملګری وه او هم ئې راز ور سره شریک وو، نو ده تر ټولو دمخه خپل راز په دوی شریک کی او د دوی څخه ئې وغوښتل، چې څرنګه چې تاسو هم هر یو د خپل کام مشران یاستی زما سره ملګری او دا قومی ننګه تر سره کی – دوی هر یوه وعده ور سره وکړه، خو پر وخت د ملګری پښیمانه سوه – په هر صورت دده صلاح ګویه ښاغلی عبدالعلی اخوند زاده وو ده و اخوند زاده صاحب ته وویل، چې په دی معرکه کی یوه مترقی ملا ته هم ضرورت دی، زه داسی څوک نه پیژنم، چې هم دی ملا وی، هم دی مترقی وی او هم دی سنګر په خوندی سی. عبدالعلی

اخوند زاده مولوی بهرام خان ورته معرفی کی تر دی وخته پوری لا مولوی صاحب او حاجی محمد انور خان نه سره پیژندل. د عبدالعلی اخوند زاده په معرفی حاجی صاحب د پیر علی زو کلی ته ورغی، چیری چې مولوی صاحب د مسجد ملايي درلوده– هلته ئې مولوی صاحب په حجره کی ولید او د موضوع یادونه ئې ورته وکړه– مولوی صاحب ورته وویل، دا خوښه خبره ده. پر علماؤ او خانانو فرض دی چې دا قومی ننګه تر سره کی. خو زه هغه وخت ستا ملګری کوم، چې تا محاذ خلاص کی او داخل د جنګ سوی.

کله چې ده د مولوی صاحب څخه قول واخیستی، نو برابر خپل کور ګلستان ته راستون سو. په ګلستان کی ئې محمد افضل او ملا قاسم ادوزی چې هم د قوم مشران وه؛ هم یاغی خلګ وه چې ده ته ئې پناه راوړی وه او هم دده همسايګان وه– د دوی څخه په غیر مستقیم ډول پوښتنه وکړه چې که زه د سقاوی په جنګ کی د پښتنو په ننګه ورګډسم. تاسی می ملګری کوی که یه؟ دوی دواړو په خورا ځوانمردی وویل: کله چې ته دا دونی عزت، جائیداد او عیالداری د قوم پر ننګه پریږدی. موږ څه لرو، موږ دی په سر کی ملګری یو– ته مو خان یې موږ دی لښکر یو– څه چې دی امر وی هغه سی به کوو.

نو پس له هغه ده و محمد افضل ته هدایت ور کی چې ته یواځی سرد د کډی د مخه ولاړسه، هلته پنځوس شپیته تنه توپچی



(توپکداره)سره پیدا که– زه در پسی یم. تر هغه ساعته چې زه درځم ته د ایله جاری جنګ ((ګوریلای)) پیل که. محمد افضل سم د هدایت سره په خپل ماموریت ولاړی کله چې ئې پنځوس شپیته توپچی د ډاکو دپاره تهیه کړه نو ئې و حاجی صاحب ته خبر ور کی چې نفری حاضر دی– څرنګه چې د حاجی صاحب د سفر لوازمات لا تر اوسه نه وه برابر، نو ئې محمد افضل ته بیا هدایت ولیږی چې اوس نو چې نفری موجود سوی دی ډاکه شروع کی. څه توپک او کارتوس و غیره جنګی لوازمات و لاس راوړی، زه در روان یم. دوی ډاکې شروع کړی. څه اسلحه ئې پیدا کړه، یو دوه تنه سقاویان یې ټپیان کړه. کله چې دا خبره کندهار ته ورسېدی نو سقاویانو اعلان وکی :هر چا چي د اڅکزی سر راوړی دوه سوه روپی ئې انعام دی– چې په هغه وخت کی ۲ سوه د اوس تر شل زره هم ډیر مبلغ وو.

هلته په داخل کی د افغانستان دده نفر فعالیت کوی، د لته ده خپله اجراآتو ته په ډیره پټه طریقه دوام ور کړی دی– کوم وخت چې امان الله خان د کندهار څخه و غزنی ته لښکر کوي د ګلستان کاریز او عنایت الله خان کاریز ځوانانو د رضاکارانو په توګه د امان الله خان د مرستی په غرض و افغانستان ته د تګ تیاری شروع کړی ؤ. خو انګریزی حکومت دوی بندیان کړه– څرنګه چې د قوم د مشری چینه د حاجی صاحب پر اوږو وه نو دی و پولیټکل ایجنټ ته ورغی چی دوی را خلاص کی. خو ایجنټ دوی بی ضمانت نه

خوشی کول. او ضمانت ځوانانو نه ورکاوه. ځوانان ښه ډیر عمر بندیان وه، بیا په ضمانت ورکولو را ایله سو– د بل طرفه حاجی صاحب پخپله پر سر د سفر وو او په ډیر پټ ډول. آن تردی چې په خپل کور کی ئې لاکس نه وو خبر، څو په پټه ئې یو دوی جوړی کالی را واخیستل، مخ پر چمن را رهی سو. د سنځلی پر اسټیشن باندي ده دا فکر وکی چې چمن ته باید ورنه سی، ولی چې په ګاډی کی چا ورته وویل: چې خان موږ په چمن کی واوریده چې ته افغانستان ته تللی یې. په دی خاطر نو ده د چمن تګ بیخی ترک وهی. خو متأسفانه نه د لاری بلد لری او نه پخپله بلد دی خو دی په دغه چرت کی دی چې څنګه به کوی– کله چې د سټیشن و دروازی ته را ورسیدی چې ګوری حاجی غازی ادوزی په ګاډی کی بی ټکټه سپور سوی دی اوس بابو نیولی دی، غبرګ محصول ځنی غواړی او دی ئې نه لری. ددی موقع په استفاده هغه محصول محمد انور خان و بابو ته ورکی او حاجی غازی ئې را خلاص کی. د حاجی غازی په ملګری لومړی شپه ئې د ملیزی ګوډ نظر محمد کره وکړه. دویمه شپه ئې د ابراهیم خان ملیزی کره وه او دریمه شپه ئې ((آبتو)) ته را ورسوله چیری چې محمد افضل، حیات، شکور جان، غفور جان او نور نفری سره جمع وه.

په دی وخت کی په قرار دا ورید و نادرخان په خپل محاذ کی دوه دری واره ماته کړی وه او نور لښکر چې ور سره ملګری وه. هغه



هم د مایوسی په کنده کی ناست وه. خو د کندهار پر محاذ باندی حاجی صاحب ګوریلایي جنګ پیل کی او هغه سقاوی عسکر چې به د کندهار څخه د نادر خان و مقابلې ته لیږل کیده مخه یې را وګرزوله او دلی په کندهار کی اخته سوه.

وروسته تر یوڅو ورځو حاجی زکوم خان سره د خپل زوی داروخان د محمد انور خان و کیمپ ته ځان را ورساوه– او وی ویل چې زه د محمد انور خان په راتګ خبر سوم، نو ځکه راغلم، چې پر مسایلو سره وږغیږو وروسته تر خبرو اترو دواړو پر دی خبره اتفاق وکی چې واقعاً د سقاویانو ظلم وریندارګانی سر تور کړی دی او دوی یوه قومی ننګه راپیښه کړی ده، باید دا معرکه د پښتو پر ننګه شروع سی.

حاجی محمد انور خان و زکوم خان ته وویل چې پر موضوع باندی اتفاق دی، نو دمخه سه، خو زکوم خان وویل، چې ته د پلار ونیکه د اڅکزو خان راغلی یې په تاپسی ټول اڅک پسی کیدای سی. مصلحت دغه دی چې ته دمخه ئې. هغه وو چې محمد انور خان دمخه سو.

لومړی کار چې دوی په دسته جمعی وکی هغه دا وو، چې د سرحدی تاڼو او و سپین بولدک ته یې خطونه ولیږل او د اڅکزو قیام ئې اعلان کی. ددغه ځایه څخه ئې کوچ را وکی، دویمه ورځ د میل و رباط ته را ورسیدل– په دغه وخت کی مولوی بهرام خان هم

تشریف راوړی او په هم دغه ځای کی د ادرکزو بهیر خپله ملګری ور سره اعلان کړه– خو کاکوزو چې ملک ئې مدد خان وو ملګری نه ورسره کوله– زکوم خان، محمد افضل او ځینی نور کسان په مرکه ور ولیږل سوه او هلته ورته ناست وه. خو مدد خان د سقاویانو حکومت ته خبر ورکړی وو چې ځینی غله راغلی دی، عسکر را ولیږی چې یا ئې ګرفتاره کو یا ئې فراره.

په دغه وخت کی د اڅکزو په لښکر کی ۵۰ تنه ښه غښتلی ځلمیان د جاغوری توپک لرونکی او پنجتیره توپک لرونکی موجود وه– لښکر دلی دوی شپی تیری کړی، په دریم سهار، د میل د رباط له خوا څخه سقاوی سر کاری موټران را ښکاره سوه– چې ګوری عسکر پکښې دی– په دی وخت کی اڅکزی د ستی د هغو کسانو په هڅه کی سول چې د مدد خان کره په مرکه ناست دی و هغوته ئې نوره قوه ور ولیږله او هم ددغه ځایه څخه مسلحانه جنګ شروع سو. څرنګه چې عسکر د موټرانو څخه را کښته کیدل دوی فیرونه ور باندی کول چې کافی تاوان ئې ور واړوی. د عسکرو څخه ډیر مړه سوه. هغه څه چې د موټرانو څخه په کښته کیدو کی موفقه سوی وه پر سپین میدان ئې خپور وکیښ– او اڅکزو د یوه زاړه باغ و انګوری جووته ځان ورساوه او هم دغه جوی ئې سنګر سوی. دلته تر ماښام پوری کلک جنګ وسو، په دی جنګ کی د اڅکزو یو نفر عبدالله غښزی ووژل سو. خود سقاویانو تلفات ځانی او مالی بیخی ډیر وو.



ماښام د جنګ بندی اعلان هم سقاویانو وکی. دا جنګ د مدد خان پر کلی وو، چې وکلی ته د طرفینو له خوا ډیر تاوان ورسیدی– اصلاً داڅکزو اصلي اطاق د ډوریۍ د رود پر غاړه به ریګ کې ؤ. کله چې دلته جنګ بندي وسوه نو اڅکزی بیرته و ریګ ته ستانه سول. او هلته ئې خپل خپل سنګرونه د سبا د جنګ دپاره جوړ کړه. په دی سبا بیا جنګ و موښت، خو د نن جنګ دونی شدید نه وو، لکه د پرون– د نن جنګ د دواړو خواو څخه مدافعانه جنګ وو، کله چې ماښام سو او جنګ بندی وسوه، نو د لښکر مشرانو غونډه وکړه، پر مسایلو او واقعاتو ئې غوروکی او فیصله ئې وکړه، څرنګه چې د اڅکزو سره نه دونی اذوقه سته او نه دونی جباخانه چې په هم دغه میل کی و جنګ ته دوام ورکی، نو ئې دا غوره وبلل چې د کندهار ښار ته ځانونه نژدی کی، چې د هغه ځای اقوام ور سره ملګری او کومک سی او جنګ ته هم هلته دوام ورکی، ځکه چې اصلی غرض هم د کندهار د ښار نیول دی. اڅکزو چې جنګ شروع کړی وو، هغه د کندهار د اقوامو په ننګه وو– د اڅکزو خیال وو چې په مجرد د هغه چې موږ ور ورسیږو، دوی به لبیک را ته ووای– خو حاجی صاحب وایي داسی نه وه، اڅکزو اشتباه کړی وه. ښه په هر صورت په دغه شپه شپه اڅکزو و میل ته کوچ وکی، پر لاری باندی تر یوڅه استراحت وروسته د سپین بولدک یو نفر د اڅکزو لښکر ته ورغی او دا پیغام ئې و دوی ته ورکی چې په سپین بولدک کی هم انقلاب شروع سو او

مهردل خان ئې د خپل غونډ مشر مقرر کی– په دی وخت کی اڅکزو ته دا خیال پیدا سو، چې ددی سړی پیغام خو به کوم عسکری چال نه وی چې د هغه ځای اڅکزو د حکومت په مجبوری دا ډول پیغام رالیږلی وی– دوی فکر وکی، شاید حکومت د کندهار او سپین بولدک خواوی تقویه کوی او غواړی چې موږ غافله کی او محصور موکی، نو دوی احتیاطاً هغه قاصد بندی کی او خپله د ریګ وچول ته وختل– او د نورو معلوماتو په انتظار سوه چې اصل کیفیت معلوم کی چې صورت حال څه دی؟

په دی سبا معلومه سوه چې دا کوم عسکری چال نه وو، بلکه حقیقت وو، د سپین بولدک غونډ د سقاویانو پرضد قیام کړی وو او سقاویان ئې تبنتولی وه. کله چې سقاویان و میل ته را ورسیدل، جنګ د تخته پل په غره کی شروع سو، اڅکزو هم ځانونه ور ورسول– په دی وخت کی د مشرانو په قومنده پر دوو برخو وویشل سوه. یوه برخه د کندهار د ښار و لویې لاری ته سنګری سوه– چې د ښار څخه نوری قواوی را ونه رسیږی او هم هلته ئې تم کی. بله برخه د اڅکزو د لښکرو ومیل ته ورغله چې د مهردل خان د غونډ ملاتړ سی. اوس نو د اڅکزو یوه قوه د ((حاجی ده)) په کلی کی پر سړک حاکمیت لری او بله قوه ئې د غونډ ملګری کوی– خو کله چې مازدیګر سو، نو د سقاویانو هڅه د کندهار د ښار پر لور سوه– او د ماشیندارو جنګ ئې په داسی شدت شروع کی چې حد نه لری– خو



د اڅکزو حکمت عملی دا وو، چې د ماشیندارو د مسلسلو فیرو په مقابل کی ئې یو ټک لانه کوی– او کوشش داسی کوی چې سقاویان دا فکر وکی چې دلته څوک نشته– او کله چې د توپک تر خولی لاندی سوه، هلته به برید ور باندی کیږی– هم دغه سی وسوه. کله چې دوی را نژدی سوه نو فیرونه ور باندی وسوه، دوی داسی ((واښ وغوزی))[5] سوه، چې لار ځنی ورکه سوه او د قلات او مهمندو لار ئې واخیسته– سامانونه ځنی پاته سوه، او بری حاصل سو. په دی وخت کی د سپین بولدک څخه یو موټر د ډوډی راغی او هغه ولښکر ته ور وویشل سو– تر ډوډی خوړلو وروسته د اڅکزو مشرانو بیا غونډه وکړه چې په دی غونډه کی فیصله وسوه، چې زموږ مقصد خو د کندهار ښار دی، دلته باید وخت ضایع نه سی، ځکه امکان لری چې سقاویان سبا د ښور اندام او د ذاکر بند راته محکم او خپل عسکر هلته واچوی نو دوی کوشش وکی چې ژر تر ژره خپل ځانونه و نوموړو ستراتیژیکی ځایو ته ورسوی– نو هم په دغه شپه را کوچ سوه سهار وختی تر ټوله لښکر دمخه د حاجی محمد انور خان ډله د ذاکر بند ته را ورسیده او نور موفقه سوه چې ښوراندام ونیسی. په دی ګړی کی پر فضا باندی د الوتکی بړغ واوریده سو او بیا وروسته طیاره ولیده سوه چې د کابل څخه را رهی سوی وه. د ښوراندام نفرو فوراً د طیاری پر لور ور وځغاستل او په تراټ ئې ځانونه ور ورسول، د

۵– ((واښ و غوزی)) د پښتو اصطلاح ده یعنی تیت و پاشان، وارخطا.

طیاری پیلوټان کامیابه سره وتښتي خو دې نفرو طیاره ماته کړه سامان چې عسکري مهمات پکښې کې وه، هغه یې تصرف کړه او څه اسلحه هم لاس ته ورغله. د اڅکزو لښکر هم ښار ته ورسیدی، او ښار محاصره سو. دروازی د ښار بندی سوی، کلا بندی شروع سوه.

پس له دوو (۲) ورځو مهردل خان را ورسیدی، څرنګه چې عسکرو دی په مشری منلی وو او وخت هم ډیر باریک وو، نو اڅکزو هم دی په مشری قبول کی او د ښار د باندی د مهردل خان حکومت سو. وروسته تر پنځو ورځو قلعه بندی محمد اسحاق خان اڅکزی د خاکریز د خپلو لسو تنو سره را ورسیدی او بیا داسی اوازی خپری سوی چې معصوم خان علیزی او عبدالعزیز خان الکوزی هم را روان دی. چې دا آوازی و لښکر ته لوتسلی وه — مګر کوم وخت چې معصوم خان او عبدالعزیز خان را ورسیده. د معصوم خان سره فقط دوه تنه ملګری وه او عبدالعزیز خان شل (۲۰) نفره درلودل. خو په هر صورت جنګ شروع وو. مګر اڅکزی د کندهار په ملګری هوسا نه سوه — او نه دوی جنګ کاوه.

یوه تر ټولو لویه بده خبره چې پیښه سوه هغه دا وه چې د ښار تر کلا د باندی چې کوم سقاویان وه، هغه د محمد نعیم بابی په سر کردګی سره را ټول سوه او تر کو ئې هم ملګری وکړه، دوی خپل مرکز د مهمندو رباط وټاکی. ددی قومی مخالفینو شمیر په حدودو کی د ۴ یا ۵ سوو تنو ته رسیدی. څرنګه چې هلته د مهمندو په



رباط کی د اڅکزو هم یو لږ شمیر خلګ موجود وه نو د هغو د کومک په خاطر زکوم خان او محمد خان سره د یوڅو تنو نورو توپچی ور ولیږل سوه. دغه رنګه په دی وخت کی محمد انور خان ته وظیفه ور کړه سوه چې د کلا د کلا بندی مراقبت کوی او سقاویانو ته د دباندی څخه کومک ور نه کړه سی.

څرنګه چې د مهمندو د رباط وضعیت ورځ په ورځ وخامت پیداکوی نو مهردل خان، معین خیروجان او حاجی محمد انور خان غونډه وکړه. مهردل خان حاجی محمد انور خان ته وویل، چې دا کار بی تانه کیږی. ته د خپلو نفرو سره ورسه او موضوع چې څرنګه حل کیږی هغه سی ئې فیصله که. په دی وخت کی محمد انور خان د ښار د خلګو څخه شکایت وکی او و مهردل خان ته ئې وویل تاسی د ښار خوانین یا خو د کندهار د ښار د قلعه بندی ذمه واری قبوله کی او یا د مهمندو د رباط شخړه فیصله کی، یوه ذمه وایي خو د موږ څخه واخلی — په دی وخت کی خیروجان پوپلیی وویل: چې په موږ والله که یوه خوا جوړه وی، جنګ تاسی شروع کړی دی تاسی بی ختموی.

آخیر حاجی صاحب مجبور سو، د خپلو نفرو سره د مهمندو و رباط ته ورغی: دی وای کله چې زه ور ورسیدم هلته دوی د مصالحت خبری شروع کړی وی، چې مقصد ئې دا وو، چې موږ په تاسی کار نه لرو تاسی په موږ کار مه لری. د سقاویانو حکومت هغه

دی جوړ دی، نوری فیصلی به حکومت کوی، چې څرنګه لازمه وی. حاجی صاحب دا مصلحتی روغه فوراً رد کړه او و مهردل خان ته ئې خبرورکی چې د ستی باید را ورسیږی– لښکر پر بله خوا لغړی خو فقط زی مخالف یم. مهردل خان ته چې خبر ورسیدی دی هم فوراً را ورسیدی.

په دی وخت کی تره کو او سقاویانو د قلا څخه قرآنونه را څړولی وه، چې هم ئې د سرنجات غوښتی او هم ئې ډوډی غوښتله. او هلته په مهمندو رباط کی د روغی غونډه روانه وه. په دی غونډه کی د کندهار د ټولو متحاربو قومو مشران سره را غونډ سوی وه. څو په آخیر کی ئې داسی فیصله وکړه: چې ټوله تره کی دی سره د خپله مشره وکیل خدایداد خان ایله سی، او توپک دی هم نه ځنی اخستل کیږی– خو د سقاویانو څخه دی توپک ټول او دوی دی بندیان سی– او دا فیصله عملی سوه. د مهمندو رباط هم فتح سو– خو په دی سهار د کندهاری خانانو او اڅکزو ترمنځ دا تنازعه پیدا سوه چې کندهاری خانانو وویل اڅکزی دی د مهمندو رباط ټینګ کی او کندهاری خانان به د ښار و محاصری ته ورسی، خو اڅکزو د کندهار د ښار د فتح افتخار دوی ته نه ورکاوه او په خپله د ښار و محاصری ته ور روان سوه– ماپښین اڅکزی و ښار ته ورسیده– او سقاویان په دی خبر سوی وه چې د مهمندو رباط اڅکزو فتح کړی دی او هم په هغه فیصله خبر سوی وه، چې سقاویان به خلع سلاح



کیږی او بندیانیزی به خو هغه کندهاری کسان چې په ښار کی محاصره وه– هغه د مهمندو پر فیصله خوشحاله سوی وه.

په دی وخت کی په کرزکی د مهردل خان په مشری یوه غونډه جوړه سوی وه، چې پر مسایلو غور وکی او حاجی محمد انور خان و دی غونډی ته ور روان وو، چې په لاره کی ئې ولیدل خلګ ټول د ښار پر لور ورځغلی او وایی د ښار دروازی خلاصی سوی. څرنګه چې د حاجی صاحب ځینی سکه تر برونه لکه عبدالستار خان او نور په ښار کی د سقاویانو ګروګان او بندیان و د بل طرفه د مهردل خان هغه غونډه چې په کرزکی ئې جوړه کړی وه مشکوکه سوه– نو ده هم د ښار پر لور مخه را وکړه چې د عبدالستار خان دوی درک معلوم کی. کله چې د ښکار پور دروازی ته ورسیدی، چې ګوری خلګو زینی ایښی وی او پر کلا ورختل او په ښار ورننوتل. نو حاجی صاحب هم دغسی وکړه او ښار ته ورغلی– په دی وخت کی لا د ښار په ارګ کی جنګ شروع دی او په ښار کی حاجی کرو، چې د سقاویانو د زور طرفدارانو څخه وو، چا و یشتلی وو او مړی ئې پروت خلګو ئې نندارہ کوله. دی سړی پر اڅکزو د کفر فتوا کړې وه. کله چې حاجی صاحب و ښار ته ور داخل سو، نو تر ټولو لومړی ئې هڅه وکړه– چې ځان د ښار و بندیخانی ته ورسوی، چې عبدالستار خان دوی چې سقاویانو دده د تر برو په جرم بندیان کړی دی، دوی او نور بندیان را خوشی کی. خو کله چی دی د ارګ وخولی ته را

ورسیدی، نیاز محمد خان چې دده یو بل تر بُر وو هغه په مخه ورغی هغه خبر ورکی چې عبدالستار خان او نورو بندیانو دوخته لا بندیخانه ماته کړی او وتلی دی. په دغه اثناء کی د ښار دروازی خلاصی سوی او د کندهار ښار فتح سو.

**د کندهار تر فتح وروسته**: ګمان کوم دا وخت یا د ۱۹۲۸ع پای او یا د ۱۹۲۹ کال سر دی چې اڅکزی سر تیری کندهار د سقاویانو د منګولو څخه ژغوری او د وریندارګانو پړونی پر سر ور سموی. تر فتح فوراً وروسته د مشرانو غونډه وسوه او پر اداری او نور چارو غور وسو– په دی غونډه کی مولوی صاحب بهرام خان اڅکزی د ښار د قاضی په صفت مقرر سو.

بله موضوع چې تر غور لاندی راغله، هغه دا سوال وو چې آیا موږ دا جنګ د امان الله خان دپاره کوو، که د نادرخان دپاره– ځکه چې په دی وخت کی امان الله خان د هیواد څخه وتلی وو او نادر خان و وطن ته را روان وو.

که څه هم نادر خان پخپله هم په وارو وارو دا ویلی وه، چې زه د امان الله خان دپاره جنګیږم، او اڅکزو هم لومړی پیل د امان الله خان دپاره کړی وو– خو کله چې نادرخان و افغانستان ته داخل سو، نو ئې تصمیم واوښت.



اوس اڅکزی او کندهاری خانان د هم دغه سوال سره مخامخ وه، چې بیعت چاته ور کی؟– خو بالنتیجه دا فیصله وسوه، څرنګه چې امان الله خان اوس د هیواد څخه وتلی دی او محمد نادر خان ددی مقام دپاره موزون شخصیت دی او د امان الله خان بیرته راتګ ناممکن هم دی او امکان لری دده طرفداری یوه بله خانه جنګی پیښه کی– نو اڅکزو هم دا فیصله خوښه کړه– او محمد نادر خان ئې تائید کی.

**د نادر خان سره مفاهمه**: کوم هغه رپوړټونه او اطلاعات چې به د نادر خان د محاذ څخه کندهار ته رسیده هغه مایوس کن وه– په دوه دری محاذ کی نادر خان په لومړی سر کی ماته خوړلی وه. څو نادر خان د هغه ځای د قبایلو سره د کابل د چور وعده و کړه– او قبایل د نادر خان سره د کابل د چور په خاطر ملګری سو.

پر دی موقع کندهاریانو او اڅکزو وه محمد نادر خان ته یو لیک د ښاغلی عبدالکریم خان بارکزی په ذریعه ور ولیږی. چې د لیک مطالب ئې داسی وه:

((موږ خپله سیمه د کندهار د سقاویانو څخه خلاصه کړه. او هڅه کوو چې نور افغانستان هم له دغه توری دوری وباسو. اوس

دادی تر غزنی در رسیدلی یو– او خیال مو دی چې پر کابل حمله وکو. ستاسو هدایت او نظر په دی باره کی څه دی؟))

هغه وخت چې عبدالکریم خان بارګزی د کندهاریانو له خوا د استاذی په توګه محمد نادر خان ته ورتی؛ نادرخان تازه په یوه جنګ کی ماته هم کړی وه– نو نادرخان و بارکزی ته وویل، ته ولاړسه نن شپه چیری وکه– سبا موږ قومی جرګه جوړه کړی ده– ته به راسی، په داسی حال کی چې لکه موږ و تاسی چې هیڅ نه وی سره لیدلی او دا لیک به راوړی.

عبدالکریم خان هم دغسی وکړه، هغه شپه ئې چیری په یوه کلی کی تیره کړه، په دی سهار چې قومی غونډه جوړه وه عبدالکریم خان ورغی او د کندهار له خوا ئې لیک ورکی.

نادر خان دا لیک په جرګه کی ولوست او زیاته ئې کړه چې افسوس کوم، هغه وعدی چې ما ستاسو سره کړی وی، چې د ارګ خزانی او د کابل چور به ستاسو وی هغه دادی اوس نور خلګ را باندی دمخه سوه– خواری او جنګونه موږ وکړه– کنداریان را ورسیدل، نژدی دی چې کابل ونیسی– زموږ نیکنامی او خواری ټوله په خاورو ګډی سوی!

کله چې جرګی د کندهار دا بیان واوریدی، نو په ټولو کی یو ولوله پیدا سوه، دوی ټولو و غوښتل چې بس دا اوس د کابل پر لور



حرکت وکی– ځینو کسانو د جرګی داسی پیشنهاد وکی، چې لومړی باید پر کابل ورسو او ځینو بیا اول ګردیز پیشنهاد دوی خو په پای کی دا فیصله وسوه چې سبا د وزیرو قوم سره د خپلو مشرانو را رسیږی، څه ډول چې د هغو خوښه وه، هغسی به وسی– کله چې وزیر په دې سبا راورسېدل هغو فیصله وکړه چې په ګردېز کې د سقاویانو ډېر عسکر پراته دی او زموږ اصلی مقصد هم د کابل نیول دی نو باید نیغ پر کابل ورسو. هغه وو چې پر کابل ئې حمله وکړه او کابل فتح سو(۱۹۲۹ع).

کله چې کابل فتح سو نو نادر خان په اداری سمون ګوتی پوری کړی او هر چیری ئې مقرری وکړی.

**د مهردل خان بدمرغی**: وروسته تر یو څو شپو کندهار ته عبدالغنی خان د نائب الحکومه په ډول، د کابل څخه مقرر سو، او هم سردار محمد هاشم خان د نادر خان ورور د کوټی له لاری کندهار ته را ورسیدی– خو دوی دواړه مهردل خان تر نظارت لاندی نیولی وه او دوی هیڅ اجراآت نه سوای کولای بلکه نظر بند وه.

بیا مهردل خان د کندهار د خوانینو سره یوه غونډه وکړه، چې په دی غونډه کی اڅکزی مشران هم حاضر سوی وه. مهردل خان و مجلس ته وویل، چې زه سردار محمدهاشم خان او عبدالغنی خان

نائب الحکومه په کندهار کی نه پریږدم، تاسو خصوصاً اڅکزی دی د ماسره ملګری وکی – په دی مجلس کی پخوانی نائب الحکومه محمد سرور خان هم ناست وو، محمد سرور خان سر سرتور کی او وی ویل، چې روی د خدای دی، مسلمانان مه سره قتلوی. بیا حاجی محمد انور خان ولاړ سو د اڅکزو په نمایندګی ئې وویل: موږ چې د لومړی سره په جنګ پیل کړی دی، غرض او غایه مو د وریندارګانو پړونی پر سر سمول وو. اوس شکر د خدای په فضل هغه مقصد حاصل سو، نور نو برادر کشی او در بدری قوم ته نه راوړو. کله چې مهردل خان د اڅکزو جواب واوریدی، نو نور څه ئې ونه ویل او پټه خوله سو. په دی سره مجلس هم برخاست سو.

په دغه شپه سردار عزیزالله خان د کندهار د اڅکزو ډودی کړی وه. په دعوت کی عزیزالله خان د سردار محمد هاشم خان او عبدالغنی خان نائب الحکومه له قوله وویل: چې د اڅکزو څخه دا پښتنه وکه، چې تاسو دا جنګ د چا دپاره او دڅه دپاره کړی دی؟ –

حاجی محمد انور خان په جواب کی ورته وویل: اڅکزو دا جنګ د قوم پر ننګه کړی دی او په قوم کی چې هر څوک ددی کار دپاره موزون وی، د هغه دپاره – څرنګه چې په اوس وخت کی تر محمد نادر خان بل څوک زیات موزون او مستحق نشته نو مو د محمد نادر خان دپاره دا جنګ کړی دی.



سردار عزیزالله خان اضافه کړه. چې داسی ده، نو ئې و هغه ته ور وسپاری، او د حکومت واګی ئې په لاس کی وکی. اوس خو دادی مهردل خان پاچهی کوی.

محمد انور خان ورته وویل، چې اوس د مداخلی وخت ندی که اڅکزی مداخله وکی شاید قومی بلوا ځنی پیښنه سی – او دا به یونا قابل تلافی پیښنه وی.

سردار عزیزالله خان اڅکزو ته داسی وړاندیز (پشنهاد) وکی. څرنګه چې سبا سردار محمد هاشم خان په عیدګاه کی تقریر کوی او ټوله خلګ هلته را وزی، خو تاسی اڅکزی و عیدګاه ته مه راوزی، تر څو چې محمد هاشم خان را وتلی نه وی. کله چې محمد هاشم خان راووتی، نو دی اڅکزی د سړک پریوه غاړه او بله غاړه، سره د خپلو ټوپکو و دریږی. چې مهردل خان په دی پوه سی چې اڅکزی د محمد هاشم خان طرفداره دی او اڅکزو هم دغه سی وکړه.

اصل نقشه د مهردل خان داوه چې سردار محمد هاشم خان او عبدالغنی خان نائب الحکومه به په دغه ورځ وژنی – خو اڅکزو د دوی د سر ساتنه وکړه – او مهردل خان ته دا موقع نه سوه پیدا چې دوی مړه کی. مهردل خان په خپل امریت کی خورا خود سری درلودلی. د مبادا هیڅ فکر ورسره نه وو، قتل ؤ د قتال ئې ډیر کاوه. حاجی صاحب محمد انور خان وایي: یو سهار زه د مهردل خان سره ناست وم. چای موچښلی، سید عمر جان آغا د زنګ آباد هم

را سره وو چې یو معزز، سپین ږیری او آبداره سړی سپایانو راوستی. مهردل خان لومړی په پوچ وفحش او ښکنځلو پیل وکی او هر څه چې پر خوله ورتله، هغه ئې ورته وویل، وروسته را معلومه سوه چې دا سړی حاجی یعقوب دی. مهردل خان د پوچ ویلو وروسته سم دلاسه امر ورباندی وکی چې بویي زی چار ماری (تیر باران) ئې کی. سید عمر جان ډیری زاری ورته وکړی خو مهردل خان نرم نه سو، څو زه مجبوره سوم چې مداخله وکم. ده ورته وویل څوک چې وژل کیږی باید د محکمی تر فیصلی وروسته د محکمی په حکم تیر باران یا وځړول سی – ته څنګه دا کار کوی. دا خو سم دم قتل دی، زه دا اجازه نه سم در کولای چې زما په مخ کی ته داسی وکی. اوکه ته ډیر ټینګ سی – نو د سړی د بند اختیار به درکم. مهردل خان هم دغه خبره خوښه کړه او سړی ئې بندی کی – بیا وروسته محمد انور خان د حاجی یعقوب په خلاصون پسی سو او د بند څخه یې هم خلاص کی او نجات ئې ورکی – کله چې محمدهاشم خان د کندهار په عیدګاه کی تقریر وکی، نو په کندهار کی حکومت جوړ سو عبدالغنی خان والی سو، محمد هاشم خان د کندهار څخه د محمد نادر خان په نامه بیعت واخیستی. بیا د کندهار خوانین سره د مهردل خان د محمد هاشم خان سره مخ پر کابل را روان سول. او پر ټوله لار باندی پر محمد هاشم خان باندی اڅکزو پیره کوله.



**د محمدهاشم خان او حاجی محمدانورخان اړیکی**: دلته دا خبره د ذکر وړ ده، علاوه پر هغه چې محمد انور خان د اڅکزو او د سقاوی د معرکی د غښتلو کسانو څخه وو، د سردار محمد اسحاق خان په ذریعه هم و محمد هاشم خان ته معرفی سوی وو او هغه داسی :

> سردار محمد اسحاق خان چې د امیر حبیب الله خان د وختو څخه د افغانستان څخه فراره وو په کوټی کی اوسیدی. دده و دوو زامنو سردار عبدالله جان او سردار سلطان جان ته د کوټی عبدالواحد خان درانی دوی لوڼی ورکړی وی او یوه لوریی و محمد انور خان اڅکزی ته ورکړی وه – چې په دی لحاظ د سردار محمد اسحاق خان زامن او محمد انور خان سره باجه ګان وه – کله چې محمد هاشم خان د کوټی د لاری کندهار ته راتی نو په کوټه کی ئې شپی د سردار محمد اسحاق خان پر کور وی او سردار محمد اسحاق خان محمد انور خان په ټوله معنیٰ محمد هاشم خان ته ور پیژندلی وو – او محمد هاشم خان دی ښه پیژندی.

**په کابل کی د مکافاتو غونډه**: د کندهار او اڅکزو خوانین چې د محمد هاشم خان سردار په بدرګه کی د کندهار څخه و کابل ته

را ورسیدل، دا دقوس میاشت وه یعنی (نومبر او ډسمبر ۱۹۲۹ع) چې کافی یخ وو – او زیات وکم دوی یوه میاشت پاته سول.

په دی اثناء کی سردار محمد هاشم خان د هیواد د صدراعظم په توګه اعلان سو. څو ورځی وروسته صدراعظم د مکافاتو د ورکولو یو مجلس اعلان کی، چې د کندهار د اقوامو څخه ئې هر قوم جلاجلا ور وغوښت.

کله چې د اڅکزو واری سو– نو ئې و هغو اڅکزو ته چې په کندهار کی ځایی دی هغو ته ئې وه ویل– چې تاسو ته مکافات نه درکړه کیږی، ځکه چې تاسو خپلو ځانو او خپل وطن ته خدمت کړی دی. نور حق نه لری– خو هغه کسان چې د سرحد اڅکزی دی او یا د خارج څخه راغلی دی، هغه د مکافاتو مستحق دی. تر ټولو لومړی نوم چې د مکافاتو د ورکولو دپاره واخیستل سو، هغه زکوم خان اڅکزی و. ده ته ئې ملکی فرقه مشری او دری زره کابلی سالانه تنخواه ور مقرره کړه– دویم سړی حاجی محمد انور خان وو چې دی هم ملکی فرقه مشر او دری زره کابلی سالانه تنخواه ورته مقرره سوه. او هم د مکافاتو فرمان ورکړه سو– دریم سړی حیات خان وو، چې غونډ مشر مقرر او دوه زره کابلی سالانه ورته وټاکل سوی. په دی مکافاتو حیات خان قناعت و نه کی او وی ویل، چې زه د پورته دووکسانو په څه کم سوم؟ که قوم دی او خانی ده، خو زه هم قوم لرم او هم خانی! پر دی باندی محمد هاشم خان ور



باندی په قهر سو. دی خاموش سو– د حاجی محمد انور خان د فرمان متن داسی وو:

فرمان نمبر ۲۵۹۴
فرمان پادشاهی
برج قوس ۱۳۰۸

عالجاه صداقت همراه محمد انور خان ولد سعادتملوک خان اڅکزی ساکن ګلستان کویته از خدمات شایسته و مساعیات جمیله شما حضور والای ما خور سند و رضامند است– شما را بمکافات این خدمتګذاری تان بمنصب جلیله ((فرقه مشر ملکی)) مقرر و سر فراز نمودم– بفرمان هذا شما را از نائل ګردیدن به این رتبه رفیعه اګاه نموده، از خداوند توفیقات مزید خدمتګذاری برای تان خواستارم.

محمد نادر ((مهر دولتی))

دغه ډول یو فرمان چې د پورته فرمان مطلب پکښی ځای سوی دی، د وزارت حربیی له خوا په نمره د ۳۵۶ مورخه ۱۳۴۸ هـ ق مطابق د ۱۹۲۹ع کی د وزیر صاحب حربیه شاه محمود خان په امضاء صادر سوی دی.

کله چې د محمد هاشم خان د مکافاتو غونډه پای ته رسیده، نو حاجی محمد انور خان ولاړسو، د حکومت د قدردانی څخه ئې تشکر وکی – او ضمناً ئې اضافه کړه – چې د کندهار فتح موږ دغه ناستو خلګو یواځې نده کړی، بلکه یو شمیر نور خلګ، چې دلته حاضر ندی او نه دی راغلی هم د قدر وړ ونډه درلودلی ده، هیله ده چې هغه هم د مکافاتو څخه بې برخې پاته نه سی.

سردار محمد هاشم خان وویل، ښه دی، د هغو نومونه لست که. ده ئې نومونه ولیکل، خو حیات خان او زکوم خان دلست د کسانو مخالفت وکی او نژدی ؤ چې ددی موضوع څخه لویه شخړه جوړه سی – خو د محمد اسحاق خان اڅکزی په مداخله موضوع رفع دفع سوه – او اصل مقصد د لاسه ووتی.

ملک شاهنواز خان ادوزی پر حاجی محمد انور خان لفظی تعرضونه وکړه – خو ملک نظر محمد او ابراهیم خان میلیزو د شاهنواز خان تعرضونه رد کړه او علاوه ئې کړه چې دا موجوده سرخ رویی و اڅکزو ته دده په وجه ده، نه یواځی دی زموږ د پلار ؤ نیکه خان دی – بلکه دده کورنی د پخوا څخه د ټولو اڅکزو مشران راغلی دی – بیا وروسته محمد هاشم خان دو شاهنواز ادوزی ته مخ ور واړوی او ورته وی ویل، چې زه محمد انور خان د پلار او نیکه پیژنم – دی ستاسو په ملکی او خانی اړه نه لری.



په هر صورت د مکافاتو مجلس سرته ورسیدی – هر چاته د خپل حال سره سم ځینو ته منصبونه، ځینو ته مستمری تنخواوی – او کنداریانو ته حکومتونه ورکړه سوه. خو محمد انور خان ته د ملکی فرقه مشری منصب – مستمری ۳ زره تنخواه د کاله او هم د کشکنخود حکومت ورته ورکړه سو – ده ته محمد هاشم خان صدراعظم دا هم وویل چې که ته خیال لری چې د پښتونخوا ګلستان ته بیرته ولاړ سی، نو دا تنخواه تاته هلته هم در کړه کیدای شی. خو حاجی صاحب وایی، ((ما د افغانستان و ژوند ته ترجیح ورکړه . ځکه چې زما خیال وو، د دا دونی لوی خدمت په صله کی به زما اود عیال آینده ژوند اسوده وی. او یو ابرو منده زندګی به تیره کم. خو بیا وروسته دا رامعلومه سوه چې زما دا خیال زما د بی تجربګی وو د افغانستان په پیژندوکی )).

کله چې د مکافاتو مجلس په کابل کی پای ته ورسیدی، نو د کندهار خوانین ټوله پر لور د کندهار را رهی سوه موسم ډېر یخ دی. واوره پرته ده. د دوی لباسونه هم لکه شاید وباید داسي نه دي چې د یخ جواب ووايي. غزنی ته را ورسیدل، شپه ئې دلی د غزنی د حاکم سره تیره کړه – په دی سهار چې دوی حرکت راکوی، و حاکم ته خبر را ورسیدی چې لار د اندړو قوم بنده کړی ده، څوک نه سی تیریدای. حاکم و خانانو ته وویل، چې زه به ئې وه مقابلی ته کوټوالیان ور ولیږم، کله چې لار پاکه سوه تاسی به حرکت وکی. د

صدر اعظم صاحب هم دغه سی مشوره وه. حاجی محمد انور خان دا نظر تائید کی – خو معصوم خان وویل موږ د رود سیل یو، خاشی زموږ په مخ کی نه سی ټنګیدی. درځی چې پر ورځو. دا وخت مازدیګر هم دی – شپه را روانه ده. خو دا د ایله جاری تصمیم وو، هله هله په ګډه سوه او را روان سوه – کله چې د شیرخان و کلاته ورسیدل هلته اندړو سنګر نیولی وو، او سړک تر دغه کلا لاندی تیریږی – چې د کلا د توپچی تر کره ول لاندی دی. اندړ په نوبت نوبت جنګ ته راوزی، هم تاوده دی هم په لباس پټ دی. واوره تر ځنګانه پر ته ده، خو جنګ روان دی، یو پر بل ټکان شروع دی.

معصوم خان پخوا لا په غزنی کی پاته سوی وو، حاجی محمد انور خان چې دا حال ولیدی، نو ده او یو ځوتنو نورو و بلی کومی نژدی سرکاری کلا ته ځانونه ورسول – پر پاته خلګو چې شپه پخه سوه او یخ راګیر کړه، نو ئې د وزیرو و کلاته چې هم سرکاری کلاوه ځانونه ورسول – په دی سهار نور عسکر هم راغله، هغه غلو چې لار بنده کړی وه، وتښتیدل او لاره خلاصه سوه. دوی په خیر و عافیت کندهار ته را ورسیدل.

**د ژوند ستونځی او ټکری**: حاجی محمد انور خان د خپلو مکافاتو په باب و سردار محمد هاشم خان صدر اعظم ته ویلی وه.



چې زه اصلاً زمینداریم، په دی دری زره کابلی د کاله زما ګزاره نه کیږی – لطفاً د غونی مځکه را که چې سالانه حاصلات ئې دغه دری زره کابلی وی – څرنګه چې په دی وخت کی سر کاری خزانه تشه وه، نو د حاجی صاحب دا پیشنهاد محمد هاشم خان په ورین تندی ومانه او فرمان ئې صادر کی. کله چې محمد انور خان کندهار ته د کابله څخه ورسیدی، نو ئې هغه فرمان و عبدالغنی خان نائب الحکومه ته راوړي چې سم د فرمان سره مځکي تصرف کي. عبدالغني خان له مستوفیت څخه د سرکاري املا کوکتاب را وغوښتي چې په هغه کې د ملک سره سم سالانه عاید هم معلوم وو. محمد انور خان مځکي خوښي کړي. او د مځکو د تسلیمولو د پاره ئي خپل نماینده نیاز محمد خان چې دده تربور هم وو وټاکی. دي پخپله د خپلو کډو په راخوندي کیدو لګیا سو چي په کوټه کي دي.

کله چې محمد انور خان د کندهار څخه را روانیدي نو د ښار معززینو، نائب الحکومه عبدالغني خان سره د یوي ټولي عسکرو په عسکري سلامي او باجه خانه رخصت کي . وروسته تر عسکري سلامي حاجي صاحب د حکومت او اولس څخه د کندهار ممنونیت وکي او و خپل موټر ته راغي چې په کابل دروازه کي وو. د ارګ څخه بیا تر کابل دروازې پوري ښاغلي سعیدجان محمد زي داود شاه خان الکوزي او ځینو نورو معتبرینو ئې ملګري وکړه او د باجې د آخري سلامي په اخیستو د چمن پر لور را رهي شو.

# پښتونخوا او حاجي صاحب

په چمن کي دی د محمد رفیق خان لاین افسر کره ورغی چې دده تربور هم وو. ده هلته شپه وکړه. دلته دی د خفیه پولیسو تر نظارت لاندي وو. په دې سهار د چمن اي اې سي نور احمد خان محمد زي د ځان سره و کوټې ته راورسوی او شپه ئې هم د نور احمد خان محمد زی کره وکړه.

وروسته په دغه ورځ د پولیټکل ایجنټ په امر دی د کوټې په حدودو کې نظر بند اعلان سو.او دی ولاړی د عبدالواحد خان پوپلزي کره چې دده خسر هم وو. وروسته تر درو میاشتو ده ته اجازت ورکړه سو، چې د کوټې تر احاطې د باندي وتلای سي. نو دي برابر و خپلي ابایي میني ته د ګلستان ولاړی.

په ګلستان کې ده ته د نیاز محمد خان یو لیک راورسیدی چې په کندهار کې حکومت ما ته ستا مځکي نه راتسلیموي.

او په دغه وخت کي بله پېښه دا وشوه چې عبدالصمد خان اڅکزی او محمد ایوب خان اڅکزی د نورو ملګرو په مرسته د هندوستان د کانګریس حزب په ملګري خپل سیاسي حرکت



پیل کی. دا خبره د یادوني ده چې د انګریزانو په وخت کې دا مهال لاو بلوچستان ته دا حق نه وو ورکړه سوی چې سیاسي پارټي جوړي کې او یا سیاسي اخبار ولري مطلب سیاسي حقوق ئی لکه نور هندوستان چې درلوده دوي نه درلوده.

دغه رنګه بله پیښه چې د حاجي صاحب پر آینده ژوند یې ژور تاثیر و درلودی دا پیښه شوه: چې د عبدالله خان کاریز ځخه حبیب الله پیر علي زی ګلستان ته راغی او وي ویل چې د ملک تاجو حمیدزي پر کلي د تره کو (چپاو) ولویدی، مالونه او هلوکان ئې یووړه.

**دملک تاجو د کلي واقعه**: اغلباً داد ۱۹۳۰ لومړي میاشتي وي چې د ترکو له خوا د ملک تاجو د کلي د چورېدو خبر و ګلستان کاریز ته را رسیږي. په دې وخت کې حاجي صاحب هم په ګلستان کې دی. ده فوراً د پښتني رسم سره سم په کلي کي ډول ووهي او د کلي ځخه لښکر په راټولیدو سو. دغه رنګه دستي یې و عنایت الله کاریز ته و عبدالسلام خان ته د موضوع خبر ورکی چې ګلستان تیار دی ته د خپل کاریز ځلمیان سره راټول که.

په دغه وخت کې جناب حفیظ الله خان د ګلستان رساله دار دی. کله چې د ګلستان کارېز ځخه لښکر حرکت راوکی نو حاجې

محمد انور خان و رساله دار صاحب ته وویل چې په موږ کار مه لره، ته خپل خبر و مربوطه ځای ته ورکه او که دي په موږ کار و درلودی، نو کار خرابیږي.

کله چې د ګلستان لښکر د ګلستان و بازار ته رسېدی، د عنایت الله کاریز لښکر هم راورسیدی او د عبدالله خان پر لوري روان سوه. ډول او سورناوي د مخه لښکر په پسې دی. د ځینو سره توپک دی، ځینو نیزې را اخیستې دی او داسي خلګ هم وه چې سوټې ئې درلوده.

کله چې لښکر عبدالله خان ته رسیدی نو هلته د مخه لا مرتضي خان اي اپ سي د پښین حاضر سوی وو، مرتضي خان حاجي محمد انور ډېر ملامت کی او ورته وې ویل چې پرون د نظر بندی څخه خلاص سوی نن دي بیا دغه بغاوت وکی. ده ورته وویل چې ځیني کارونه په مصلحت د وخت کیږي، دا قومي ضرورت دی. باید ژر تر ژره اجرا سي . په دې ضرورت کې چون و چرا نشته.

مرتضي خان ورته وویل، چې اوس موږ خبر واخیستی، د ملک تاجو پر کلي باندي بیخي خیریت دی. تاسو لښکر مات کی او سره ولاړ سی. ځکه بازګل خان د پولیسو انسپکټر هم راپسي دی که تاسي سره تیت نه سي، نو د پولیسو دا وظیفه ده، چې توپک در څخه راټول کي. شاید پر دې موقع بلوا وسي او د دعوي شکل به وخیم تره سي.



خو حاجي محمد انور خان و مرتضي خان ته وویل تر څو چې موږ خپل سړي په ذریعه حال معلوم نه کړو ستاسو په ویلو مي اعتبار نه راځي. څرنګه چې دوی پخوا لا دحال د معلومولو د پاره د ملک تاجو کلي ته خلګ لیږلي وه، د هغو حال راغی، چې اوس خیر خیرت دی، تره کو یو ناکامه کوشش وکی خو کامیابه نه سول. کله چې دا خبر راغی نو محمد انورخان و مرتضي خان ته وویل چې موټران را تهیه که چې موږ ولاړ سو. موټران راغله او لښکر خپلو خپلو کورو ته ورسېدل.

**پر حاجي صاحب باندي د واقعاتو هجوم**: د یوې خوا د افغانستان حکومت هغه مځکي چي حاجي صاحب ته ورکړې وې، دده و قانوني وکیل ته نه ورکوي. ځکه چې عبدالغني خان نایب الحکومه د خره دانه ځني غواړي (یعني رشوت) په داسي حال کې چې حاجي صاحب د رشوت ورکولو تصور لانه سي کولای. غني خان د حاجي صاحب په غیاب کې وه محمد هاشم خان صدراعظم ته لیکلي وه چې ما و محمد انورخان ته ډیري مځکي په نظر کي ودرلودلې، خو هغه مځکي د درو زرو کابلیو سر نه پوره کوي، ښه به دا وي چې وده ته هغه درې زره کابلي ورکړه سي او صدر اعظم هم دغه خبره خوښه کړې وه. کله چې دی په دې قصه خبر سو، نو

بېله دې چې خپله کډه کندهار ته بوزي؛ پخپله یوائې کندهار ته راستون سو.

په کندهار کې ده د تنخواه د اخیستلو څخه انکار وکی. دی په دغه کشمکش کې لګیا وو، چې ملاخیر محمد آڅکزی یوه میمه او دوه پرنګیان د چمن د لاري و ریګ ته را واړول او هم په دغه اثناء کې محمد افضل ادوزی د سپیني تیږې تاڼه وسوځوله.

**سختي ورځې**: دا زمانه په اټکل (اغلباً) د ۱۹۳۰ په شاوخوا کې ده. په دې وخت کې د پښین پولیسو حکومت له خوا دده پر خلاف یوه لو مقدمه یا دعوه جوړه کړې وه چې په راس کې ئې بازګل خان د پولیسو انسپکټر او نور احمد خان ای اې سي وو.

دده برخلاف دوسیه یا فایل داسي وو چې:

محمد انور خان په کندهار کي د شالمار میني ته تللی وو، هلته ئې اڅکزو ته هدایت ورکی چې څرنګه چې اڅکزي په پښین کې خپل سردار نه لري، نو تاسي پر سرحد باندي اغتشاش او ګډوډې پیښه کی چې اڅکزي خپل سردار پیدا کي، ځکه نو ملاخیر محمد اڅکزي میمه او پرنګیان وتښتول او برمته ئې کړل. دغه رنګه محمد افضل ادوزي اڅکزي دده په مشوره د سپیني تیږي تاڼه وسوځوله.



دده دا دوسیه پولیسو تکمیل کړې وه. شهادتونه ورباندي ادا سوي وه.

دی په کندهار کې ناست دی، حکومت جایداد او مځکې چې ورکړې وې نه ورتسلیموي.

کډه او عیالداري یې په کوټه او ګلستان کې ده.

د بل طرف پولټیکل ایجنټ د بلوچستان امر وکي چې د محمد انور خان د مقدمې تحقیقات دي سم دستي وسي. که په پنځلس ورځو کې دی راغی او خپله صفائي ئې جرګه کې وړاندي کړه ښه تر ښه، که نه وي د ګلستان جایداد دي ضبط او دی دي د انګریزي حکومت تور سړی اعلان سي.

په دې کشمکش او سراسیمګي حالت کې ده اراده وکړه چې تر ټولو د مخه باید کډه او کهول راخوندي کي. نو د کندهار څخه سپین بولدک ته راغی او د چمن سره ئې خط او کتابت شروع کی. ده له دغه ځایه انګریزي حکومت ته خبر ورکی چې زه حاضر یم چې د خپلي مقدمې صفائي وکم او دا ټوله الزامات چې پر ما لګول سوي دي، بې بنیاده او غلط دي. خواهش ئې وکی چې هغه د مخه ذکر سوي ۱۵ ورځې میعاد د مقدمې د پاره بیخي لږ میعاد دی. باید امتداد ورکړه سي. نو هغه وو چې څو ورځې وروسته کوټې او

ګلستان ته ولاړی او ژر ژر ئې خپل کور و کهول راخوندي او کندهار ته راستون سو.

کله چې کندهار ته راورسیدی نو ئې دستي د کابل د تګ اراده وکړه. مګر په جیب کې فقط دوه سوه کابلي لري او بس. که په دې رقم سفر کوي کور بې خرڅه دی او که یې کور ته پریږدي نو دی سفر څرنګه وکي. څو د سختي مجبوري په اساس یې و شیردل خان حمیدزي اڅکزي ته رجوع وکړه او د یوه دوه سوو کابلو غوښتنه یې ځني وکړه. خو هغه هم خپل معذرت وغوښتی او ورئې نه کړې. څو دی مجبور سو، هغه دوه سوه کابلي ئې نیمي د ځانه سره یووړې او نیمي ئې کور ته پرېښودلې. او پر توکل د کابل پر لور رهي سو.



# د کابل ګذارشات

کله چې کابل ته ورسیدی په کابل کې د اعلیحضرت محمد نادر خان په امر لویه جرګه شروع وه، چې د افغانستان اساسي قانون او د انتخاباتو قانون تصویب کي (سنبله ۲۸،۱۳۰۹ هـ ش – برابر د ۱۹۳۰ ستمبر) چې د هېواد قانون پوهان او مخور (معززین) راغلي وه. صدر اعظم محمد هاشم خان او نور وزیران د لویي جرګې په انتظاماتو بوخت وه. څلور ورځې وروسته محمد انور خان موقع پیدا کړه چې محمد هاشم خان صدراعظم ووېني. صدر اعظم په دا خپل لومړي ملاقات کې زر کابلي د بخشش په توګه ورکړې. ده یو څه ځانته را وګرزولې او نوري ئې کور ته راولیږلې.

ده په دا خپل لومړي ملاقات کې و محمد هاشم خان ته خپل ټول صورت حال ووایه. هغه و وزیر خارجه فیض محمد ته تلیفون وکی چې صدارت ته راسه. خو هغه په دغه دم نه وو، نو ئې ورته وویل چې سبا دې پر یوولسو بجو صدارت ته راسي. دغه رنګه یې محمد انور خان ته هدایت وکی. سبا چې پر ټاکلي وخت محمد انور خان صدارت ته ورغی وزیر خارجه فیض محمد خان لاپخوا راغلی وو. صدر اعظم محمد هاشم خان دی و فیض محمد

خان ته معرفي کی او علاوه ئې کړه چې دی زما ورور وګڼه. دده کار په هر صورت چې وي باید وسي.

**په کابل کې دبرطانيې دسفير سره کتنه**: په دا بله ورځ حاجي صاحب او فيض محمد خان و انګريزي سفارتخانې ته ګډ ورغلل.

هلته تر يوڅه انتظار وروسته د برطانيې سفير فيض محمد خان ور وغوښتی او د هغه سره پر موضوع وړغيدی. وروسته تر يو دوو ساعتو محمد انور خان وروغوښتل سو او فيض محمد خان د دوی تعارف سره و کی.

بيا سفير ولاړ سو د حاجي صاحب دوسيه يا فايل ئې راوړي او وې ويل:

چې دغه محمد انور خان هغه سړی دی چې بر خلاف د انګريزي قانون يې د افغانستان د سقاوي په داخلي جنګ کې ګډون وکي. دويم دا چې د سپيني تيږې تاڼه دده په تحريک دده سړيو سوځلې ده. دريم دا چې د ګلستان ځوانان دده په تحريک په آل انډيا (کانګرس پارټي) کې شامل سوی دی او د انګريزي حکومت خلاف ئې عمليات شروع کړي دي. څلورم بر خلاف د انګريزانو د قانون ئې د ملک تاجو پر کلي د تره کوو پر ضد لښکر کړي دي. پنځم يوه ميمه او دوه انګريزان دده نفرو و ريګ ته تښتولی دی. دا



ټوله ئې د پاره ددې کړي دي چې اوس دی غواړي بېر ته بلوچستان ته ولاړ سي او برطانوي حکومت مجبور کي چې ده ته د اڅکزو سرداري ور کي.

کله چې محمدانور خان وغوښتل خپله صفايي وکي او د پورته الزاماتو رد ووايي نو برطانوي سفير ورته وويل زه ستا سره د فيصله کولو صلاحيت نه لرم. دا ستا دوسيه او فايل وايي. دا ستا کيفيت دی نو ځکه سوال و جواب ته هم ضرورت نشته.

بيا حاجي صاحب د سفير څخه پوښتنه وکړه چې زه اوس غواړم چې د پورته فقرو د صفايي د پاره بلوچستان ته ولاړ سم. هلته به زه بندي يم که څنګه؟

**سفير وويل:** د بلوچستان قانون تل ته ښه معلوم دی. چې بندې به يې که آزاد؟

**حاجي صاحب:** تر څه اندازې پوري چې د قانون تعلق دی زه باید بندي نه يم. خو بيا هم که زه هلته بندي سوم، نو زما د دعوي پيروي به څوک کوي؟

**سفير:** ته خو لوی سړی يې، تاته د دعوا د پيروي د پاره وکيل څنګه نه پيدا کيږي؟

**حاجي صاحب :** که حکومت مدعي نه وای، وکیلان ډېر وو. مګر که حکومت مدعي وي او محمد انور مدعا علیه نو وکیل پیدا کیده مشکل دی. حاجي صاحب اضافه کړه، چې :

زما خواهش دادی کوم وخت چې زه د خپلي دعوي د تصفیې په خاطر بلوچستان ته ولاړ سم؛ هلته دي سم د قانون سره زما دا خواهشات ومنل سي :

۱ –زه باید د دعوي تر فیصلې پوري بندي نه سم.

۲ – د کوټې، پښین او چمن د جرګې ممبران دي زما د مقدمې په جرګه کې نه وي.

۳ –بازګل خان پولیس انسپکټر او نور احمد خان اي اې سي به زما د مقدمې په جرګه کي حضور نه لري.

سفیر وویل : زه به د هندوستان و وایسرای ته ولیکم، هر څه چې د هغه امر راغی، تا به په خبر کم.

کله چې د سفیر سره دا مجلس و سرته ورسیدی نو دوی را رهي سول. په لاره کې فیض محمد خان د حاجي صاحب څخه پوښتنه وکړه. چې ته څه اراده لرې؟ دلې په افغانستان کې پاته کیږې او که ځې بېرته بلوچستان ته؟



**حاجي صاحب ورته وویل :** زه دلې په افغانستان کې څه وکم، حکومت جایداد راکړی وو هغه ئې بېرته را څخه وګرزوی. په دغه تنخوا د دروزرو(۳۰۰۰)کابلیو خو زما ګزاره نه کیږي. زه مجبور یم چې ولاړ سم. مګر فیض محمد خان منع راوړه او ورته ئې وویل ته سبا راسه، زه او ته به دواړه دو صدر اعظم ته ورسو، ستا کار به وسي، فیض محمد خان اضافه کړه: موږ داسي سړی د لاسه نه ورکوو. حاجي صاحب د موټر څخه راکښته سو او فیض محمد خان د حاجي صاحب د راپور د ورکولو د پاره صدارت ته ولاړی.

په دې سبا چې فیض محمد خان او حاجي صاحب و صدارت ته ورغلل نو صدراعظم محمد هاشم خان، دوه زره افغانی نوري و حاجي صاحب ته د بخششي په توګه ورکړې او هغه مځکي چې د کندهار نائب الحکومه ځني ګرزولې وې؛ هغه ئې بېرته ور بخشش کړې او د صدارت څخه یې فرمان نمبر ۴۲۸۶ په تاریخ د ۱۳ د قوس۱۳۰۹ د نائب الحکومه عبدالغني خان په نامه صادر کی او محمد هاشم خان صدر اعظم دستخط کړی وو.

دغه رنګه د برطانیې د سفارت له خوا د افغانستان و وزارت خارجه ته د محمد انور خان د غوښتنو په هکله داسي لیک صادر سو :

سواد یاداشت نمره ۲۲۴ مورخه ۹ دسمبر ۱۹۳۰ سفارت برطانیه مقیم کابل.

عالیقدر جلالتماب سردار فیض محمد خان وزیر جلیل امور خارجه دولت علیه مستقر افغانستان پس از احترامات فایقه مستحضر میدارد.

احتراماًمراجعت مي نمایم بعریضه محمد انور خان که همشکل یاداشت مراسله جلالتماب شما بتاریخ ۱۰ ماه نومبر مطابق۱۸ عقرب بمن فرستاده شده بود، که در آن مشارُالیه براي اطلاع در باب بعضي تفصیلات عرض نموده.

اکنون من درین موضوع تحقیقات نموده ام و به جلالتمابي شما اطمینان داده مي توانیم که:

۱ – محمد انور خان قبل از سماعت مقدمه و در اثناي سماعت مقدمه خود محبوس نه خواهد شد.

۲ – او ماذون خواهد شد که به وقتیکه سماعت مقدمه خود هر کدام تعداد معقول گواهان از کندهار یا کدام جاي به جرگه پیش کند. بشرطیکه حسب قاعده مروجه از اسامي چنین گواهان پیشتر بما در بلوچستان اطلاع بدهد.

احتراماً خواهش دارم جلالتمابي شما لطفاً محمد انور خان را قرار فوق بفرمائید.

موقع را غنیمت شمرده احترامات فائقه ام را تجدید مي نمایم.



محل امضاء ع.ج. وزیر مختار برطانیه در کابل.

دا لیک د برطانيې د سفارت څخه چې په کابل کې دی؛ د افغانستان و وزارت خارجه ته ورلیږل سوي وو. او د افغانستان وزارت خارجه محمد انور خان ته په دې لیک چې لاندي ذکر کیږي راولیږی.

وزارت خارجه کابل نمره غ ۴۲۲۹

مدیریت عمومي سیاسي

تاریخ ۱۸ قوس ۱۳۰۹هـ ش.

ص جناب محمد انور خان نائب سالار ملکي

در باب دعواي شما سفارت انگلیس مکتوب عـ۲۲۴ مورخه ۹ ماه دسمبر خود به این وزارت تامینات داده، که ما یک سواد انرا براي تسلي خاطر شما میدهیم، تا در نزد شما یک دستاویز بوده بقرار آن داخل تصفیه معامله خود شده مي توانید. با احترام

فیض محمد – وزیر خارجه

پس له هغه چې ده د محکو فرمان د صدارت څخه دوباره ولاس ته راوړي او هم د وایسراي څخه دده د لیک جواب ورته راغی، نو حاجي صاحب د کابل څخه کندهار ته را رهي سو. خو کله چې کندهار ته را ورسېدی عبدالغني خان بیا هم محکي نه ورحواله کولی فرمان په لاس کې خو چلیږي نه. (وایي دا یې قواله په چا ئې منې) د عبدالغني خان او حاجي صاحب کشمکش شروع وو، ورځې تېرېدلی، هلته د دعوي د پیروي د پاره دده میعاد په پښنین کې و پای ته رسېدی، دلته عبدالغني خان محکي نه ورتسلیموي، په دې وخت کې حاجي صاحب ډېر سخت مایوس وو.

د بل طرفه ده ته ضرورت وو چې د خپلې دعوې د ثبوت د پاره د کندهار څخه شاهدان تهیه کې چې هلته دده په طرفداري د واقعاتو ثبوت په وکي.

**بیا پښتونخوا او د مقدمې پیل**: په دې وخت کې د کندهار نائب الحکومه عبدالغني د کندهار څخه تبدیلیږي او په عوض کې ئې وزیر محمد ګل خان د کندهار د رئیس تنظیمه په حیث مقرریږي چې دا زمانه د حوت ۶– ۱۳۰۹ه ش، مطابق د فروري ۱۹۳۱ء سره وه.

محمد انور خان بېله دې چې وخت صنایع کې د خپلو شاهدانو



په راټولولو لګیا سو چې د ځانه سره ئې کوټې ته بوزي او دده په حق کې شاهدي ادا کې. د پښتني غیرت په هوډه پنځلس داسي د حثیت شخصیتونه پیدا سول چې د انګرېزي حکومت پر خلاف دده ملګري وکي چې د ذکر وړ کسان عبدالرحمن خان، حاجي ګل محمد خان، باریداد خان، وامي او نور یوولس تنه وه.

دوي سره راټول سوه د کابل دروازې و اډې ته راغله، او په موټر که ناست دي چې اوس به دچمن پر لور حرکت راکوي، خو د وزیر صاحب محمد ګل خان سپاهي ورته ودرېدی چې وزیر صاحب دي غواړي. موټر معطله سو. دی وزیر صاحب ته ورغی.

وزیر صاحب ورته وویل چې زه ډېر افسوس کوم چې زه برایي راغلی یم او ته نن را څخه ځې. زه ستا سره کافي مشورې لرم ماته، ته د کابل څخه را معرفي سوی یې چې یو صاحب نظره او قوم پروره سړی ئې. ته باید یو څو ورځې پاته سې.

ده ورته وویل، چې هلته په کوټه کې زما ددعوې تاریخ رسیدلی دی. که پر مقرره وخت سره د شاهدانو سره ور ونه رسېږم، نو د انګرېزي قانون له مخې تر میعاد اوړي او فیصله مخالفه کیږي.

وزیر وویل: څه پروا نه لري. زه به د کوټې و پولټیکل ایجنټ ته ټلګرام ور تېر کم، چې لس ورځې تاریخ نور در اوږد کي. حاجي صاحب لا جوابه سو او ورسره ئې ومنله.

او شاهدان په هغه موټر کې چې ناست وه؛ په سر کاري پټرولو د کوټې پر لور د عبدالواحد خان پوپلزي کره روان سوه. په دې سبا چې حاجي صاحب وزير صاحب ته ورغی، وزير صاحب ورته وويل، زه ډېر افسوس کوم چې ته راڅخه ځې. خو کله چې د آخواراستون سوې، نو به نور مجلسونه سره کوو. اوس نو ستا خوښه ده، هر وخت چې ځې.

دی هم فوراً را روان سو او تر خپل ميعاد ډير د مخه چمن ته را ورسيدی. په دغه وخت کې يوسدوزی دچمن حاکم وو او په کوټه کې پولټيکل ايجنټ وکهم (SD. E.T.R wikham, political agent quetta peshin) اوو.

دی چې و چمن ته ورسېدی، نو د کوټې څخه پخپله (وکهم) د ابتدايي تحقيق د پاره چمن ته راغی او فوراً ئې تحقيق شروع کی چې احتصار د تحقيق ئې دا ډول وو.

**لومړی سوال:**

تا د انګريزي قانون برخلاف د سقاوي په جنګ کي ګډون وکی او دا د انګرېز قانون توهين وو، په داسي حال کې چې ته د انګريز حکومت تبعه وې. دا ولې؟

**جواب:** که پر يوه سړي قانوناً امر وسي چې اعدام دي سي او دا سړی کولای سي چې ځان خلاص کې. نو آيا دا سړی به ځان خلاصوي او که د قانون مراعات به کوي؟



پښتانه ورونه چې سقاويانو وژل، نو آيا ما د قانون د پاره دوی ووژلو ته پرې ايښي واي؟ څرنګه چې دا ناممکنه وه، نو ما د قانون پروا ونه کړه.

**دويم سوال:**

دلته خو نور قومونه هم پراته وه او هم پښتانه وه، نو دا ستا وينه ولي تر دا نورو قومو توده وه؟

**جواب:** هر قوم ځانته تاريخي خصوصيات لري. د اڅکزي قوم په تېره بيا حميدزي قبيله دا خصوصيات لري چې د مشر په شروع دوي په کار پيل کوي. کله چې ما شروع وکړه نو هغه وو چې د اڅکزو ټولو اقوامو زما ملا وتړله او شرکت ئې را سره وکی.

**دريم سوال:**

تا دا سنجولې وه که دی شکست خوړلی وای، نو به هم د برطانيې د حکومت مجرم واي او هم به د سقاو د حکومت. تا به څه کولای؟

**جواب:** هو ما دا سنجولې وه. ما دا فرض کړې وه چې زه به خامخا يا مرم او يا به فتح کوم. که مړ سوم مسؤليت نه لرم او که فاتح سوم نو مسؤليت يواځې د قانون بر خلافي ده. د قانون برخلافي د ټوله قوم د ژغورني په مقابل کې ډېر کوچنی او معمولې تصور دی.

**دویمه فقره ځلورم سوال :**

ستا نفرو لکه محمد افضل ادوزی او نور ملګري ئې د سپیني تیرې تاڼه ستا په تحریک سوځلې ده، ددې تاڼې په سوځلو کې ستا غرض څه وو؟

**جواب :** تاسو یو څه مده د مخه محمد افضل اودزی پر دغه تاڼه د جمعدار په توګه مقرر کړی وو او بیا مو دی ایسته کی، دا پخپله دده شخصي کړه دي. زما د تحریک سره هیڅ اړه نه لري.

**دریمه فقره پنځم سوال :**

د ګلستان په ځوانانو کې تا تحریکات کړي دي. او دوي مو د کانګریس حزب ته تشویق کړي دي. په داسي حال کې چې ته ښه پوهیږې چې کانګریس تحریک په بلوچستان کې د انګریزي قانون له مخي ممنوع دی. داسي دي ولي کړي دي؟

**جواب :** د ګلستان ځوانانو چې دا تحریک شروع کړی دی ټوله پخپله تعلیم یافته، په قانون پوه او پر وطن مین خلګ دي. دوی ته خپل مسؤلیت د قوم او وطن په مقابل کی معلوم دی. زما د دوی سره په مستقیم ډول څه ارتباط نسته او نه په ما اړه لري او که قانون ما په دې مجرم بولي چې ما راګرزولي ولي نه دي؟ نو په دې جرم کي ټول بلوچستان راسره شریک دی. وټول بلوچستان ته مو چې کوله جزا ورکوه هغه ما ته هم راکی.



**ځلورمه فقره، شپږم سوال :**

تا د ملک تاجو اڅکزي پر کلي باندي خلاف د مقرراتو لښکر کښئ کړې وه او په علاقه کې دي هنګامه پیدا کړې وه. په داسي حال کې چې حکومتي دفترونه او افسران موجود وه. هغو ته دي مراجعه نده کړې. دا ولي؟

**جواب :** اصل حقیقت او واقعیت داسي دی چې :

ګلستان ته خبر راغی. چې د ملک تاجو اڅکزي پر کلي باندي د تره کو چپاول پریوتی دی. ځوانان سره وغورځېدل لښکر ئې اماده کی او روان سوه. زه د پاره ددې چې دا ځوانان چیري بې ځایه د کوم اغتشاش او یا فساد سره مخامخ نه سي، ورسره سوم.

**اووم سوال :**

ته چې دونې خیر خواه وې، نو دي ولي حکومت ته خبر نه ورکاوه، چې حکومت د فساد مخه را ګرزولې وای؟

**جواب :** زه د افغانستان سړی وم، د هغه ځای تبع وم ما دا خپله وظیفه نه بلله : ( په دې وخت کې د چمن اي اې سي چې یو پښتون وو؛ د پښتونولي په ارتباط د سر په اشاره پوه کی چې ښه جواب دی نه ووایه ) حاجې صاحب خپله لومړی جمله اوږده کړه او وې ویل، سره له دې مې بیا هم د ګلستان و رساله دار حاجي حفیظ

الله خان ته خبر ور کی (یقیناً) هغه به هم اي اې سي ته د پښنین خبر ور کړې وي.

پنځمه فقره چې تر ټولو فقرو مهم الزام دی او د برطانیې حکومت هم خپل ټول زور پر دغه فقره اچولی وو، الزام داسي وو چې:

دوه پرنګیان میجر فار Major Farlays. او کپټن Captain، او یوه میرمن فریر Mrs Frere د محمد انور اڅکزي په تحریک د ملا خیر محمد اڅکزي په ذریعه د چمن پر لاري و ریګ ته وتښتول سوه. څرنګه چې ملا خیر محمد د محمد انور خان د سړو څخه دی نو ځکه دا کار دده په تحریک سوی دی.

**جواب:** زه په دې موضوع کې هیڅ نه یم خبر او نه په دې کې زما لاس سته. البته دا موضوع لنډ وجوهات لري چې تفصیل یې داسي دي: د کندهار نایب الحکومه عبدالغني خان، نور احمد خان اي اې سي د چمن باز ګل خان د پولیسو انسپکټر او حاجې ابراهیم د چمن د لیویزو جمعدار په دې معامله کې لاس لري چې دلایل ئې دادی:

کله چې د سقاوي اړودوړ په افغانستان کې شروع وو، نو عبدالغني خان هڅه وکړه چې تر سرحد دې خواته په انګرېزي علاقه کې اڅکزي د سقاو برخلاف وپاروي. او پخپله و چمن ته را واوښت خو انګریزي حکومت دی مجبور کی چې بېرته افغانستان



ته ولاړ سي او چمن ترک وهي. دا دده بېرته ناکام تګ وه افغانستان ده ته یوه عقده په دې باره کې پیدا کړه او د انګریزي حکومت څخه د انتقام د اخیستلو په غرض ده را اقدام کړی دی. په دې کار کې ئې نور احمد خان معاون وو. هغه داسي ، کله چې د پرنګیانو او میمي قضیه پیښه سوه، نور احمد خان بېله پاسپورټه او د افغانستان د حکومت بې اجازې تر سرحد ورواوښت او سپین بولدک ته ورغی. وړخو داسي ده چې عبدالغني خان باید نور احمد خان په دې بې قانوني بندي کړی وای. خو هغه داسي ونه کړه که د دوي یو تر بله صلاح او مشوره نه واي، نو په کوم قانون نور احمد خان تر سرحد ور واوښت. په داسي حال کې چې په قانوني مسائلو تر هر چا زیات نور احمد خان خبر دی. غني خان که دی نه بندي کولای، نظر بند کړی خو بې وای. خو هغه هیڅ ونه کړه. د قانون مراعات نه عبدالغني خان وکی او نه نور احمد خان. ځکه چې په صلاح و مشوره سره شریکان وه. پاته سو باز ګل خان.

تاسو ته معلومه ده چې باز ګل خان وردګ، د افغانستان فراري وو. دی لومړی د پولیسو سارجنټ مقرر سو، بیا سب انسپکټر سو. دده سوانح معلومه ده. ده به همیشه و سرحدي اقوامو ته تحریک ورکاوه چې په سرحد کې ډاکې او د غلاو واردات وکی. چې یو خو دده احتیاج حکومت ولري او بل کله چې دی د هغه وسرکوبي ته ورسي نو څه ولجه پخپله د غلو او ډاکه مارانو څخه

واخلي او روغبه ورسره وکي. او هم دغه رنګه پر حکومت باندي احسان واچوي او هم دا ثابته کي چې سرحدي روغي جوړي بې مانه کيږي. ده هم په دغه تکتيک ترقي کولې څرنګه چې په دا اوسنيو شپو کې دده د تقاعد او پنشن وخت راغلی وو. او ده نه غوښتل چې تقاعد وکي نو ئې د پخواني پاليسي په اساس و سرحدي خلګو ته تحريک ورکاوه چې بدامني جوړه کې، او دی د هغه اصلاح وکي. په دې صورت نو دده خيال وو که ترقي ونه کي لږ تر لږ خو پنشن کيږي خو به نه.

حاجي صاحب علاوه کړه: بل سړی حاجي ابراهيم دي. حاجي ابراهيم هغه سړی دی چې د امان الله خان په جنګ کې، د انګريزی فوج په مخ مخ کې روان وو. او انګريزي بيرغ ئې د افغانستان د پښتنو پر ضد اخيستی وو. او دا معلومه ده چې بل هيڅ پښتانه، د انګريز بيرغ د افغانستان پر ضد نه اخيستی. خو يګانه سړی دی وو چې دا کار ئې وکی. په دغه عمل دی د افغانستان د خلګو منفور سو او د ټوله اولس بدځني راغي. خو ده سره له دې و عبدالغني خان نائب ته يو ليک وليکی چې زه غواړم افغانستان ته درسم. که ته کولای سې چې هلته ماته مځکه راکې.

دغه خط چې حاجي ابراهيم و عبدالغني خان نائب الحکومه د کندهار ته ليږلی وو، نظر محمد عليزي نيولی وو. او اوس هغه ليک د پوليټيکل ايجنټ سره پروت دی. آيا بغير له دغه پرنګيانو او



ميمي تبنتولو، ده نور څه خدمت کړی وو چې د مځکي انعام ئې غوښت؟.

د وکهم تحقيق په چمن کې پر دغه ځای پای ته ورسېد. دغه شپه محمد انور خان تر سرکاري نظارت لاندي په چمن کې تيره کړه، په دې سبا د کوټې پر لوري را رهي سو. دده شاهدان کوټې ته لا پخوا رارسيدلي وه او د عبدالاحد خان دراني پر ځای په شالدره کې اوسېدل څو دی هم ور ورسيدی.

په کوټه کې دده مخالف شاهدان لکه محمد عيسي خان د عبدالحميد خان زوی، عبدالرحمن خان د محمد اکبر خان زوی نصرالله خان د صدر الدين خان زوی ، ملک محمود علي زی، ملک پکار مليزي. او ځيني نور مليزي شاهدان حاضرسوي وه او هر يوه بېل بېل د حاجي محمد انور خان خلاف شاهدي ادا کړې.

په دا بله ورځ په کوټه کې د جرګې په حضور مقدمه پيل سوه او د جرګې ممبران دغه سرداران وه؛ سردار عبدالوهاب خان پاني زی کاکړ، سيد مهر شاه غرشين د بارکان، بازګل خان د فورټ سنډيمن، (للوزي) و ډېر انور محمد خان د سيوي ، شهزاده خان کاکړ د ږوب، يو سردارد نوشکي د بلوڅو څخه وو چې نوم ئې وخان بهادر محمد شکر صاحب او سردار مراد خان سارنګ زی. دې سردارانو د مخه تر هغه چې حاجي محمد انور خان کوټې ته راسي؛ وه پوليټيکل ايجنټ ته ويلي وو که حکومت اراده لرې چې محمد انور

خان دي هرو مرو بندي او ملزم سي، نو موږ دا جرگه نه کوو او که وائې چې حق دي وسي، نو به موږ کوشش وکو چې حق و حقدار ته ورسیږي. خو هغه ورته وویل چې حق وکی. دا ستاسي اختیار دی.

لو جرگه شروع شوه. د حاجي محمد انور خان د شاهدانو هر یوه بیان بېل بېل قید سو، چې د موضوع د اوږدوالي په خاطر د هغه د بېل بېل نقل څخه صرف نظر کوو. خو په مختصر ډول د ټولو شاهدانو مطلب داسي وو:

هر کله چې به په کندهار کې محمد انور خان د شالیمار میلي ته راتی، نو به د سید عبدالرحمن شاه میلمه وو او کوم هغه قومي ملګري چې به دده سره وه، هغه به هم هلته وه. موږ د اکسان شاهدي ادا کوو چې محمد انور خان و خپل قوم ته دغه بیان چې پولیسو، یا د پولیسو شاهدانو ورکړی دی؛ نه دی کړي. د پولیسو دا بیان غلط دی.

کله چې د حاجي صاحب شاهدانو بیان ورکوی نو جرگې وویل، چې شاهدان باید قسم واخلي کوم هغه بیان چې دوی قید کړی دی چې هغه رشتیا دی. د جرگې د خوا سردار عبدالوهاب خان وټاکل سو چې د شاهدانو او محمد انور خان قسمونه واخلي.

دوي د مارکیټ و مسجد ته ورغله، اودسونه یې تازه کړه، په یوه حجره کې ئې قران شریف کښېښنودی. پر ځای ددې چې د



قرآن شریف په حضور او د عبدالوهاب خان په موجودگي کي هر شاهد خپل بیان تکرار کي او هوډه وکي؛ دوی هر یو حجرې ته تنها تنها ورتی او قران شریف ئې مچاوه او بېرته راوتل کله چې د مسجد څخه جرگي ته راستون سوه نو جرگې داسي فیصله وکړه:

موږ د محمد انور خان کیس سر تر پایه ولوست او پر دعوه مو غور وکی. شاهدان د محمدانور خان ټوله با رسوخه، بادیانت او صحیح شخصیتونه دي. د محمد انور خان د شاهدانو موازنه د پولیسو تر شاهدانو درنه ده. او د درواغو د ویلو موږ هیڅ ډول اشتباه ورباندي پیدا نه کړه. علاوه پر دغه و محمد انور خان او دده و شاهدانو ته مو د قران حلف هم ورکی. نو ځکه زموږ فیصله داده: چې د پولیسو شاهدانو هر څه ویلي دي، هغه دروغ دي. او د محمد انور خان شاهدانو چې څه ویلي دي هغه رشتیا او قابل د منلو دي. ځکه نو فیصله کوو چې پر محمد انور خان کوم جرم نه سو ثابت او جرم نه لري. بري الذمه دي.

دبلوچستان د هغه وخت د قانون د رویه، چا چې به قسم واخیستی، د هغه دعوه مرافعه یا اپیل نه درلودی. او نه کوم آمر هغه فیصله ردولی سوه. دغه آخیري فیصله گڼل کیده. کله چې د جرگې فیصله پولیټیکل ایجنټ ته ورغله. پولټیکل د جرگې ممبران تهدید کړه چې تاسو د قران شریف قسم ولي ورکاوه، ځکه په دې

صورت کې پولټیکل هم بې اختیاره سوی ؤ. او مجبور سو چې د جرګې فیصله تائید کي.

خو پولټیکل د خپل ذاتي اختیاراتو په استعمال. پر محمد انور خان امر وکی چې د لسو زرو کلدارو د نیک چلني ضمانت د نقدو او یو باید تحویل کړي او هم دي د لسو زرو په اندازه د جایداد ضمانت ورکي. دا د پاره ددې چې دی به اینده د برطانیه و حکومت او رعیت ته ضرر نه رسوي.

د جائیداد ضمانت خو خیر ده په ګلستان کې جایداد درلودی. چې چاره ئې کیدای سوه. خو د لسو زرو نقدو ضمانت خورا مشکل کار ؤ. یو خو پخپله لس زره روپی په هغه وخت کې ډېر لوی رقم وو او بل دی خوا مفلسه وو. ده دوې درې میاشتي ځان پر یوه خوا بله خوا کی او ضمانت ئې وځنډاوه. خو حکومت دی و پښنین ته د ضمانت ورکولو د پاره طلب کی. په دې وخت کې اتفاقاً د پښنین جرګه دایره وه. کله چې د پښنین د جرګې ممبران په دې خبر سوه چې محمد انور خان د ضمانت ورکولو د پاره پښنین ته راغلی دی. نو ټوله ممبران ورټول سوه دی ئې د حکومت څخه د خپلې جرګې و تالار ته راوستی. او دده صورت حال ئې معلوم کی. چې لس زره روپی نه لري چې تحویل ئې کي. د جرګه ممبران چې په دې خبر سوه. دستي د هغې جرګې ممبرانو ضمانت خط ولیکی او هر ممبر زر زر کلداري پر ځان ومنلې . دا ممبران یا کاکړ وه. یا سیدان او یا



ترینان وه او هم دوی ورته وویل چې ته زموږ په دا زر زر روپی کې فکر مه وهه او ځان مه په پریشان کوه. موږ دا روپی بیا خپلې نه بولو، د ضمانت التزام خط ولیکل سو او معامله فیصله سوه.

په دې اثناء کې د حاجي صاحب میرمن چې د عبدالواحد خان پوپلزي دویمه لور وه وفات سوه، دلته باید وویل سي چې د عبدالواحد خان دراني د کوره څخه حاجي صاحب لومړی بله ښځه غوښتې وه چې هغه زما مور وه. بیا ئې چې هغه وفات سوه دا بله ښځه وغوښته چې هغه داده اوس وفات سوه. ددې ښځې څخه ئې عیال نه سو پاته. یو زوی ئې وو، هغه هم د کوټې په زلزله کې د پنځو کالو پر سن د آنا سره سم وفات سو.

که څه هم د عبدالواحد خان د دویمي لور د وفات په وخت کې ده بله ښځه درلوده او کور ئې جوړ وو. خو کله چې کندهار ته ورسېدی هلته ئې د مرزا علي جان لور چې دی هم په خټه پوپلزی وکړه. ده پنځه ودونه وکړه او هر واده یې هغه وخت کاوه، چې ښځه به وفات سوه، خو آخیرنی دوه ودونه ئې د یوې ښځې په درلودلو بله ښځه وکړه. د مرزا علیجان لور ئې په کال ۱۹۳۰ء کې وکړه. په دې وخت کې دده عمر ۵۴ کاله وو چې په دغه ۵۴کالو کې ده پنځه ودونه وکړه.

ښه په هر صورت! د عبدالواحد خان د لور د وفات د فاتحې مراسم چې په کوټه کې و سر ته ورسېدل نو دی د کندهار پر لور را روان سو. او کندهار ته راغی.



# د افغانستان ژوند

**د اندراب حاکمي**: کله چې دی کندهار ته را ورسېدی نو څه موده وروسته کابل ته د خپل شخصي ذوق په اساس ولاړی څرنګه چې د حاجي صاحب پیژندګلوي په شاهي کورنی کې په ډېره بیا د سردار محمد هاشم خان سره وه، نو په کابل کې ئې وغوښتل چې محمد هاشم خان صدراعظم ووینې.

هغه ته چې ورغی هغه ورته ویل چې ما ته د خدایه پر آسمان غوښتې، ته خداي پر مځکه په لاس راکړې. ته به فوراً یو کار کوې. په قطغن کې د هغه ځای د حاکم څخه د خلګو شکایت پیدا سوی دی. ته به ولاړ سې اندراب ته د حاکم په حیث پر هغو خلګو به څه لاس تېر کې، او کوم شکایتونه چې و اهالیو ته ورپیښ وه د هغو ازاله چې تا کولای سوای ته بې وکې او که نه وو، نود قطغن و والي ته به پیشنهاد وکې. محمد هاشم خان ورته اضافه کړه چې ددې ځایه څخه ته د کامل اختیاراتو سره ځې.

حاجي صاحب و صدر اعظم ته وويل، زه د کار د پاره نه یم راغلی. زه کور کې یو عالم کارونه لرم، خو صدر اعظم ونه منله. څو مجبوراً فرمان ئې ورکی او اندراب ته رهي سو. په دې وخت کې د قدغن والي عبدالرحیم خان اندړ وو. وروسته تر دو درو میاشتو شیرخان خروټی نائب الحکومه سو. خو بیا په وروسته وروسته کې (۱۹۳۳) وزیر محمد ګل خان د رئیس تنظیمه په حیث په مزار شریف او قطغن کې مقرر سو.

په دې وخت کې داسي اوازه سوه چې صدراعظم محمد هاشم خان د ترکستان او قطغن په دوره راځي. حاجي صاحب د منطقې د یوه مسؤل سړي په حیث ددې دورې په انتظام کولو بوخت سو چې نا ببره دا خبر و حاجي صاحب ته ور ورسیدی چې اعلیحضرت محمد نادر خان چا په تفنګچه ویشتلی دی او وفات سوی دی. حاجي صاحب ددې خبر په اورېدو، و انتظامي چارو ته متوجه سو او څه چې لازم وه د امنیت د ټنګولو په خاطر هغه ئې وکړه.

د خفیه ایجنسیو له خوا چې د اندراب څخه و صدارت ته کوم اطلاعات رسیدل، په هغه کې صدر اعظم د محمد انور خان د اجراآتو څخه مطمئین وو. او په وار وار ئې لیکونه هم ورته رالېږل او اطمنان ئې ورکاوه. مثلاً لکه دا لاندي فرمان:



نمبر ۱۰۶۰۰ع          فرمان صدارت عظمي

(۱۹۳۳ء) مورخه ۱۹ قوس ۱۳۱۲ هـ ش

ع، ا. محمد انورخان حاکم اندراب!

از خدمات و پاک نفسي شما، اطلاعاتیکه بصدارت عظمي واصل گردیده، از شما خرسندم و ذریعه فرمان هذا مراتب خورسندي بشما ابلاغ نموده به شما ارشاد مي شود که اشخاص مغرض را موقع ندهید که در امورات حکومت تشبث نماید.

محمد هاشم — صدراعظم

په اندراب کې دده اجراآت نسبت و نورو حاکمانو ته بالکل بل ډول وه. تر څو چې به یوه موضوع قانوناً ثابته نه سوه، نه ئې چا ته جزا ورکوله او نه ئې چا ته اجازه. او رشوت اخیستل خو بیخي تصور نه کېدی. دلته د مثال په توګه د اولس د یوې عریضې نقل راوړم:

بحضور جناب ع ا. حاکم صاحب محمدانور خان عرض میدارم اینکه:

رعایاي قریه فج بخصوص نهر املاک کج که قبلاً نیز بجناب حکومت رعیت پرور عارض شده بودیم؛ نهر مذکور معطل مانده و بعضي ها خلل اندازي میکند. چونکه در کندن جوی موصوف خیر دولت و ملت مي باشد، استدعا داریم که اجازهٔ کندن انرا بدهید.

د اهالیو دستخطونه – مورخه ۳۰اسد ۱۳۱۲

**دحاجي صاحب حکم**

عارضان بدانند که نقل قباله شرعي شمایان، که از آن ملکیت شمایان شده، به شعبهٔ زراعت ولایت روانه شده. جوابش تا حال نرسیده. به هر حال اطمینان حکومت حاصل است. ملکیت از شمایان است و سرکاري نیست و دولت به رفاه و اسودگي ملت هر وقت روادار و کوشان است.

بناءً به شما اجازت است که في الحال جوی را شروع کرده بقرار اصول نسبت مالیه در ماموریت فیصله نمائید. اگر کسي خلل انداز باشد علیحده عرض نمائید که تدارک شان شود.

۳۰اسد ۱۳۱۲ محمد انور اڅکزی



اولس د اندراب د حاکم صاحب (محمد انور خان) څخه خوشحاله وو، خو خانان او ملکان او نور قومي مشرانو شکایت درلودی. دوی د پخواني حاکمانو په ظلم او بې قانونی اموخته وه. دی اولس بېله ظلم او استبداد څخه په خپل ژوند بل څه لیدلي نه وه. په قانوني پابندي او کردار نه پخوانی حاکمان پوهیدل او نه خلګو د قانون بالا دستي لیدلې وه. کوم وخت چې حاجي صاحب اندراب ته مقرر سو نو ده چاته د جرم بې اثباته جزا نه ورکوله او د خلګو عزت نفس ئې مراعات کاوه. په خلګو کې د متنفذو کسانو په ذریعه دا مشهوره سوه چې حاکم په اجراتو کي بې کفایته دی. د هر سړي دوني مراعات کوي، چې هغه نه په ارزي. او بل په عوامو کې پر ده دا الزام وو، چې دی د ماحول او محیط سره نابلده دی. دا پروپیګنډه د ملکانو او خانانو تیته سوه. دې پروپیګنډې دی عصبي کی او وې غوښتل چې یو مصنوعي تشدد شروع کې په دا بله ورځ ئې امر وکی چې:

هیڅوک بې اجازې اخیستلو حاکم صاحب نه سي لیدلای. په دې اثناء کې یو سړی عارض سو، چې برایي زما کور ته غله رالویدلي وه. غل هم معلومداره سړی دی زما غور دي وسي.

حاکم صاحب امر وکی چې مدعي او مدعا علیه دي حاضر سي. دواړه حاضر سوه. ده پر سپاهي امر وکی چې متهم را غوځار که. سپایانو چې څو شلاخي ورکړې، هغه نعرې کړې چې د خدای

د پاره زما ګناه څه ده؟ پر څه وهل کيږم. حاکم صاحب محمد انور خان ورته وويل: چې زه هم و الله که خبر يم چې تا څه ګناه کړې ده. خو تاسي هغه حاکم چې وهل نه کوي سست او بې کفايته بولی. حاکم اضافه کړه:

زه خو تاسي خپل وروڼه بولم او زه ستاسو خدمتګار يم خو چې تاسو په خپل ژوند کې عدل و انصاف نه دی ليدلی، چې څوک انصاف درسره کوي هغه بېکاره او بې کفايته بولی. دا چې زه رشوت نه در څخه اخلم داسي څوک بايد تاسي وستايي.

د حکومت په دې دوران کې چې بله کومه پيښه سوې وه هغه داده چې:

د غور حاکم موقوفه سوی وو، صدراعظم محمد هاشم خان په ټيليفون کې و نائب الحکومه شيرخان ته ويلي وو چې دلته محمد انور خان ور وليږه دا يو څه اسوده ځای دی. خو شيرخان صدر اعظم ته ويلي وو چې محمد انور خان خواهش کړی دی چې د جرم و حکومت ته ولاړ سي. هغه و جرم ته استوم. صدر اعظم ويلي وو چې دا دده خوښه ده کې ته استوې؟ نائب ورته ويلي وه چې دده په خوښه دا کار کوم.

په داسي حال کې چې محمد انور خان په دې موضوع هيڅ خبر هم ندی.



کله چې ده ته د تبديلي مکتوب د ولايت څخه را ورسېدی او نوی حاکم دده په عوض کې راغی، نو ده د حکومت چاري و نوی حاکم ته ور تسليم کړی او وروسته بيا پر ځاي ددې چې د جرم و حکومت ته ورسي او خپله محوله وظيفه اشغال کي، برابر د کابل پر لور سره د کډي را روان سو. د اندراب په اولس کې دده دونې محبوبيت پيدا سوی وو چې ځينو دده د سفر برې د پاره يابوګان تهيه کړه. او ځينو پخپله تر کابله پوري ملګري ورسره وکړه. په کابل کې ده د هر يوه راغلو ملګرو سره څه نه څه مالي کومک هم وکی او بېرته ئې خپلو خپلو کورو ته راولېږل.

په دې اثناء کې ده خپلي کډي کندهار ته وليږلې او پخپله د صدر اعظم د ليدو د پاره پاته سو.

صدر اعظم ناراض شانته وو. وې ويل په جرم کې ټوله کارونه معطله دي. بايد ورغلي واي. که دي نوکري نه کولای، د پوستې په ذريعه به دي استعفا رالېږلې وای. خو حاجي صاحب ورته وويل: زه چې افغانستان ته راغلی يم ستړی پر ستړی يم غواړم چې څه موده پر کور استراحت وکم. هاشم خان ورته وويل ستا خوښه، زه دي نه مزاحم کېږم.

**د کندهار ژوند**: کله چې دی کندهار ته راغی نو يو څه زمانه وروسته زکوم خان او محمد اسحاق خان د اڅکزو يوه غونډه جوړه

کړه چې د حکومت څخه د سرحد د حفاظت مسؤلیت قبول او خپله خود په خانه د اتفاق پر لار روان سي.

اڅکزو په خپله غونډه کې فیصله وکړه چې دا لاندي درې کسه د اڅګزو مشران دي لکه : محمد انور، محمد اسحاق، او زکوم خان.

۱. محمد انور خان د کدني د اڅکزو مشر وټاکل سو:
او دا لاندي کسانو خپل بیعت ورکی: عبدالقادر خان ادوزی شکرزي، محمد اسلم خان علیزی، شاهنواز خان، ملا محمد اسماعیل مشکي زی، امیر محمد خان ، حاجي محمد اکبر خان، شاه غاسي ولد خان، ایدل خان، جلاد خان، عبدالظاهر خان، عبدالقادر خان، جمعه خان، زرین خان، محمد شاه خان، ولي محمد خان، حاجي عبدالرحمن خان، ملک اختر محمد، نیاز محمد خان، محمد عیسي خان ، محمد افضل خان، حاجي پس طلب، حیات خان، عبدالله خان شکرزی، یار محمد خان، حاجي شیرین خان، ګل محمد جان، ملا شیر علي خان، ملک شیر، عبدالله خان، ګل محمد خان، ملا شیر علي خان، ملک شیر، عبدالله خان، بادشاه خان، اصغر شاه، فتح خان سلیمانزی، ملک حاجي بلو خان علیزی، برکت خان غبي زی، ګالټ خان کاکوزی، ملا قاسم خان،خیر محمد خان،



ملک سپاهي خان، محمد عمر خان، ملک فیض خان، نیاز محمد، ملک اغا محمد خان، خداینظر خان.

دغو پورته کسانو هر یوه پر خپل نامه باندي ځینو مهر، ځینو دستخطونه او ځینو بیا ګوتې لګولې دي او هم ئې ویلي دي چې:

موږ قوم اقرار کوو، چې پورته ذکر سوی درې خانان زموږ د قوم مشران او سرداران دي.

۲. و محمد اسحاق خان ته ۳۲ تنو خانانو بیعت ورکي او د کندهار د اڅکزو مشر سو.

۳. و ښاغلې زکوم خان ته ۱۶ تنو بیعت ورکی او د بادینزو مشر سو.

دوی عهد وکی چې موږ به یو د بل په صلاح قومي چاري پر مخ بیایو.

د اڅکزو دا معاهده د حاجي محمد انور خان کره په ۱۹۴۴ء کي وسوه.

د اڅکزو تر دغه معاهدې وروسته خود په خانه تعلقات تر یوې اندازې ښه سوه. پر وخت به سرحدي خانان راتله او پر مسایلو بې صلاح او مشورې سره کولې. حکومت هم د دوی سره د

سرحدي چارو په باره کې صلاح او مشوره درلوده. د اڅکزو په قوم کې حاجي صاحب د ښه کافي اعتبار خاوند وو. ټولو په درنه سترګه ورته کتل. خو د کندهار په اولس کې يو غير معروف شخصيت وو، نه د هغو سره محشور وو او نه د هغو په عاداتو پوهېدی. دغه رنګه په فکر او منطق کې هم د اولس څخه جلا وو. حتي په عقايدو کې به هم د ملايانو سره په ټکر کې سو. د جانداری معاملات لکه اقتصادي چاري او نور معاملات ، دې پکښې نابلده وو. اقتصادي هره معامله به ئې چې کوله يا به دې خلګو خطا ايستي او يا به پخپله د محيط د نابلدي په وجه خطاوتی. چې په جمله کې دوو لاندي پېښو پرده خورا ژور اثر کړی وو او تل بې ددې واقعاتو ذکر کاوه.

**لومړی پېښه:**

محمد اسحاق خان اڅکزي د هغه قرابت له مخې چې د حاجي صاحب سره درلودی يو پر بل خورا سره ګران وه. يو د بل عزت ئې کاوه. خو يو وخت داسي پيښه سوه چې د محمد اسحاق خان او دده د ورور تاج محمد تر منځ پر يوه کونډه اختلاف پيدا سو او بيا دا اختلاف تر خوابدی ورسېدی. تاج محمد خان، سلطان محمد او محمد صادق خان درې ورونړه وه. څرنګه چې محمد اسحاق خان د دوی مشر ورور وو نو ځکه د خاکريز د روحاني په کلي کې دده رسوخ او اقتدارهم زيات وو.



محمد اسحاق خان يوه شپه تاج محمد خان او محمد صادق خان و خپل بېټک (سراچې) ته راوغوښتل. کله چې دوی راغله نو محمد اسحاق خان د خپلي قلعه دروازه وتړله. د خپلو نفرو په وسيله ئې خورا و ډبول (لت کړل) بيا ئې دغه بيګانه خلګ د دوی و کور ته د تلاشي د پاره ور ولېږل. په دې وخت کې لا د تاج ميره او وريندار ګاني وې، دې کسانو د کور تلاشي واخيسته د تاج محمد خان يو توپک وو هغه ئې هم راوړی.

دلته محمد صادق خان او تاج محمد خان هريو په جلا جلا کوټه کې لاس و پښه تړلي پراته دي. توپک چې ئې راوی، د کلا په غلام ګرد کی ئې يو ټک په وکی. د تاج محمد خان دا خيال سو، چې محمد صادق خان ئې فير کی. محمد صادق خان چې ويل تاج محمد خان باندي ډز وسو. هغه ئې مړ کی او ښځو چې دا ټک واورېدی د هغو به څه حال سوی وي؟

په دې سهار محمد اسحاق خان د خاکريز په حکومت کی عارض سو. چې برايي تاج محمد خان او محمد صادق خان راغلی وه چې ما ووژني او ټک ئې هم راباندي وکی. مګر ټک ئې خطا سو.اوس مي دوی او ټوپک ټوله نيولی دی. باز خواست غواړم.

کله چې په دې واقعه حاجي صاحب خبر سو، د قومي قرابت او اشنايي په وجه ډېر سخت خوابدی سو. نو ده او مولوي صاحب بهرام خان تصميم ونيوی. چې د دوی روغه

وكي. دوي دواړه د ښار څخه د دوخانې كاريز ته رهي سول. پاته دي نه وي چي دا فاصله تقريباً ۵۰ كيلو متر فاصله ده چې په غرو كې او پر اسانو كيږي، سړک ندی ورغلی.

كله چې دوي هلته ورغله نو په يو دوو ورځو كې ئې د دوی روغه وكړه. خو تاج محمد خان پر دې باندې ټينګ وو چې زموږ اوس دلته ګذاره نه كيږي، كه نن نه وي سبا بيا سره اړوزو. ښه به دا وي چې زموږ جايداد را څخه رانيسې. حاجې صاحب هم د قومي خدمت او اشنايي په اساس د تاج محمد دوی درو سرو وروڼو جايداد رانيوی او دوی ئې د آينده بدی څخه وژغورل.

بيا وروسته حاجي صاحب خپل دوه زامن سره د كډو د هغه د انتظام د پاره ور ولېږل . اغلباً دا وخت ۱۹۴۰ يا ۱۹۳۹ دی متاسفانه بيا دوی هم د محمد اسحاق خان د روش څخه په تنګ سول او نژدې وه چې هغه د تاج محمد خان ددوی واقعه بيا تكرار سي. نو حاجي صاحب دا مصلحت وباله، چې په هر څو چې وي او په هرو شرايطو چې وي دا جايداد بيرته پر محمد اسحاق خان خرڅ او ځان د بدی څخه وژغوري . چنانچه په ارزانه بيع او په ناوړو شرايطو ئې مځكي بېرته پر محمد اسحاق خان خرڅي كړې.



دا چې حاجي صاحب په كوم نيت دا كار كړی وو او څه ورسره وسوه، خورا ژور تاثير ورباندي سوی وو او ده به هميشه ددې واقعې ذكر كاوه.

**دوهمه پېښه**:

هغه داسې وه چې سردار عبدالرشيد خان او سردار عبدالحميد خان د كوهک محمدزو د يوه وخته څخه لا د حاجې صاحب سره پيژندګلوي او دوستانه صميميت درلودی او هميشه به ئې تګ او راتګ سره وو. د دوی په خوښه حاجې صاحب په كوهک كې څه زميندارې هم سره برابره كړه او د سيل او تفريح د پاره به كله كله هلته راتی. خو يوه ورځ پاچا د عبدالحميد خان زوی كور ته ورغی او وې ويل: چې بابا مې وايې زه څه پوروړی سوی يم. دا د رودخانې مځكه خرڅوم. خو پر بل چا مې نه پيرزو كيږي. تې را څخه رانيسه. ځكه دلته د بيګانه سړي سره موږ نه سو چليدلای. ستا سره په خوی ۀ بوی بلد يو.

ده ورته وويل ښه زه به سبا كوهک ته درسم، مځكه به وګورم، كه مې خوښه سوه سودا به سره وكو چې تاسو مجبوريت لری لنډې دا چې حاجي صاحب راغی او هغه مځكه ئې رانيول هم د دوی د قيمت په اساس. درې څلور كاله دغه مځكه د حاجي صاحب په قبضه كې وه چې د رود د غاړې جبه

زاره مځکه وه. ده خواري په وکښه د مځکي حاصلات زيات سوه. وروسته بيا عبدالحميد خان ددغه مځکي پر يوه حصه قبضه وکړه چې دا ځای موږ ندی در باندي خرڅ کړې او موضوع مسلسل د دعوې او د نګلې شکل غوره کاوه. بيا هغه پاچا کور ته ورته راغی او د خپل بابا په قول ئې ورته وويل چې بابا مي وايي دا مځکه بېرته را باندي خرڅه که. ده هم دا مځکه بېرته ورباندي خرڅه کړه او ځان ئې د سره شرابات څخه خلاص کی.

د ماحول څخه د شکايت په ترڅ کې دی وايي: که ما دا مځکه نه وای آباده کړې نو هيڅ خبره نه وه او نه دده ضرورت وو. خو کله چې مي دا مځکه اباده کړه، دده په ستر ګو کې اغزي سوه. په داسي حال کې چې د کوهک محمد زو نوري هم ډيري مځکي درلودې خو د بل آبادېده ئې نه خوښول. دده اعتراض دا وو چې دا خصلت يواځي دوی نه بلکه د کندهار ټوله محيط په دغه تنګ نظری کې ژوند کوي.

دی علاوه کوي، ما چې د کوهک د مځکو خواهش و درلودی، يواځي د عبدالحميد خان او سردار عبدالرشيد خان د اشنايي په سبب وو. او هم مي د عبدالحميد خان د مجبوريت په اساس د زود خانې مځکه رانيوله. خو د دوی د دوستي انعکاس دا وو. ګوره چې د دښمنی انعکاس بې څنګه وي؟



**شرکت زرغون**: اغلباً په ۱۹۴۷، کې ده د کندهار په زرغون شرکت کې د مديره هيئت غړی توب درلودی. علاوه پردې چې په دغه شرکت کې ئې پانګه درلوده، د يوه صاحب نظر په حيث، محمد انور خان لودين چې د شرکت رئيس وو دی په مديره هيئت کي شامل کړی وو او کله به چې کومي رسمي خبري دحکومت او شرکت کېدلې، نو دده احضار به هلته ضروري وو. يوه پلا د شرکت د کار په سلسله کې، کابل ته د عبدالحميد خان زابلي (وزير تجارت) سره د کتو د پاره ولاړی، په دې هيئت کې علاوه پر محمد انور خان اڅکزي خداي بخښلی ميا مغفور هم شامل وو. کله چې دوی کابل ته ورسېدل نو عبدالمجيد خان دوي يوه شپه ميلمانه کړه، په دې ميلمستيا کې غلام فاروق خان وزير داخله ، نجيب الله خان وزير د معارف او د هرات والي هم شامل وه.

حاجي کاکا (حاجي محمد انور خان اڅکزي) د نجيب الله وزير معارف څخه د معارف په باره کې پوښتنه وکړه، داسي معلوميږي چې د افغانستان د معارفو لګښت اکثره پر کابل باندي کيږي. د هيواد و اطرافو ته په څه حق نه ياستی قايل . افغانستان خو تاسو وزيرانو سپک او برباد کی ولي داسي کوی؟ تاسي ئې وينی په کابل کې فاکولتې جوړيږي. هلوکان ئې خارج ته ځي او اعلي تحصيلات ولاس ته راوړې. بيا وزيران کيږي. چې وزيران سي بيا هغه څه کوی، چې د دوی خوښه وي.

نجیب الله وزیر معارف وویل داسي خو نده پېښنه.

حاجي صاحب ورته وویل، زموږ د زمینداور خلګ تر اوسه لامحضي په دې هم نه پوهیږي چي تعلیم و انسان ته ضروري دی چې حاصل ئې کي، په دا ۱۵ کلو کې فقط دغه مو هم ونه کړه. نوري فاکولتې او نور حقوق خو لا پرېږده. هغه ورځ په ۱۹۳۹ کي چې زمینداور د مکتب پر سر یاغي وو، تاسي په دا لس، پنځلس کالو کې د دوی تعلیم نه وکی. بیا چې مو نه وکی، نو ولي لښکر کشي موورباندي وکړه. چې مطیع مو کړه، نو بیا مو ولي مکتبونه نه کړه پکښي جاري. او پر څه مکتبونه لغوه شوه؟ وزیر معارف وویل په زمینداور کې مکتبونه لغوه ندی، معطله دي.

حاجي صاحب: معطله څه معني لري او نه په دې ستا عذر کیږي. حقیقت داسي ندي.

وزیر: نو حقیقت څنګه دی؟ ده ورته وویل چې حقیقت دادی چې دا هیواد قانون نه لري. هر چا چې هر څه وکړه. یو نوم ورباندي کښیږدی، هغه کوي. کله چې په یوه ملک کې قانون نه وي، هلته باید دغسي وسي. په نتیجه کې عبدالمجید خان او غلام فاروق خان هم دده طرفداري وکړه او نجیب الله ئې بې جوابه کی.



وزیر معارف نجیب الله د حاجي صاحب څخه خواهش وکی، چې ته په دې موضوع کې خپل لیکلي پیشنهاد راکه. زه بې د وزیرانو په مجلس کې وړاندي کم. که مکتبونه جاري سوه خوښه او که نه سوه جاري لږ تر لږه د ولایاتو د خلګو آرزو او استدلال خو به ښکاره سي.

ده پر دې باندي مفصل یادداشت او عرضداشت ولیکلی. او هغه د وزیرانو په مجلس کې قرائت هم سو. او بیا دا موضوع صدر اعظم ته هم رسېدلې وه. خو د اثر په لحاظ موضوع په تاریکه کې پاته سوه.

د زرغون شرکت رئیس محمد انور خان لودین، چې په اقتصادي لحاظ یو پوه سړی وو، او د شرکت په وده کې ډېر مؤثر شخصیت وو، وروسته تر څه مدې وفات سو او پر ځای باندي ئې محمد افضل خان لودین دده ورور د رئیس په توګه دهیئت مدیره له خوا وټاکل سو. خو څرنګه چې د محمد افضل حان خپلي تجارتي دندې ډیري وې او شرکت ته ئې دوني توجه نه وه؛ شرکت په تاوان کې سو. او د مدیره هیئت په فیصله شرکت منحل سو. او سهمدارانو ته په لس کې اووه نیمي افغانی ورکړه سوې.

# وېښ ځلميان

یوه ورځ ښاغلي محمد رسول خان پښتون او ښاغلي فیض محمد خان انګار زموږ کور ته راغله . په سراچه (بیټک) کې ئې د حاجي صاحب سره پر عمومي اوضاع خبري کولي. دا زمانه ۱۹۴۶ کال دي. په دې وخت کې میلمنو ماته هدایت راکی چې ته به د کور څخه موږ ته د چایو سرشته وکې. زه په پوه سوم چې څه پټې خبري لري. زه په چایو پسې ولاړم دا زمانه په افغانستا کې داسي وخت دی چې پر سیاسي مسائلو څه ویل او یا په حکومتي چارو کې خبري کول، که څوک په مرګ محکوم نه سي، نو زوروری بندیخانۍ ته دعوت ورکول ضرور وو. زه په پوه سوم چې دوی د ویښ ځلمیانو پر موضوع بږغیږي. ما ځان ناګمان واچوی او د چایو و راوړو ته ولاړم.

زه پخپله د مخه لا د محمد طاهر خان صافي سره چې د تعاوني ډیپو رئیس وو، او د ویښو ځلمو سرګرم غړی وو؛ د ویښ ځلمیانو په حزب کې شامل سوی وم. ما په کور کې چاي یو څه وځنډولې چې دوی په فراغت مجلس وکی. کله چې ورته راغلم دوې و موافقې ته سره رسیدلي وه او چې د ما سره ئې خبري وکړې



ما ورته وویل زه د مخه لا د محمد طاهر خان صافي سره په دې حزب کې شامل سوی یم.

دا ورځ چې حاجي صاحب په ویښ ځلمیتوب کې قبولي وکړه؛ ګمان کوم چې د جون ۱۶ کال ۱۹۴۶ وو. حاجي صاحب په دغو وختو کې د شرکت زرغون د کارو څخه هم فارغ سوی وو. نو په خلاص لاس او په ښه فرصت د ویښ ځلمیانو و ملي چوپړ ته خلاص وو. او بیا ده د مولوي صاحب بهرام خان سره مشوره وکړه. هغه هم خپل شمولیت اعلان کی.

تحریک ورځ په ورځ وده کوله، پر چاپیریال (محیط) غوړېدی او د اولس امیدونه وربانديی تړل کیده. حاجي محمد انور خان په دې دوران کې د حکومت څخه رسماً غوښتني شروع کړې.

یوه عریضه ئې په دې مطالبو و صدر اعظم شا محمود خان ته ولیږله. څرنګه چې عریضه فارسي وه زه یې په پښتو را اړوم.

ښاغلی صدر اعظم صاحب!

په تاریخي لحاظ تاته معلومه ده چې د کندهار خلګو د زمانې سره سم د حکومت او خلګو د قدر وړ خدمتونه کړي دي. نن ورځ چې عصر د تعلیم دی نو دا اولس حق لري چې د تعلیم په زیور اراسته سي. نو ځکه آرزو کوم هغه مکتبونه چې لغوه شوي دي

ببرته دي په کار پیل وکي او هم میعاد دتعلیم باید لږ سي چې هلکان ژر ژر د مکتب څخه فارغ او په خپل کسب و کار لګیا سي چې د نورو د تشویق سبب وګرزي.

**بل خواهش دا دی:** کوم غله ګی چي د عسکرو د ګدام او احتیاطي ګدام په نامه حواله کیږي دا که د نغدو پیسو په شکل حواله سي د ملت د خوشحالي سبب به سي. ځکه په موجوده حال کي غنم تر ګدامو را رسول و ملت ته دو چنده او سه چنده ضرر دی.

**دریم خواهش دادی:** حکام د بیګار څخه ناجائیز فایده اخلي. څرنګه چې دا کار اصولي نه دی نوهیله کیږي چي بیګار دي بالکل ممنوع وګرزي.

**څلورم:** جلب د عسکرو او معابرو د اصولو سره سم نه اجرا کیږي، مثلاً که یو څوک د بیکسي د مجلا مستحق هم وي، تر څو چې دوه زره درې زره افغانی مصرف نه کي، مجلانه سي حاصلولای. د قرار څخه د معلوماتود هر معابر څخه یو زر افغانی غوښتل کیږي. داسي هم سوی دی چې ژوندی شخص په مړي. او حاضر سړی ئې فراري ښودلی وي. په دې باره کې د والاحضرت و خاصي توجه ته ضرورت دی.

**پنځم:** څرنګه چې دملت او حکومت تر منځ کوم ویاند نشته. نه حکومت د ملت په کړو خبر یږي او نه ملت د حکومت په



اوامرو. ځکه نو د ملي تفاهم په خاطرد عصر و زمان تقاضا ده چې مطبوعات دي ازاد سي او ملي اخبارونه دي ډېر سي.

**شپږم:** څرنګه چې د بشري ټولني سم نیمي ښځي جوړوي او د اسلامي احکامو سره سم علم پر نرو او ښځو دواړو باندي فرض دی او مدني جهان هم دغه لار غوره کړې ده؛ نو هیله ده چې د ښځو مکتبونه جاري سي. البته شمولیت د نجونو په مکتب کې باید خوش به رضا وي. ځکه بیله د ښځو د علمیت، ټولنه نه سي اراسته کیدلای.

**اووم:** عام او عادي مامورین باید په ټول افغانستان کې اول باید د خپل ولایت تعلیم یافته مقرر سي او که په خپل ولایت کې دا ضرورت نه پوره کېدی نو د بل ولایت سړي ته باید اجازه ور کړه سي.

په احترام
محمد انور اڅکزی
۱۵ میزان۱۳۲۸ مطابق ۱۹اکتوبر ۱۹۴۹

د پورته عریضې جواب: سپه سالار صدر اعظم داسي لیکی:

د سپه سالار صدر اعظم مکتوب
مورخه ۲۰ برج عقرب۱۳۲۸
عزیزم محمد انور خان اڅکزی!

نامه ارسالي شما که حاکي از احوال سلامتي و خلوصيت تان بود، واصل و مطالعه ګرديد.

اين جانب از حسن نيت و صميميت تان. که به حکومت متبوع خود داريد مسرور شدم. مرام و مقصد حکومت مقدسه تان از ترقي و تعالي وطن و ارامي ملت است. من از خداوند کريم براي شماو عموم مردم که درين راه نيک صرف مساعي نموده و خدمت مي نمايند، مزيداً توفيق خدمت ګزاري را ميخواهم در خاتمه از صحت و خيريت مانرا خاطر جمعي ميدهم.

شاه محمود (دستخط)

دغه رنګه کله چي د پښتونستان موضوع ډيره توده سوه نو حاجي محمد انور خان، د ملکي اصلاحاتو په خاطر دغه لاندي پيشنهاد ور وليږی.

بحضورع، ج، ا، ا، نشان والا حضرت وزير صاحب حربيه و رئيس ګروپ اول!

از آنجا که مسئله پشتونستان و امداد با آن فرض نسبي و وجداني هر فرد افغان و پشتون نژاد است و وظيفهٔ اينها است که در راه رفاه پشتونستان از هيچګونه معاونت ها خود داري نکند، خواه فکري باشد، خواه عملي ، از انرو وجدان و احساسات پشتون خواهي بنده را هم بالنوبه مجبور ساخته تا حديکه فکر قاصرم



رسائي دارد، در زمينه پيش نهار مختصر آتي را بمقصد اصلاحات بحضور والا حضرت تقديم مينمايم:

**الف:** يک رئيس تنظيمه براي ولايت قندهار از زمرهٔ و زرائيکه طرفدار پشتونستان بوده، درد و احساس ترقي نژاد پشتون را داشته باشد؛ مقرر کرده شود. اګر مشوره اين جانب قدر ارزش داشته باشد من جلالتماب محمد کبير خان وزير سابقه فوايد عامه را پيشنهاد ميکنم که از روي تجارب ماضيه يک شخص صاحب تدبير و نقشه بوده باالخصوص بدرد قوم پشتون و پشتونستان مي خورد. و در عين حال رئيس تمامي نقشه جات نهر بغرا، بند کجکي، بند ارغنداب نيز مي باشد. اګر تنظيمات سياسي و حکومتي ولايت قندهار هم برايشان تفويض فرموده شود بهتر تر خواهد بود.

**دويم:** حکومت سپين بولدک بايد بعد از ين بحکومت کلان مبدل و ضمناً قاضي محمد بهرام خان (دردمند) به قضاي محاکمهٔ آن مقرر شود.علاوه حکام همجوار آن که عبارت از حکومات شنکی الي ګرمسير با حاکم خود سپين بولدک ارتباط داشته باشند که تماماً تحت يک نقشهٔ خاص عمليات داشته تا اثر اجتماعي شان بروز يافته و يک جامعهٔ را په حسن اقدامات و اجراآت زيرا اثر کرده بتوانند.

**ب:** بکار انداختن ملت داخلي و کار گرفتن از آن است. بهتر و نخستین ذرایع و وسایل آن تسهیلات و رفاهیت ملت است که مظالم مامورین یگانه باعث یاس و پریشاني انها بوده و مي باشد. پس تجاویز آتي در نظر گرفتن لازمي است.

۱. اندازه و نوع محصولات باید اصولي و بعادت و رواج سابق بوده عرصهٔ معلومي از فواید مازاد صرف نظر شود.

۲. مامورین بالعموم و پیش از پیش در اجراآت و امور محوله مقید و مکلف کرده شوند. و تر تیبات اتخاذ شود که بلا استثناء تعقیب اجراآت شان وقتاً فوقتاً بعمل آمده باشد.

۳. نظریه خویش را فوقاً بحضور والا حضرت محترم عرض داشتم. هر طوریکه مناسب دیده شود. اختیار بحضور تان است. در خاتمه احترامات فایقه

محمد انور اځکزی

**نوټ:** ددې پیشنهاد تاریخ معلوم ندی، او نه د والا حضرت جواب ددې پیشنهاد په باره کې سته. خو دا خبره یقیني ده چې دا پیشنهاد د والاحضرت تر نظر تیر سوی دی.

اوس به نو . دیگر از سر گیریم قصهٔ زلف پریشان را.



کله چې مولوي بهرام صاحب هم په حزب کې را گډ سو نو حزب ښه تره غښتلی سو. په دې وخت کې په ولسي جرگه کې او هم د ښاروالي په انتخاباتو کې ویښ ځلمیانو خپل خپل نماینده گان وړاندي کړه. دا هغه وخت دی چې صدر اعظم محمد هاشم خان د خپلي ناروغی په وجه استعفا کوي او شا محمود خان صدراعظم کیږي. شا محمود خان یو دروغجنه ډموکراسي اعلان کړه چې په هغه کې ملت ته د انتخاباتو حق ور کړه سوي وو. ویښ ځلمیانو هم ددغه حق څخه په استفاده خپل خپل نمائندگان وړاندي کړه چې په دې جمله کې ښاغلی استاد عبدالحي حبیبي صاحب د کندهار څخه او ښاغلی عبدالروف بینوا صاحب د زمینداور له خوا معرفي سو. خود زمیندارو له خوا خبر راغی چې حکمران د پشت رودمحمد رفیق خان محمدزی د بینوا صاحب پر وکالت معترض دی او په انتخاباتو کې لاس وهي د کندهار د ویښو ځلمو کمېټې پر موضوع غونډه وکړه او فیصله وسوه چې باید د صدارت و مقام ته د حکمران د لاس وهني په باره کي خبر ور کړه سي. خو چې دا تلگرام د چا له خوا او د چا په نامه باید صدر اعظم ته مخابره سي؟ څه بې خطره موضوع نه وه. ځکه دا هغه وخت دی چې چا دا جرائت لا نه سو کولای چې په سیاسي مسایلو کې خبري وکي او د حکومت پر کړو باندي نیوکه والا ځای زندان وو. خو حاجي محمد انور خان دا خطر قبول کی: او صدر اعظم ته ئې د پشت رود د حکمران محمد رفیق د لاسه شکایت وکی

چې دوی د بینوا صاحب د کاندید کیدو مخه نیسي او مخل د هغه آزادي کیږي چې په ډموکراسي کي روا او تاسي منظور کړې ده.

څرنګه چې محمد انور خان اڅکزی، د اڅکزو سپین ږیری او د حیثیت سړی وو، نو که حکومت لاس وراچولی واي او بندي کړی ئې وای نو بې تر ګټې تاوان ډیر سوی وو. ځکه په دغه وخت کې د افغانستان اختلافات د پښتونستان او نورو مسایلو پر سر د پاکستان سره ډیري اساسي مرحلې ته رسیدلی وو، دا ډول و یوه سرحدي شخصیت ته لکه محمد انور خان د حکومت لاس اچونه یو غیر مصلحتي کار وو، نو ځکه حکومت دا کار ونه کی او د نرمي څخه ئې کار واخیستی.

د قرارڅخه د عیني شاهدانو کله چې صدر اعظم ته د کندهار له حوضې څخه د زمینداور د انتخاباتو په باره کې دحاجي محمد انور خان اڅکزي شکایت تلګرام رسیږي؛ صدر اعظم حیرانیږي. چیري زمینداور او چیري محمد انور خان اڅکزی؟ داد افغانستان په تاریخ کې شاید لومړی تلګرام وي چې اجتماعي حیثیت ولري. د صدر اعظم حیراني بې ځایه باید نه سي تلقي.

صدر اعظم د کندهار و نائب الحکومه ته امر وکي چې د موضوع تحقیقات وکه او تحقیقات شروع سو. ویلای سو چې د ویښ ځلمیانو او حکومت ښکاره برخورد او اختلاف هم ددغه ځاي څخه پیل کیږي. د حکومتي منابعو له خوا د ویښ ځلمیانو پر ضد



پروپاګنډونه شروع سوه. او هم په دغو ورځو کې د ویښ ځلمو په زړه ډک ملګری ښاغلی محمد ابراهیم خواخوږی صاحب د کندهار نائب الحکومه محمد یونس خان په دې جرم بندي کی چې دی ولوستونکو (متعلمینو) ته د حکومت خلاف تبلیغات کوي.

د خواخوږي صاحب د خلاصون د پاره حاجي صاحب په وارو وارو نائب الحکومه محمد یونس ته ورغی خو فایده ئې ونه کړه. څو ویښ ځلمیان مجبور سوه د والي د لاسه و مرکز ته شکایت وکي. نو یوه دسته ویښ ځلمیان کابل ته ولاړه. په دې وخت کې صدر اعظم شا محمود خان په امریکه کي وو او پر ځاي ئې سردار محمد داود خان کار کوی. د ځلمیانو د شکایت په اساس سردار صاحب محمد یونس خان موقوفه کې او په عوض کې ئې عبدالغني خان مقرر کی. د عبدالغني خان سره سردار محمد داود خان هم کندهار ته راغی او د ویښ ځلمیانو د مشرانو سره ئې پر مسائلو خبري اتري وکړې.

نوی نائب عبدالغني خان یو مکار، دروغجن او فریب کار والي وو. دوی په لومړي سر کي ، د ویښ ځلمیانو سره ښه مخ وړی. یوه مجلۀ ئې د (ورور ږغ) په نامه ویښ ځلمیانو ته منظوره کړه. چې فقط یوه ګڼه ئې چاپ سوه او هم ئې د یوې دیني مدرسې اجازه ور کړه خو دغه ټوله رواداري ئې د یوې منظمي توطئې جز وو او فریب کاري وه.

**ويښ ځلميانو او محمد انور خان بندي کيده**: په ۱۹۱۵ کې غني خان کابل ته ولاړی او د صدر اعظم څخه ئې د ويښ ځلميانو د ګرفتاري امر واخيستی. ځکه چې دا وخت بيا د اولسي جرګې انتخابات کيدونکي دی. دی غواړي چې ويښ ځلميان د صحنې څخه وباسي . او انتخابات دده د خوښي سره سم وکي. نو ئې حاجي محمد انور خان، مولوي بهرام خان، قاضي عبدالصمد خان، حضرت محمد يوسف جان، غلام جيلاني خان، عبدالهادي خان دوي د يوه مجلس د پاره د ورځي پر ۹ بجې و نائب الحکومګی ته ور وغوښتل.

څرنګه چې په دغو شپو کې نائب الحکومه د کابل څخه راغلی وو نو د ځلميانو هم دغه خيال وو، چې د خيالاتو تبادل راسره کوي. انتخابات را روان دي. شايد څه به وايي. دوی په هغه بهاري لباس کې ورغله او په انتظارخانه کي ورته انتظار کوي.

اخر ږغ سو چې والي صاحب راووتی. دوي ټوله ورته را ووتل. چې ګوري يوه ټولی عسکر ولاړ دي. والي و ټولی مشر ته امر وکی چې دغه کسان کابل ته بوزه او رسيد ئې راوړه. او هم ئې محمد انور خان ته وويل تاسو ته چې د خارج څخه پيسې نه راځي. نو تاسي دا مدرسه په کومو پيسوچلوی؟ ده ورته وويل: دا تهمت لګول بالکل غلط او خود ساخته الزام دی چې پر ويښو ځلمو لګول



کيږي او که دا خبره فرضاً موږ ستا د قوله رښتيا هم وبولو نو تر دې خلګو به څوک ښه خلګ وي چې د خارجه څخه پيسې راوړي، په خپل وطن کې يې په معارف خرڅوي. خداي مو دي د هغو کسانو په جمله کې نه شمېري چې د خپل وطن څخه پيسې وړي د نورو په بانکو کې ئې جمع کوی.

وروسته دوی ټوله په يوه سر خلاصي لارى کي واچول شوه او د کندهار و عسکري فرقې ته راوستل سوه او يوه يوه شړۍ ئې د فرقې څخه و دوي ته ورکړه نو د څوارلسو عسکرو، يوه ټولی مشراو د يوه حواله دار په ذريعه يې د کابل پر لور د بنديانو په حيث حرکت وکی. کابل ته په رسېدو سره دوی په نهايت حفاظتي ډول و صدارت ته ورتسليم سوه. په دا دويمه ورځ مدير صاحب محمد نور خان چې هم يو تکړه ويښ ځلمی ؤ په کابل کې . چې د واقعې څخه خبر سو، نو ئې سهار وختي ځان ور ورساوه. په داسي حال کي چې د هيڅا اجازه نه وه چې دوی دي ووينې. محمد انور خان دوی ته ابتدايي ضروريات لکه صابون ، سګريټ او داسي نور ورته را ورسول خو عسکرو دی ډېر ژر وايستی.

په دې سبا تر ډوډۍ خوړلو وروسته محمد انور خان د يوه عسکر په ذريعه وغوښتل سو او په يوه بيله کوټه کې سترنجي اواره وه او دوې شړی ئې ورکړې او دغه دده کوټه سوه. چې ښه تر ډېره

عمره حاجي صاحب په دغه کوټه کې بندي پاته سو. بیا ئې یوه صراحي او یو ګلاس او یوه بدنی سره د یوې بسترې ورته راوړه .

درېمه ورځ د ضبط احوالات (استخباراتو) رئیس ورته راغی او یو ساعت یې پوښتني ځیني کولې. پوښتني ئې دا وې :

**رئیس :** تاسي څه کړي وه چي بندیان سواست؟

**حاجي صاحب :** لکه ته چې په هیڅ نه ئې خبر، موږ هم نه یو خبر.

**رئیس :** بیا هم یو قیاس خو به کولای سې؟

**حاجي صاحب :** تر څه اندازې پورې چې زما قیاس دی، په دغو ورځو کې د ښار خلګو د ښاروالي (بلدیه) څخه شکایت درلودې. خو نائب الحکومه ئې پر عرض غوږ نه نیوی. خلګ مجبور سوه په خرقه شریفه ننوتل، په دې اعتصاب کې موږ یو هم نه پکښې شریک وو او نه مو برخه پکښې اخیستې ده. شاید نائب الحکومه هغه زموږ پر نامه ختم کړې وي. په داسي حال کې چې موږ یوه هم په دې اعتصاب کې برخه نه درلوده. دا اعتصاب د څو سرمایه دارو تحریک وو زموږ د مرام سره ئې هیڅ سمون نه درلودی.

**رئیس :** دا که تاسي کړي هم وي، دا خو څه جرم نه دی. خپل شکایت و یوه ځاي ته رسول څه ګناه نده.



تر دې وروسته رئیس ولاړی او یو څو ورځې وروسته دده د پیره دار په ذریعۀ ورته معلومه سوه، چې دلې په دغه حدودو کې یو بل سپین ږیری هم بندي دي. ده و پیره دار ته یو څو افغانی شیریني ورکړه او هغه د جمعې په ورځ چې نور عسکر نه وه هغه سپین ږیري راوایستی. دا سپین ږیری مولوي صاحب بهرام خان وو. دوی دواړو سره ولیدل. خو د نورو بندیانو په هکله نه وه خبر. په دې وخت کې د خواشینی ډول ډول اوازې خپرېدلې کله به د دوی د مرګ اوازه خپره سوه، کله د کوټه قلفي و غیره دوی په سخته پریشاني اخته وه. په دې ډول درې (۳) میاشتي مولوي صاحب او حاجي صاحب په صدارتي بندیخانه کې بندیان پاته سوه خو دوی دواړه ئې یو د بله جلا کړي وه. وروسته تر درو میاشتو عسکرو هغه او دوی ئې و یوه نامعلوم سمت ته روان کړه. دا لومړی ځل دی چې حاجي صاحب او مولوي صاحب سره یو ځاي کیږي، یو د بله خبري سره کوي او څوک څه نه ورته وایي. مولوي صاحب وویل لکه چې خبره د اسانی و خوا ته روانه سوه. عسکرو دوي د ولایت و قوماندانی ته ورتسلیم کړه . بیا ئې محبس ته راوستل، چې ګورې په محبس کې ئې ټوله ملګري موجود دي.په ټولو خوشحالي ګډه سوه. د مخه تر دې چې دوي وه محبس ته راسي؛ د صدارت یو خاص ایلچي په نامه د غلام محمد، چې محمد زی وو د محمد انور خان او مولوي صاحب بهرام خان سره یوه ناکـــــــــامه

مصاحبه وکړه:

**د حکومت ناکامه هڅه**: هغه وخت چې دوي ئې د نورو ځلمیانو بندیانو څخه را جلا کړي وه، پر دوی باندي سعي وسوه چې ځانونه د ځلمیانو څخه بېل اعلان کي. دوی ته د صدارت له خوا یو خاص ایلچي غلام محمد نامي محمد زي ورغي چې دا اعتراف ځني واخلي، چې زموږ د ویښ ځلمیتوب څخه استعفاء ده او ددې حزب څخه خپله پښیماني اعلان کي او هغه هم په دې دلیل چې اڅکزی او محمدزی خو سره وروڼه دي او دوی هم لکه محمدزي د پاچا قام دی نو د خپل قام په مخالفت د پاچا په مخالفه جبهه کې ولي ولاړ وي؟

خو مولوي بهرام خان او حاجي محمد انور خان په ګډه ورته وویل چې:

موږ خو هم په دغه دلیل په ویښو ځلمو کې شامل سوي یو چې د پاچا قام یو او پاچهي د ظلم وستم څخه وژغورو په هم دغه نیت موږ دلته شرکت کړیدی. د ملت څخه ظلم وستم یوائې د مامورینو په ذریعه نه لیري کیږي کیږي څو د ملت نمایندګان هم ورسره کومک ونه کي.



خو کله چې و صدارت ته دا معلومه سوه چې دا خلک اوښتونکي ندي نو تر دو درو میاشتو وروسته ئې و عمومي محبس ته ور انتقال کړه.

حاجي کاکا د حمل پر یولسمه ۱۳۳۱ هـ ش برابر د ۳۱ مارچ ۱۹۵۲ بندي سو او تر ۲۵ د ثور ۱۳۳۵ هـ ش مطابق د ۱۵ مئ ۱۹۵۶ پوري بندي وو. کله چې کندهار ته د کابل څخه په طیاره کې راورسیدی، نو هوایي میدان ته دده ډېر ملګري او ولسي خلک واستقبال ته ورغلي وو. ده پر میدان د یوه لنډ تقریر په ترڅ کي اعلان وکی چې ((زموږ او د حکومت تر منځ کومه روغه جوړه نده سوې. زموږ د حزب موقف هم هغه دی چي وو.)) د داود خانې په هغه وخت کې د حاجې صاحب دغه وینا د دوهم وار و بندیخانې ته د ورتګ معني درلوده.

ده پخپله د بندیخانې د ژوند په باره کې د خپلو انډیوالانو څخه ښه خاطره نه درلوده خو بندیخانه ئې د هر سړي د پاره په اجتماعي غرض ښه کار بلکه ضروري امر باله. ده به ویل چې ما او خداي په بندیخانه کي سره پیدا کړه. دی مدعي وو چې د انسان شناسي د پاره تر محبس ښه مکتب نشته او هر وار چي سړی بندي کیږي تجربه ئې زیاتیږي او پخپله پخیږي. دی وایي د محبس څخه ویره نده پکار. بلکه باید په ډېر صبر او تحمل د هغه استقبال وکي. په بندیخانه کي تر تصور زیاتي فاییدې لیده سي، که څوک

غواړي چي خپل انسانيت تکميل کي، نو بايد په اجتماعي او ټولنيز خدمت کي د محبس زمينه و ځانته برابره کي.

د حاجي صاحب د ويښ ځلميتوب دوره هم د بنديخانې نه راوتلو و پاي ته رسيږي بلکه پخپله د ويښ ځلميتوب تحريک هم حکومت خفه کړی وو. کله چې د داود خاني دوره شروع کيږي نو ملي نهضتونه هر ځاي په افغانستان کې تر فشار لاندي دي. خو بيا هم ويښ ځلميانو په غير متشکل ډول په ملي او مترقي نهضتو کې برخه اخيسته چې حاجي صاحب ئې په سر کې وو. مثلاً کوم وخت چې په کندهار کې د ښځو نهضت پيل سو، نو د حاجي صاحب کورنی دده په هدايت تر بل هر چا ډيره برخه واخستله او لومړنی هغه ښځي چي په لڅ مخ د تحصيل د پاره راووتلې هغه دده کورنی وه.

حاجي صاحب ولسي دردونه ډير احساسول او د هغه د مداوا د پاره ئې خپل ټول کوښښ کوی او د خپل ځان پروا ئې ددا ډول احساساتو په مقابل کې هيڅ نه درلوده. آن تر دې حده چې د ولسي درد په وجه ئې خپل ژوند هم تر قربان کي. هغه په دې ډول:

څه موده په ګلستان کې د عنايت الله کاريز د خوانينو تر منځ لومړی اختلاف سره پيدا سوی وو. بيا دغه اختلاف په بدي اليش سو. په کندهار کي ده هڅه کوله چې ځان ګلستان ته ورسوي او ګوندي دا روغه وکي. دا دده د ژوند وروستی آرزو وه. هره پلا به چې ده د تګ اراده وکړه هغه به ناروغه سو او مقصد به پاته سو. خو



په ناروغی کې مخ د ګلستان پر لور رهي سو. ګلستان کي ئې ډير کوښښ وکی چې دا روغه وکي خو د خانانو يو فريق دې ته نه ؤ حاضر چې روغه دي وسي . البته بل فريق د حاجي صاحب روغه منله. په هر صورت دا روغه ونه سوه او دی په ګلستان کې سخت ناروغه سو او کندهار ته ئې ځان د کوما په حال کې راورساوه. کله چې زه ورغلم دی په نيمه بې هوشی کي وو او پر لمانځه ولاړ وو. هغه لمونځ چې ئې خلاص کی دستي بيا پر بل لمانځه ودرېدی.

ما ورته وويل آغا اوس دستي دي لمونځ وکی د بل لمانځه وخت لا ندی رارسېدلی.

ده په ډېر خښم راته وويل! بېعقله زما اوس هغه وخت ندی چې پر وخت لمونځ وکم.

دا زما او دده آخرينه وراشه وه چې سره و مو کړه.

وروسته تر يو درو ورځو بيا وفات سو. الله دې مل وي په مخه ئې ښه.

(۱۸۷۶ تر ۱۹۷۱)

# د حاجي کاکا افکار

دده د افکارو تر ټولو لومړی اثر هغه وصیت دي چې دوی د وبا (کولرا) په کال په ګلستان کې کړی وو. په کال ۱۹۲۰ کې په ګلستان کې زوروره وبا پیښه سوه چې تقریباً نیمي کلي ئې سپیره کی. ده هم د شرعي حکم سره یوه وصیت نامه په فارسي ژبه (چې په هغه وخت کې فارسي په ګلستان او پښین کي معمول وه) لیکلې ده چې اغلباً خپل درې لومړني زامن او نور خویش اقارب ئې مخاطب دي چې دادی په لاندي ډول ئې ترجمه کوم:

**اتفاق:** څه ډول کیدای سي چې تاسو خود به خانه متفقه و اوسی؟ او څه ډول ممکنه ده چې ستاسو اتفاق دوامداره سي؟

که څه هم دا خبره صحیح ده چې تقدیر پر تدبیر باندي خاندي. خو دا خبره هم ضروري ده چې دنیاوي امور عموماً د اسبابو مطابق جریان لري. نو ځکه زما په دا لږ تجربه اسباب د اتفاق او د هغه بقا راوړم. دا چې اتفاق څه فایدې لري؛ په دې هر څوک ښه پوهیږي. نو ځکه تضیع د وخت نده لازم.

زه فکر کوم چې اتفاق پر دې راتلای سي چې د بل په مقابل کې د خپلو نفسي خواهشاتو څخه سړی تیر سي. اوتقسیم



د کار د کشر او مشر تر منځ وسي. د کشرانو دا وظیفه ده چې دخپل کار حدود وپیژني او د مشر په کارو کي مداخله ونه کي. که دغه یوشي مراعات سي، نو ډېر مفاهمت راتلای سي.

مشر: باید د خپل فامیل مراعات تر وروڼو زیات ونه کي. یعني په لباس، خوراک او دبازار څخه میوه راوړل او پر خپل اولاد ډېره مینه درلودل. دا ټوله د محبت غیڅې ده.

وړ ده چې خپلو وروڼو او د هغو د عیال ته ترجیح ورکې چې و کشرانو ته کوم دلیل نه وي پاته.

**دویمه خبره:** داده چې د وروڼو د خپلوانو سره لکه خسرخېل او نورو سره باید مشر ښه او حسنه روابط ولري. په دې جمله کې د وروڼو اشنایان او همنیشنان هم شامل دي، په شرط د دې چې دا اشنایان فاسقان او فاجران نه وي. خو کله کله داسي هم پیښیږي چې یو فاسق سړی د چا نیکي کوي نو په دې صورت دغه فاسق هم د تعظیم او احترام وړ دي. خو لازمه ده چې مشر د هغه فاسق سړي د تعلقاتو وجه معلومه کي.

که د اشنایي وجه هغه فسق وي نو قابل د رد دی. او که چیري اراده ئې ښه رسولی وي نو په دې صورت کې د هغه احترام او درناوی ضروري دی.

**دریم :** که کشرانو تعلیم حاصل کی، ضرور باید څلور پنځه کاله ملازمت او نوکري وکي او کوښښ وسي چې تجارتي لاري چاري وپلټي. باید د یوه دوکاندار سره کار وکي. خو نه ددنیا د ګټې د پاره بلکه د تجارتي تجربې د حاصلولو د پاره. د دوکاندار سره کار کول په خپله کومه علاقه کي مناسب ندی، بلکه باید کوښښ وسي چې په هندوستان کې داسي زمینه مساعده سي.

تر ټولو اول د کشرانو تعلیم بیخي ضروري خبره ده ځکه هر څه چې په دنیا کې سته، هغه د علم برکت دی. که علم وو، نوتر تقسیم وروسته به هم ستاسو اتفاق قایم وي.

**دده وصیت**: څرنګه چې هیضه[۶] شروع ده او هیڅوک د خپل نفس خاوند نه دی نو په اختصار سره دا څو خبري د وصیت په توګه خپلو پس مانده ګانو او ماندیني ته کوم:

که څه هم زموږ د واده لږ عمر کیږي او اوس زموږ مینه نیمه خوا ده، خو بیا هم په خپل خیال دا اظهار کوم که زما ماندینه تر عیال د پیدا کیدو وروسته د بل میړه خواهش ولري

[۶]: هیضه. کولرا یا وباء



زما وارثان باید ددې مانع نه سي. زه ددې څخه خوشحاله یم. دادی خدای په دارینو کي خوشحاله لري. که خداي و دې ته زوی یا لور ورکړه او وې غوښتل چې زه بل واده نه کوم؛ نو باید په ژوند کې د دې دونې مراعات وسي چې نور ممکن نه وې. که دا تقسیم وغواړی، تقسیم دي ورکړ سي، هر څه چې غواړي هغه دي ورسره وسي. تعرض دي هیڅ نه پرې کیږي. که دې دا طریقه اختیار کړه او بل میړه یې ونه کی. نو دې ته وړ ده چې په اطاعت کې د خداي تل مشغوله وي. او زما په حق کې د الله تعالي څخه د خیر طلب وکي. شاید په آخرت کي بیا زوجیت په نصیب سي. اوس ځان او اقربا پر خداي (ج) سپارم ، خداي دي وکي چې په آخرت کې یو د بل شفاعت کونکي سو. خدای دي د ټولو ګناهو عفوه را ته وکی.

(فقط نېټه ۲۵ ذوالقعده ۱۳۳۹ محمد انور بقلم خود.

(مطابق د ۱۹۲۰ء)

دی د خپل ژوند په اوایلو کي یو په زړه ډ ک پښتون وو، ځکه کورنی ئې د یوه پښتني بهیر مشری پر غاړه درلوده، او تل ئې په ماحول کې پر دغه سبک خبري اتري کېدې او ده به انتباه ځني اخیسته. خو وروسته تر هغه چې ده تعلیم وکی او قابل د مطالعې

سو؛ نو دی بیا یو مترقي او متقي مسلمان سو، او کرار کرار ئې قومي جذبې ځان و اسلامي جذب ته خالي کی. په اسلامي جزبه کې دی ډیر پر مخ ولاړی، آن تر دې حده چې د ګلستان د عبدالرحمن زو د پیرانو مورید سو او دا د موریدي او پیري سلسله ئې تر ډېره وخته و پا لله. خو سره له دې ده خپل ځان د عصر و زمان د سائنسي شعاعو ونه ژغورلای سو. او ساینتیفیک ډیالکتیک زیات ؤ کم تاثر ورباندي وکی. او دی ئې د روشنفکر و جهان ته راشوه کی. پر قومي او مذهبي امورو ئې د نوي سره کتنه وکړه بلکه کره کتنه ئې وکړه. او د زاړه جهان څخه یې په نوي جهان کې ګام کښېښووی. دا دده د ژوند یو داسي علمي دریځ ؤ چې نه د زاړه جهان څخه جلا سوی وو او نه په نوي جهان کې مدغم سوي وو. چې په علمي اصطلاح دې مقام ته (لا ادریت) وایی.

کله چې دی په سقاوي کي کندهار ته راغی، دي په کندهار کې لومړی روشنفکر وو چې د ملایانو سره یې پر مذهبي مسائلو بحث او مشاجره کوله. ملایانو ده ته د شک په سترګه کتله او ځینو خلکو د (وهابي) ګمان هم ورباندي کوي. دی په خپل فکري سبک کې د مولانا ابوالکلام آزاد (چې د هندوستان مشهور سیاستمدار او مسلمان وو) او د ډاکټر اقبال پیرو وو.ده د مولانا ابوالکلام آزاد د (فاتحې سوره) د اردو څخه په پښتو هم ترجمه کړې وه. او د اقبال اشعار ئې هم وخت ناوخته زمزمه کول.



ده د ملایانو پر دې فکر سخت انتقاد کوي چې و مسلمانانو ته یواځې هغه جهان دی. دده استدلال داسي وو چې ملایان غواړي ددې جهان د زیار کښنی څخه وژغوری او غواړي چې مسلمانان یوازي د هغه جهان د نعمتونو په طمع دا جهان ته ګروهي. په داسي حال کې چــې واقعي مسـلمان باید دارین ولري. هره کمزوري چې و مسلمان ته پردې جهان پیښنه وي، د هغه و جزا ته باید مسلمان په هغه جهان ځان اماده کي. اسلام که واقعي د مسلمانانو او بشریت په خیر یو مذهب وي، نو باید هر خیر هم په دغه اسلام او مسلماني کي وي او که داسي نه وي نو ضروري د مسلمانانو په عمل کې کومه خرابي سته چې هغه د اسلامي احکامو مخالف یو عمل دی. څرنګه چې پر اوسني مسلمانانو باندي په فکري لحاظ ملایان مسلط دي، نو عیب هم په دغو ملایانو کې دی او دا ځکه چې زموږ ملایان د عصري علومو څخه بیخي بېخبره دي. او آتفاقي معلومات هیڅ نه لري. هغه د سعدي علیه رحمه او مولانا رومي افکار دي چې کله په یوه غالب کي لویږي کله په بل کې. هغه کسان چې لوڼې او ښځې ئې ژوندی ښخولې، عالمان بې جادوګران بلل، ډبرو ته بې سجدې کولې، هغه اوس اسمانو ته خیژي د ستورو حالت راوړي. داسي اسلحه جوړوي چې هیڅ دښمن ټیک نه سي ورته کولای. آیا دا و یوه مسلمان ته وړ ده. چې تر خپل سیال دي دوني پاته سي چې بیا سیالي نه سي ورسره کولای؟ ده به ویل داسي معلومیږي چې د

مسلمانانو پر فکري ساحه یوه جامده کلا را ګرزېدلې ده. چې د مسلمان فکر تر هغه کلا د باندي نه سي راوتلای او مسلمانان داسي تلقین سوي دي چې که تر دغه کلا د باندي څوک ووتی، نو هرومرو ئې شرمښان خوري. لکه یو کوچنی چې څوک بیروي چې که تر کوره ووتې نو ئې خلګ غلا کوي.

غیر شرعي عقایدو مسلمانان داسي محصور کړي دي چې اوس بېخي لار ځني ورکه ده.

ده په اوسني وخت کې د اجتهاد ضرورت بیخي اشد باله . او ویل ئې چې مسلمانان د فکري جمود څخه تر هغه وخته نه سي خلاصېدی څو د اجتهاد عمل په اسلام کې شروع نه سي ده د اجتهاد صلاحیت د مصر و جامع ازهر ته ورکاوه.

**دده مسلماني**: ده و خپلو کشرانو ته مسلماني خورا اسانه کړې وه. ویل بې اول ایمان راوړل دي پر یوه خداي (ج)، پر فرشتو، پر رسولانو (ع)، پر کتابو او د آخیرت پر ورځ پر دغو پنځو جزو چي ایمان راوړه سي، سړی مسلمان سو.

بیا د ښه مسلمان کېدو ارکان دادي :



لمونځ پنځه وخته، روژه په کال کې یوه میاشت، زکواة، حج او جهاد.

نور نو سړی اختیار لري چې د خلګو څخه ښه ښه اعمال او فکر زده کې، کوم هغه شی چې بشریت او یا یو انسان ورته اړتیا لرله او د بشري او فردي بهبود سبب ګرزېدی خوښولای او عملي کولای ئې سي. هر څوني چې یو انسان په پورته ایمان او ارکانو مجهز وو، قوي وو، هوښیار؛ هغه هغوني ښه مسلمان دی او که برعکس وو نو هغه چاته پر ځان غور کول پکار دي، خپله اصلاح باید وکي.

**د تعلیم ذوق**: ده و تعلیم ته تر هر څه ډېره توجه درلوده، په ډېره بیا مترقي او عصري تعلیم ته. ده به ویل سړی هغه وخت صحیح مسلمان او انسان جوړېدای سي چې په عصري علومو مجهز وي. که علم نه وي نو مسلماني اوانسانیت دواړه ئې په شک کې دي. هم دغه وجه ده چې ده خپل د فامیل د هر یوه روزنه د وخت سره سم وکړه. اوداسي څوک نه وو پاته چې د مکتب یا سکول تعلیم ئې نه وي کړی. ددې خبري د تصدیق د پاره دده لمسي محمد قاهر جان چې په کوچنیوالی ئې د پلار سایه د سره ایسته

سوی وه یعني یتیم سوی وو، د فاکولتې څخه د فارغ کېدو په کال خپل نیکه ته داسي لیک لیکلی وو:

مهربان نیکه آغا:

ډېر وخت تیر سو، ډیري میاشتي تیري سوې، میاشتي په کلو تبدیل سوې، کلونه هم تیر سوه، نور لاهم را روان او ورپسې تیریږي. ددې وختونو تیریدو وکولای سوای چې زموږ د کورنی کوچنیان را لوي او ځوانان کي. زموږ کوچني کورني ډیره پراخه او په هغې کي زیات پر مخ تګونه او مهم تغیرات را پیدا سوي دي. دا باید ومنو چې یوازي د وخت تېرېدو دا کار نه سوای کولای، بلکه ددې کورنی اوسنی ټول تغیرات او پر مخ تګونه ستاسو د ښه پلان، مادي او معنوي مرستو نتیجه ده. ددې د ثبوت د پاره ویلای سم چې ستاسو معنوي کومک وکولای سوای چې زموږ د کورنی ټوله نجوني او ښځي د کندهار په هغو پخوانیو ډیرو بدو شرایطو کې با سواده کړې. ستاسو مادي کومک وکولای سوای چې ددې کورنی د یتیمانو او بې سرپرستو ژوند ور تامین کی. بالاخره ستاسو پخوانی سیاسي فعالیتونو وکولای سوای چې زموږ په کورنی کي د فکر آزادي او نوی سیاسي شعور را پیدا کي. موږ ددې کورنی ټوله منسوبین ستاسو د هغو ارزوګانو چې تر سره سوي دي؛ د هغو تبریک درته وایو او ځیني هغه سیاسي ارزوګاني چې نه دي ترسره سوې، موږ ټوله د هم هغو ارزوګانو د پوره کولو او اجرا د پاره په یو لاس او اتحاد مـــلا



ترړو، البته په نوي شکل.

په تعلیم کې د حاجي کاکا نظر داسي وو چې د عصري او سانټیفک تعلیم ضرورت په اوسنی وخت تر نرو و ښځو ته ډیر دي. دا چې په توله نړی کې په ډیره بیا په اسلامي نړی کې ښځي بې واکه سوی دی، ددې پړه ئې پر نرو باندي اچوله او مسلمانان ئې پر دې خبره پړه او ګناهګاره بلل.

**پښتانه مسلمانان**: دده نظر داسي وو چې بالعموم پښتانه تر اوسه لا پوره مسلمانان سوی ندی. دوي تر اوسه پوري لا اول پښتانه دي بیا مسلمانان او د پښتنوالي و رسم و رواج ته ئې اسلامي جامه ور اغوستې ده. لکه:

و تعلیمي چارو ته د اسلامي احکامو په چوکاټ کې توجه نه لري. د ښځو د لڅ مخي په برخه کې تنګ نظره دي. د پیسو په ګټه کي افراطي بڼه لري او کله کله خواحکام هم تر پښو لاندي کوي.

**ژوندون د امتحان صحنه ده**: دې جهان ته ده د امتحان ځای وایه. ده به ویل انسان ته په ژوند کې ډول ډول واقعات ور پېښیږي.

هره واقعه د عبرت او درس اخیستلو ده. او په عین حال کې پر مقدر باندي شکر او صبر کول دي. شکر او صبر د بزدلي او بې وسي علامه نده بلکه د مزاج استقلال ښیي. ناشکري او بې صبري د طبیعت کمزوري او عدم ثبات ښکاره کوي. په داسي حال کې چې مسلمان نباید یو ډول د ډولو کمزوری ولري. هره کمزوري که مادي وي که معنوي مسلمان ته نه ښایي او ضعف د ایمان ځني ښکاره کیږي.

مسلمان چې هر عمل کوي باید د خدای حضور (ج) په نظر کې ولري. ځکه هغه ممتحن او حساب اخستونکی دی. حاجي صاحب وایي کله چې زه د ویښ ځلمیانو په سیاسي تحریک کې بندي سوم، نو د بند او محبس کیفیت د آزادي دنیا څخه بېخي بیل وو او که زه دا ووایم، چې ما او خدای (ج) هم هلته سره پیدا کړه؛ ډیره بیځایه خبره به مي نه وي کړې.

د آزادی په وخت کې د متفرقو شغلو او دندو په وجه ذهن د انسان سره پاشلی وي، او د انسان زړه یکسوي او مرکزیت نه پیدا کوي چې د الله تعالي پر قدرتو، دده پر حکمت او دده پر شان فکر و کي او مشغولا د زړه ورته متوجه سي. ځکه نو ده و هر سړي ته په ژوند کې یوه پلا و بندیخانې ته تګ ضرور باله. ده ویل داسي ایسي چې په آزاد ژوند کې دسړي پر زړه لکه توره پرده چې غوړېدلې وي؛ حقایق ئې تر شا کړي وي. خو محبس یو داسي ځای دی چې سړی او خدای سره پیدا کولای سي. ځکه بل هیڅ دنیاوي حائل په منځ کې نه وي.د



انسان شناسي د پاره تر محبس ښه مکتب نسته او هر وار چې سړی بندي کیږي تجربه ئې زیاتیږي او پخپله هم پخیږي. د محبس څخه بیره نده پکار، بلکه باید په ډېر صبر او تحمل د هغه استقبال وکي. په بندیخانه کې تر تصور زیاتي فایدې لیده سي. که څوک غواړي چي خپل انسانیت تکمیل کي، نو وړ ده چې په اجتماعي او ټولنیز خدمت کې د محبس زمینه و ځان ته برابره کي. په محبس کي به کله چې لمونځ کیدی او د فاتحې سوره به لوستل کېده؛ دی وایي ما به دا قرائت د زړه په ژورو اړخو کې مطالعه کاوه. ددغو آیاتو حکمت او اسرار به مي پلټې او فکر به مي پکښې کاوه.

دده په فکر د فاتحې سوره د انساني فکر د پاره ډیره لویه خزانه ده. یو وخت ما دده سره د سوره فاتحې د تفسیر یو کچنوټې کتابچه چې دده په لیک لیکل سوې وه ولیده، چې په حدودو کې د ۳۲ یا ۳۵ صفحو لیکل سوې وه.

**خوشحالي**: هغه خلګ چې خوشحالي د ژوند په مال و متاع کي لټوي داسي مثال لري لکه په ژړي (سراب) کې چې څوک او به لټوي. په دې کي شک نسته چي خوشحالي حاصلول د بشري ټولني تر ټولو لویه آرزو ده. خو دا په مال و متاع لاس ته نه راځي. ځکه موږ وینو چې د ډېر دولت خاوندان عموماً ډیر پریشانه وي. خو بر

عکس ډیر مسکینان مو لیدلي دي چې ډېر خوشحاله وي. دده په خیال خوشحالي دوه اړخه لري. یو په ټولنیز توګه خوشحالي ده. او بل ځانګړې خوشحالتیا.

هغه خوشحالي چې په ټولنیز ډول و لاس ته راځي :په امنیت، مترقي قانون، ټولنیزو سیاسي حقوقو و غیره حاصلیږي. خو ځانګړې خوشحالي په قناعت، صبر و غیره لاس ته راځي.

نو په دې لحاظ ده استدلال کاوه، څرنګه چې خوشحالتیا په اجتماعي توګه په کامل امنیت اړه لري نو هر سړی ته لازمه ده چې په آن واحد کې هم د امنیت د پاره اجتماعي چوپړ ته چمتو وي او هم د صبر و قناعت د پاره د اسلامي احکامو و اطاعت ته.

یا په بله توګه خوشحاله انسان هغه دی چې صحیح مسلمان او د ټولني په خدمت کي ولاړ وي. ده علامه سید جمال الدین افغاني خوشحاله شخصیت باله. که څه هم په ستر ګو در بدره ایسي.

**ښېرا او دعا**: ده به ویل د دعا او ښېرا تر شا که قوت عمل موجود وي هغه دعا او ښېرا مستجابه کیداي سي او که محض غوښتنه وي، دې ته باید استغاثه وویل سي، نه دعا او ښېرا. او استفاثه او شکایت عموماً هغه کسان کوي چې قوت عمل ئې پای ته رسېدلی وي او د ډېر مجبوریت پر اساس ښېرا او دعا کوي، لکه معذوره خلګ، کونډېني او



کوچني یتیمان. نو وړ ده چې ددغو مجبورو کسانو تر شا د مقتدرو خلګو قوت عمل موجود وي چې د هغودعا او ښېرا مستجابه سي. ځکه په اسلام کې مسکینان پر مقتدرو خلګو حق لري چې د دوی هغه احتیاجات چې د دوی د ښېرا او دعا سبب کیږي ور رفع کي. د مسکینانو دا حق پر چارواکو (حکومتي منابع) هم عاید دي.

دده پر دغه ډول استدلال باندي به اکثره ابتدایي ملایان مشتعل کیده او دا بې نه خوښوله خو ځینو بیا دده طرفداري کوله.

**طرز د حکومت**: کوم هغه وخت چې د کابله څخه څو وزیران کندهار ته راغلي وه. او د ویښ ځلمیانو کړه (عمل) ئې معاینه کول نو ده د یوه داسي حکومت غوښتنه وکړه، لکه حضرت ابوبکر صدیق (رض) چې په خلافت کې هغه طریقه غوره کړې وه. ده هغه خطبه عیناً ور ته ولوستل. حضرت ابوبکر صدیق وروسته تر هغه چې د خلافت بیعت ئې واخیستی، و اولس ته داسي خطاب و کړ :

زما وروڼو! دادی پر تاسو باندي د حکومت کولوخدمت ما ته راسپارل کیږي که مووليدل چې زه خپلي وظيفي په ښه ډول و سر ته رسوم، زما ملګري و کی او که کومه خطا راڅخه وسي نو ومي ترټی. د حکومت و ذمه وار سړي ته رښتیا ویل د عبادت جز و شمیرل کیږي او درواغ د حقیقت پټیده دي.

او د خداي د حکم څخه نافرماني ګناه ده چې څوک ئې کوي. زورور او کمزوری دواړه زما په نظر کې مساوي دي. او زه به د عدل قانون ستاسو تر منځ په یوه شان عملي کم. که مو هر وخت ولیدل چې ما د خداي (ج) او د رسول (ص) د حکم څخه سرغړونه کړې ده؛ هغه وخت تاسي زما د اطاعت کولو څخه ازاد یاستی.

حاجي صاحب پورته خطبه د حضرت ابوبکر صدیق(رض) و وزیرانو ته واوروله او ورته وې ویل چې ویښ ځلمیان داسي حکومت غواړي چې و ملت ته د قران او حدیث په رڼا کي او د پورته خطبې په شان ذمه واره وي.

**انسانیت**: ده به ویل انسانیت یواځې عبادت نه دی لکه دا ځیني خلګ چې ورته جوړېدلی دي. بلکه انسانیت علاوه پر عباداتو، ټولنیز خدمت ته هم ضرورت لري، یعني په عبادت اخلاقي کورونه خپل کیږي او په ټولنیز چوپړ، و سیاست ته سړی ورشوه کیږي. انسان که د یوې خوا څخه دا ضرورت لري چې د خدایه څخه غافله نه سي، د بلي خوا دا ضرورت هم ورته سته چې د خپل نفس څخه لیري نه سي. یعني نفسي خواهشات پر غالب نه سي. دا دوه ضرورته په اوسني زمانه کې تر هر وخت زیات د توجه وړ



دی. ځکه سائنس کوښښ کوي چې په دغو دواړو پدیدو کې رخنه پیدا کي. و دې خبري ته باید تاسو جدي توجه ولری چې واقعي سائنس دا کار نه کوي. خو داسي چې کیږي، ددې وجه داده چې ملایان او نا عاقبت سنجه پیرانو خلګ د طبیعي ازادۍ څخه د مذهب په نانه محروم کړي دي. نوی نسل آزادی غواړي او د مذهبي اختناق څخه خلاصون. څرنګه چې مذهب د ځینو ناپوهو کسانو په ذریعه محصور دی نو ځکه د وخت روشنفکرانو بغاوت کړی دی. او دا په اسلامي انسانیت کې تر ټولو لویه خطره ده. او هم پر دغه اساس دی وایي چې خبرو ته باید لار ورکړه سي او د اجتهاد لار باید خلاصه سي او هم دا صلاحیت باید د مصر و جامع ازهر ته وروسپارل سي.

**سیاسي رژیم**: ده دافغانستان د پاره تر ټولو ښه رژیم شاهي مشروطه بلله. د افغانستان د پاره جمهوریت ده نه خوښاوه. ده به ویل چې دا ولس د احمد شاه بابا اهسته، په استبدادي او مطلق العناني رژیم کي راغلی دی. اوس که یو دم جمهوري نظام راسي نو نه برسر اقتدار حکومتي مامورین ورسره پوه دي چې څه وکي او نه ولس. نو په دې لحاظ شاهي مشروطه د افغانستان د پاره په اوسني وخت کي تر هر رژیم ښه نظام دی. په دې نظام کې د رئیس دولت او ملت په ذریعه صدراعظم، انتخابیږي صدر اعظم

تر ډیری اندازې اختیارات لرلی سي. مطبوعات هم تر یوې اندازې ازاد وي. دغه رنګه عدلیه هم تر یوې اندازې د اختیاراتو خاونده وي. خو عسکري قومنده د رئیس دولت تر اداري لاندي وي چې د طغیان په وخت کې د امنیت د پاره کار ځني واخیستل شي.

اصل موضوع دده په نظر کې د سیاسي رژیم څرنګوالی نه وو بلکه دده نظر لومړی پر ولس وو چې ولس په علمي، اقتصادي لحاظ ځوني بیداره دی. بیا د ولس پر سویه د سیاسي رژیم و تغیر ته قایل وو. خو په هر صورت تر شاهي مشروطه نه تیرېدی. دده استدلال وو، چې ملي آزادي که د مطبوعاتو وي، که ده احزابو تر څو ملي علمي سویه اندازه سوې نه وي، ورکول ئې زهر قاتل دي. البته د علمي سویې سره سم ملي آزادیاني د ملت حق دی. لکه و کوچني ته چي څوک تیره چاقو په لاس نه ورکوي چې بیا ځان یا بل خوږ وي دغه ډول ناپوه ملت ته توپ او ټانک باید په لاس ورنکړه سي.

**ملي وحدت او اتفاق**: دا خبره هر څوک کوي چې وحدت او اتفاق که په ملي کچه وي او که په ځانګړې توګه خلګ ضرورت ورته لري او هر څوک ئې په طلب پسې سرګردان دی. خو د اتفاق چوغکه په لاس نه ورځي. ځانګړي خلګ، ټبرونه، ولسونه ورپسې لا لهانده ګرزي.



خو ددې څخه غافله دي چي هیڅ اتحاد او اتفاق تر هغه وخته ناممکنه دي، چې خپل تر شا اغراض او مقاصد ونه لري چې سبب د اتفاق سي. اتحاد او وحدت تل و یوه سیاسي غرض او مقصد ته ضرورت لري چې بېله دې اتحاد امکان نه لري.

هم دغه وجه ده کله چې یو ټبر د بل قوم سره په بدي اخته سي او یا پر ولس د بل ولس تیری وسي نو دا ټبرونه او ولسونه په کامل اتفاق د دښمن دفع کوي. او کوم وخت چې د دفاع ضرورت ختم سي، نو بیا هغه آش هغه کاسه وي.

حاجي صاحب دا خبره د اڅکزو په یوه مجلس کې هغه وخت وکړه، چې دوی د سپین بولدک قاضي غوښت چي اڅکزي مقرر سي. اغلباً دا کال ۱۹۴۹ وو.

**طبیعي قانون او اسلام**: ده طبیعي قوانین او اسلام دوه بېل شي نه بلل، بلکه ویل بې چې الله تعالي اول دا کائینات خلق کړه او هر شي ته ئې خپل خواص ورکړه. هائیدروجن ئې په خپل خاصیت خلق کې اوکسیجن ئې په خپل خاصیت. دغه رنګه موسمونه ئې پر خپلو خواصو اود جهان و هري ذرې ته ئې خاصیتونه ورکړه. او انسان ئې ورته راولیږی، بیا ئې انسان ته عقل ورکی، د تمیز قدرت ئې ورکی. و شیانو ته ئې ډول ډول خاصیتونه ورکړه، د انساني علم سره سم په

هر وخت کې مذهبونه نازل سوه. هره مرحله چې به انسان پی کړ، نو د علمي استعداد سره سم به بل مترقي مذهب ورته نازل سو. او تر یو لک څلیرویشت زرو زیات وکم پیغمبرانو د بشریت رهبري وکړه. څو چې انسانیت تکمیل سو او آخیر الزمان پیغمبر حضرت محمد(ص) راغی اود اسلام بنیان ګذاري وسوه.

په صدر کې د اسلام د خلګو فکرونه آزاد وه، په طبي شیانو کې ئې خواص پلټل، ساعت ئې جوړاوه. په نجوم کې ئې پلټني کولې. نوی ستوري ئې کشفول. د وړي څخه ئې کراسته جوړوله. خو کرار کرار په مسلمانانو کې د فکر دروازې بندي سوې، استبدادي رژیمونه غالب سوه. مذهب د آمرانو د مقاصدو د پاره په کار ولویدی. د مسلمانانو څخه د طبیعي پلټنو قوت سلب سو. او که به چا دا کار کاوه هغه به تهدید کېدی او جزا بې لیدله.

د طبیعي پلټنو دا خاصیت کفارو خپل کی، سپوږمۍ ته وختل، اتم ئې جوړ کې، صنعت او زراعت ته ئې وده ورکړه، خپل ولس ئې په نس موړ، په کالو پټ او په صحت ښاد کی.

دا کار باید مسلمانانو کړی وای، ځکه د بشریت پر کامل شکل او آخیرنی ډول نازل سوی وو. خودا کار دوی ونه کی. نو آیا د نونسم او شلم قرن مسلمانان به ددې جرم جواب په هغه جهان وویلای سي؟



دا وو دده نظر.

**شرم و حیا**: هغه عملونه چې په رواج کې او یا په مذهبي (نهي) کې شامل وي، د هغه په مقابل کي حاجي کاکا د وني حساسیت درلود چې د هغو بدوکارو ذکر بې لا نه سو کولای. او حیا دوني ور باندي غالبه وه چې که بې دا ډول خبره واوریده، نو بې فکر دوني پریشانه سو، چې په هغه شپه به خوب نه ورتی او هغه داسي:

ده د خپل کور په شاوخواکي څو کورونه د کرایې جوړ کړې وه، چې کرایه داران به پکښې اوسېدل. یوه ورځ دا کرایه دارانو د یوه کور والا څخه شکایت وکی چې په دې کور کې(زنکه بازي) کیږي، کرایه دارانو ده ته شکایت وکی، چې دا سړی وباسي.

مګر پرده حیا دوني غالبه وه، چې وزنکه باز ته ده دانه سو ویلای، چې خلګ وایي دی زنکه بازي کوي ووزه! نو ئې زه ور وغوښتم او اړخ ئې را وګرزوې، ویل (سردار) ته ووایه چې دا کور ایله که ولاړ سه. ما ورته وویل ولي څه پیښه ده؟

حاجي صاحب: خلګ خو له ځني وهي.

ما ورته وویل: په دې خونو سردار نه قانع کیږي چې خلګ خوله وهي ګناه ئې څه ده؟

حاجي صاحب: خورا سور و شين سو، مخ ئې لمبې لمبې سو، شائې راوګرزوله . داسي کرار ئې وويل، دوی وايي دا د ښځو معامله کوي.

دا وه دده د شرم او حيا يوه څنډه.

خود شرم او حيا په باره کي دده نظر داسي وو چې دائې د ايمان نيمي جزو باله. ده به ويل: هغه څوک چې په بدو افتخار کوي او په علني ډول په ټولنه کې تظاهرپه کوي؛ تر هغه ګناهګار په سلو درجو بدتره دي چې پټه ګناه کوي. دده استدلال وو، څوک چې په پټه ګناه کوي، هغه يوائې د خدای مختورن دي او څوک چې په ټولنه کې په ګناه کولو افتخار کوي؛ هغه د بشري ټولني او د خداي دواړو په مخ کې ګنهګار دي. يوائې د خدای مختور امکان لري چې په هغه جهان وبخښل سي. خود ټولني ګناهګار د ټولني پوروړی دی او د ټولني تر حق خدای نه ور تيريږي.

**مهمان نوازي او بانډار**: کله چې ده د خپلو وروڼو څخه ويش وکی؛ نومالي حيثيت ئې ضعيفه وو، او طبعاً هم دی د ځواني څخه مهمان نوازه نه وو، خو بانډاري وو. که به کله کوم ميلمه ورباندي پيښ سو نو ده به په ډاګه ورته وويل: چې اې ميلمه! که دې ډوډۍ خوړل مقصد وي، نو هلته ورسه، (يعني دده د مشر ورور



عبدالحيم خان کره) او که دي مجلس کول مقصد وي نو کښينه دلې ارمان به دي در وکاږم.

خو بانډار او يارباشي ئې ډېره وه. دا ذوق ئې تقريباً د خپل ژوندتر آخره وساتي. وه ويښ ځلميانو ته ئې په هفته کې يوه ورځ د کچړې ميله ورکوله، چې په ضمن کې به مجلس او غونډه هم وه. په دې توګه د ويښ ځلميانو د هيئت مديره غونډو هره هفته دوام درلودی. د خپلو دوستانو او يارانو سره ئې خطوط روي هم درلوده، چې دا دی د پښين د مشهور عالم او پوه علامه عبدالعلي اخوندزاده د يو ليک نقل دلته راوړم:

**اين گفت و جان سپرد که سقراط ميگذشت**

**دنيا مقام عزت اهل کمال نيست . . . . . . . .**

خان عاليشان، عزت نشان، مودت دستگاه، فرقه مشر محمد انور خان صاحب دام ظله.

انکه ازينجانب خيريت است، عافيت شمايان را علي الدوام مطلوب. از عرصه مديد بر کوايف مزاج و موالفت گستر هيچ اطلاع نيست. مگر قياسات غائبانه خبر ميدهد ، که خاطر تان

عاطر[۷] نخواهد بود، و مایان نیز برین خط و غط پویان و روان هستیم، چون قحط الرجال در اطراف و اکناف عالم هجوم آورده است؛ لهذا اگر ز قسمت و طالع خود نالان و گریان نخواهم بود.

**کــل من تلقاء یشکر دهر**

**لیت شعري هذ مالدنیا لمن**

مگر چونکه فطرت انساني ظلوم و جهول افریده است، لهذا ماضي را فراموش کرده سهواً و خطاً لفظ شکایت زبان زد مي شود. مثل افغاني است:

(دوه پک هغه هم سره ورک) بغیر اشتیاق و حسرت ملاقات مردم دانا دیگر هیچ سانحه وارد دل نمي شود. کاش آنجناب و قاضي صاحب را در سال یکبار دیدمي و دل خود را از دیدار فرحت اثار و گفتار مسرت رفتار خوش و خرم کردمي. فقط مورخه شعبان ۱۳۵۵هـ.

دوست شما – عبدالعلي

(نوټ دا لیک په ۱۹۳۶ کي لیکل سوی دی)

[۷]: عاطر: که څه هم معني د معطره او خوشبو داره لري. خو د اخوندزاده صاحب غرض شاید د لړلي په معني وي.



**دده ظرافت**: دی په طبع کي هم ظریف وو، چې هم ئې په کور کې تر آخره خوش طبعي وساتله اوهم د خپلو یارانو او اشنایانو سره. نې د بل په اخلاقي مسخرو خوابدوله. نې خپله ځوک بې جوابه پرېښووی. تیلي شاه محمد چې یو چاغ سړی وو؛ پر ده یې مسخره وکړه. دده سن په دغه وخت کې ۸۵کاله وو، هغه ورته وویل. حاجي صاحب ته ولي لانه مرې؟

ده ورته وویل ما داسي تا غوندي پنډان ډېر تر مخه کړي دي، بیغمه سه!

په کور کې هم دی تر نګلي او زمخت نه وو. خصوصاً د ما سره ئې کله کله یوه یوه ټوکه درلوده. یو وخت ئې زه و مجلس ته وروغوښتلم او راته وې ویل پر داسپي دي څه نوم ایښی دی. زه داسي خجل وزمه سوم، کرار مي ورته وویل، نوم ئې خانزاده دی.

ده په خورا کړک وخندل او وې ویل. ښه نوم دي پر ایښی دی، زما خوابده وه چې د خان نوم دي پر ایښی دی. خانزاده نودی.

ما داسي کرار ورته وویل: چې خداي مهربان دی لوی به سي.

پر دې باندي مجلس او ده بیا خورا ډېر وخندل.

یو وخت ماته د ۵ زرو افغانیو ضرورت را پیښ سو. نو مي ده ته وویل چې دا پیسې د شپږو میاشتو په پور راکه.

ده ویل ښه ، دی د ر کوم ئې ، خو زه شرطونه لرم .

ما ویل ښه څه شرطونه دي ؟

ده وویل ترڅو چې دغه پیسې را کوې هر سهار به راځې د ریډیو خبرونه به راته وايي . ما ورته وویل ښه دغه سي به کوم .

ده ویل زه زاړه نوټونه در کوم . ته به نوي نزي نوټونه راکوې . ما ورته وه ویل ښه دغه سي به وکم .

ده وویل موږ په میاشتي کي یو وار غنم په ژرنده کې اوړه کوو . ته به په میاشت کې یوه پلا د مزدوره سره تر ژرندي ځې ، چې مزدور زموږ غنم الیش نه کي ، غنم چې اوړه سوه او تر کوره را ورسېدل نو ته رخصت ئې . ما ورته وه ویل ښه ، دا شرط دي هم منم .

ده وویل یه نې در کوم .

ما ورته وویل : ولي خو هر شرط مي دي هم ومنی ، نو اوس ئې ولي نه راکوې ؟

ده وویل : دا هر شرط چې منې ، ددې معني داده چې راکړه دي په خیال کي نسته . خو بیا ئې درې زره افغانی راکړې خونه په پور ، بخششې ئې راکړې .



# دده منتخب اشعار

## چې دده د فکر نماینده ګې هم ځني کیداي سي

د فـــــــنا په خوب بیده وم ، راته ووې چې قم ، ځم ، ځم ،ځم
راغـــــــــلم د فنا څه ، شپه دنیا کې بیر ته ځم ، ځم ، ځم ، ځم

شـــــــــپه تیره سوه سهار سو ، خلګ ټول په کاروبار سو
خـــــــــیال زما هم داسو ، دلې اوسم دلې یم ، ځم ، ځم ، ځم

پـــــــــه تیارى سوم د ځاي او د بستر ،چې څه به خورم
چـــې آن نه وو تیر سوی . عـزرائیل راغي حاکم ، ځم ، ځم ، ځم

ګورم تیاره توره ، پروت په خاورو کي نسکوره نه رفیق ؤ نه غمخوره
تـــنها پاته سوم دالـــــته ، چې بیا به زه نه ځم ، ځم ، ځم ، ځم

د رحـــــم ښخه د مور ئې کړم ، و رحم ته د مځکي آرام نه سوم
بږغ سو چې راوزئ ، اوس حساب درسره کړم ، ځم ،ځم ،ځم ،ځم

راپـــــــــــــــورته سوم له قبره ، چې عالم ټوله روان دی
څـــوک ژاړي ، څوک خوشحال دي ، زه هم ورسره ځم ، ځم ، ځم

په زړه کـــــي پریشان یم ، هم ډېر یم غمجن ، زه به څه کوم
چي عمل د نیکي نشته ، څه حساب ورسره کړم ، ځم ، ځم ، ځم

عبـــــــث عمر پر ما تیر سو ، اوس غمونه پر ما ډېر سو
امـــــید و تکیه نسته کشال کشال چي زه ځم ، ځم ، ځم ، ځم

ومه پـه دې حال ،چې راته وسولو الهام راپه یاد سولو ایمان
چـــې توکل مي پر الله ، هو الرحمن لره ور ځم ، ځم ، ځم ، ځم

ســـــــــوخته اویا کلن دی ، لازیات له دغه هم دی
لـه ژوند مانېی جن دی ، چې پرون راغلم نن ځم ، ځم ، ځم ، ځم



## دده بل منتخب شعر

غـــــــــور ونیسی ملګرو قصه در ته کومه
زه وم چــــــــــیري ، زه را ووتم له کومه

پروت وم په فـــــــنا کي ، قرار بیغمه ومه
راکش ئې کړم په زوره ، د مـــــــور تر حرمه

دلته چې سنبال سوم ،خونین خوشـــــحاله ومه
بیا ئې زه راکش کړم دنیا ته ئې راوســـــتمه

په دنیا کې سوم هوسا ، څه هم ده پـــکښې روڼا
شاوخوا چې ګرزیدم ، وارخطا ضرور زه ومـــه

په فکر کي به تل زه حیران او پریـــــشان وم
هیڅ ئې په اسرار او په مطلب نه پـــــوهیدمه

د چـا ورود ، د چا خروج ، چـــــــا به ژړله
حیات په اضطراب وو ، چې وجود یـمه د کومه؟

هر څه چې کيدله، په ظاهر کې هـــيڅوک نه وه
اجرا را باندي کيږي، مگر هيڅ ونه ويــــــنمه

عمل قبر و قيامت، نتيجه د چا پــــــياد وم
زه تر اوسه معرفت او شخصيت که گـــهيدمه[۸]

چي کش ئې له دنيا کړم، ول څه ځــاي دي دايه دی
په کش کش ئې راوستلم، څو راغلمه تر عدمـــه

په رحم کې د مور پروت زه لـــــــــوئيدمه
په رحم کي د مځکي، ورو ورو زه کـــــميدمه

☆ ☆ ☆ ☆ ☆

[۸]: گهيدل يا گاېدل. د پښين اصطلاح ده يعني خبري کول.



## دا شعرونه هم دده منتخب دي

نه پوهيږم زړه مـــــــــــو ولي فارغ ندی
په ذکـــــــــر د الله کې د الله په فکر ندي

په خـــــوله کې ذکر دالله دی، سر مو ښوري
په زړه کې خردي، يا غوئي يا دنيا ده يا مو مځکه

# دده مقولات

یوه ورځ ده را ته وه ویل ورسه و ښاغلي (پ) ته ووایه، چې تا رښتیا ویلي دي، چې د محمد انور عقیده خرابه سوې ده. پر مسلماني باندي ئې شک دي. ما ورته وویل چې آغا! هغه کله ما ته وایي، چې هو ما ویلي دي او بل دا موضوع دوني څیړل هم زما په نظر سمه نده.

ده راته وویل بیعقله داسي نده. د مخالف سړي انتقاد تر دوست ډیر کره وي او سړی وځان ته ملتفت کوي، دوست سړي غافله کوي او دښمن سړی بیداره کوي، او بل زه خو هم څه ملایکه نه یم. شاید زما په مسلماني کې کوم عیب لیده سوی وي چې دی وایي. نو زه به ځان اصلاح کم، پر ځای ددې چې ځني خوابدی شم.

او بل دا چې ته وایي دی کله ماته وایي چې هو ما ویلي دي! ته نه پوهیږي او تا ته نده معلومه. (چې د بېعقل زړه په خوله کې وي اود هوښیار ژبه په زړه کې.) نو څرنګه چې زموږ تشخیص دادی چې دی یو احساساتي بیعقل سړی دی نو ضرور درته وایي. بیا به پر موضوع سړی غور وکي چې اعتراض ئې معقول دي که یه؟



یوه ورځ موږ په کور کې سره ناست وو. کورنی بانډار مو کړی وو، چا وویل د سرور جان ادوزي پوه دوست، په خطا کې بیخي ډیر تاواني کی او په لکو روپۍ ئې تاوان ور رسوی.

حاجي کاکا داسي په کړکی وخندل (چې دده معمول وو) او ویفرمایل:

صلاح الدین ایوبي څو سوه کاله د مخه ویلي دي:

چې تر بېعقل دوست، هوښیار دښمن ښه دی، دا خبره سطحي خبره نه ده. دا موږ ته راښيئ چې موږ باید د دوست په انتخابېدو کې ځیر ده اوسو. او دقت وکو. دغه رنګه د دښمن و انتقاد ته هم باید دقت وکو او د ځان په حق کې ځني استفاده وکو.

یوه ورځ زه، قاضي عبدالصمد خان، مولوي بهرام خان او حاجي محمد انور خان د کوره څخه راووتلو. زموږ و کور ته نژدې یوه باغچه وه هلته تقریباً ولاړو. دوی خپلي خبري سره کولې او خپل تجارب یې سره تبادله کول. خو حاجي صاحب وفرمایل چې زما تجربه داده چې:

لږ خبري کول حکمت دی. لږ خوړل صحت دی. او لږ خوب کول یا بیدېده عبادت دی.

ما دده دا مقوله یادابنت کړه.

بله ورځ ما د کندهار د ښار د یوه بارسوخه شخصیت په باره کې ورته وویل : چې هغه ته زه پرون ورغلی وم. هغه د خپلو ګزارشاتو په ترڅ کې راته وویل چې حکومت داسي ظلم راسره کوي، هغه فلانکی مځکه چې شرعي قباله په لاس کې لرم د مدعي څخه نه راکوي او نور ډول ډول شکایتونه یې راته وکړه څو آخیر ئې وژړل.

حاجي صاحب د هغه سړي پر حال افسوس څو وک خو اضافه ئې کړه چې :

(هغه اوښکي ډیري قیمتي وې، چې د نورو پر غم وبهیږي.)



# عکسونه او اسنادونه

**د حاجي صاحب د خوښي عکسونه چې دوی دځان سره ساتل.**







هو العزیز

14-3-1971

٦١/٣/١٤











## د حاجي محمد انور خان په سوانح ليکلو کې ما له دغو لاندي اثارو څخه استفاده کړې ده.

۱– تاريخ مختصر افغانستان. از مرحوم پوهاند عبدالحی حبيبي

۲– افغانستان در مسير تاريخ از مير غلام محمد غبار

۳– زما د شخصي مصاحبو او يادداشتو څخه:

دحاجي محمد انور خان، د مولوي صاحب بهرام خان.

۴– د تيموريانو د عبدالغني کاکو او نورو افاقي معلوماتوڅخه چې و لاس ته مې راوړي دي.

۴– د حاجي محمد انور خان د ياداشتو څخه

۵ – پيښليک د خداي بخښلي پوهاند حبيبي صاحب

۶ –پټهان د سر ولف کيرو

This document was created with Win2PDF available at http://www.daneprairie.com.
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use only.